د پوهنې وزارت

پښتو

یوولسم ټولګی

پښتو – یوولسم ټولګی

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت

پښتو

یوولسم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: پښتو

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګې د درسي کتابونو مؤلفین

ایډیټ کوونکي: د پښتو ژبې د ایډیټ ډیپارتمنټ غړي

ټولګی: یوولسم

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هجري شمسي

د چاپ ځای:

چاپخونه:

برېښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلندکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته یې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه یې برخمن کړي یو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپېڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي یې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

شمېره	سرلیکونه	مخ
لومړی لوست	مناجات	۱
دو یم لوست	سیرت النبي ﷺ	۵
دریم لوست	د سولې ارزښت	۱۱
څلورم لوست	ټولنه او نوی نسل	۱۵
پنځم لوست	تشبیه (د بیان علم)	۱۹
شپږم لوست	پیغله ملالی	۲۷
اووم لوست	ډرامه څه ته وایي؟	۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېر	سرليکونه	مخ
اتم لوست	بايزيد روښان	٤١
نهم لوست	په افغانستان کې د مطبوعاتو لنډ بهير	٤٩
لسم لوست	ترکيب او له جملې سره د هغه توپير	٥٧
يوولسم لوست	پښتو قصيده ((شيخ اسعد سوري))	٦٣
دولسم لوست	چاپېريال ساتنه	٧١
ديارلسم لوست	د پښتو ادبياتو دويمه تاريخي دوره	٧٥
څوارلسم لوست	په ټولنيز ژوند کې د ښځو ونډه	٩١
پنځلسم لوست	ژمنه: يوه روزنيزه کيسه	٩٧
شپاړسم لوست	د پښتو ليکنښو سمه کارونه	١٠٣
اووه لسم لوست	قيام الدين خادم	١١١
اتلسم لوست	پښتو ادبي سبکونه	١١٩
نولسم لوست	لور ته د چارلي چاپلين ليک	١٢٥
شلم لوست	نشه يي توکي (هيرويين)	١٣١
يو ويشتم لوست	درواغجنه ونه	١٣٧
دوه ويشتم لوست	ارزاني خويشکی	١٤٥
درويشتم لوست	د معلوليت عوامل	١٥٣
څلور ويشتم لوست	مراد علي صاحبزاده (رح)	١٥٩
پنځه ويشتم لوست	په پښتو ادب کې د مېرمنو ونډه	١٦٧
شپږ ويشتم لوست	يوهان ولفګاګ فون ګويته	١٧٧
اووه ويشتم لوست	د بشري حقونو تاريخچه	١٨٥
اته ويشتم لوست	ادبي معاصر نثر	١٩١
	وييپانګه	٢٠١
	اخځليکونه	٢١١

(c) ketabton.com: The Digital Library

مُناجات

په مخکنیو ټولګیو کې مو د کتاب پیل په شعري ژبه د خدای ﷻ په حمد اوستاینه کاوه. په دې ټولګي کې غواړو دا کتاب خدای ﷻ ته پر مناجاتو پیل کړو.

مُناجات د میم په پېښن لوستل کېږي. له خدای ﷻ څخه، د هغه له ستاینې او شکر سره یوځای، د یوه حاجت د سرته رسېدو او د اړتیاوو د پوره کولو غوښتنه ده. په دې معنا چې له خدای ﷻ سره راز او نیاز، پټې او ورو خبرې کول له مُناجات څخه عبارت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مُناجات په اسلام کې خپل ځانګړی ځای او اوږده مخينه لري. پر خدای جل جلاله مينو صوفيانو او فقيرانو له خپل خدای سره په ډېر عجز او نياز خبرې کړي او له هغه ذات څخه يې د خپلو حاجتونو د پوره کېدو غوښتنې کړي دي. په دې هکله زياتې بېلګې شته. د بيتې نيکه مُناجات د هغې غوره بېلګه ده. بيتې نيکه به ويل:

((لويه خدايه، لويه خدايه!
ستا په مينه په هر ځايه،
غر ولاړ دی درناوی کې،
تولې ژوي په زاری کې،
دلته دي د غرو لمنې،
زمورږ کيږدی دي پکې پلنې،
دا وګړي ډېر کړې خدايه!
لويه خدايه، لويه خدايه!...))

کله چې د مُناجات کلمه واورئ، څه شی در په زړه کېږي؟

لاندې متن د مُناجات يوه بېلګه ده:

الهي، زه څه نه لرم چې تاته يې وړاندې کړم، لاسونه مې تش او سترګې مې تيتې دي. د ګناهونو پېټی مې پر اوږو لا پسې درنديږي. ته په خپل فضل اوکرم زما لاس ونيسه او له دې ډارووونکي او خطرناک ګړنګه مې راوباسه. سترګې مې پر خپل نور روښانه کړه. په زړه کې مې د عقل ډېوه بله کړه. د خلاصون او فلاح لار راوښيه. تاته د منلو او مقبولو کسانو د لارې لاروی مې کړه، له ځانه مې پردی او خپل ځانته مې نژدې کړه.
الهي، کومه ژبه به ستا ثنا ته ورسېدای شي؟ کوم عقل به ستا صفت وکړای شي؟ کوم شکر به ستا له احسان سره برابري وکړای شي؟ کوم بنده به ستا له شان سره لايق ستا عبادت وکړای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربه، ای له ما څخه ماته نژدې او له ما څخه پر ما باندې مهربانه! ... ما وبخښه، له ماسره له خپل کرم نه کار واخله، زما عمل ته مه ګوره، زما تر وسې راباندې بار واچوه، هغسې نه چې زما ترمخه دې پر نورو اچولی وو.(*) زما له شان سره برابره معامله راسره وکړه، زما کړه پرما تاوان او ستا کرم پر ما احسان!

الهي! ته زموږ حال وینې، زموږ بې وسي هم وینې. بې له تا چاته مخ واړوو؟ بې له تا چاته فریاد وکړو او له چا مرسته وغواړو؟ ته مو عرض واخلې او ته مو حال سم کړې!

الهي! موږ ګنهکار یو، موږ شرمسار یو، چاته ورشو؟ له هر باطله بېزار یو. تاته ژاړو، سر په اذکار یو، نه په یو ځلې، بل په وار، وار یو، په سل، سل ځلې، په زړ، زړ وار یو!

الهي! ته مو د رحمت پر اوبو پرېمنځه. الهي! ته مو د غفلت له خوبه راویښ کړه. الهي، که ویښ یو ته مو په سد کړه. الهي! که په سد یو، ته عقل راکړه، ته پوهه راکړه، ته مو هوښیار کړه!

الهي! که ګنهکار یو، ستا ګنهکار یو، ستا رحمت ته سترګې په لار یو، له نورو دروازو بېزار یو!

الهي! موږ ژوندي یو، خو په ژوند نه پوهېږو، ته مو په ژوند پوه کړه، ته مو په ژوند ښاد کړه، ته مو وجدان او ضمیر ویښ کړه. ته مو د عقل سترګې بینا کړه. پر ښو او بدو مو ته اګاه کړه!

الهي ستا دربار ته بیا راغلم، بیا راځم او بیا به راځم، خو لاسونه مې تش دي، په تشو لاسونو راځم. ته مې تش لاسونه بېرته مه لېږه!

د متن لنډیز:

مُناجات د خدای ﷻ یاد او له هغه ذات سره خبرې کول دي. له هغه سره خپل راز شریکول دي. له هغه لوی ذات څخه د خپلو اړتیاوو د پوره کولو غوښتل دي. هغه ته خپله بېوسي څرګندول دي. هغه ته دا ویل دي، چې: ((لاحول و لا قوة الا بالله)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرګندونې

* د بقرې د سورت وروستيو آيتونو: ((لاتَحمِلْ عَلينا اِصْراً كما حَمَلْتَهُ...)) ته اشاره ده.

** لاحول و لا قوة الا بالله، د الله ﷻ (له مرستې پرته) د (ښو) د کولو او د (بدو) د نه کولو هيڅ وس نه لرم. يعنې د الله ﷻ له مرستې پرته له ګناه څخه د مخ ګرځولو او د نيکو کارونو د سرته رسولو وسه نه لرم.

فعاليتونه

١ــ دوه تنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي په وړاندې راشي او د مُناجات په اړه دې خرګندونې وکړي.

٢ــ زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې په خپلو منځونو کې په پورته يوه مُناجات خبرې وکړي، معنا دې خرګنده او د هغو يو تن استازى دې مهم ټکي وليکي او په ټولګي کې دې يې ولولي.

٣ــ درې تنه زده کوونکي دې د ښوونکي په لارښوونه پورته مُناجات په خوږه ژبه د نورو په وړاندې ديکلمه کړي.

٤ــ پنځه تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او ودې وايي چې د ژمي رخصتي يې څنګه تيره کړې ده.

٥ــ څلور تنه نور زده کوونکي دې د روان نوي تعليمي کال په اړه پر خپلو پلانونو وغږيږي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې هڅه وکړي، د پورته مُناجات په څېر څو کرښې مُناجات وليکي او په بله ورځ دې يې په ټولګي کې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام د ستر پيغمبر ﷺ سيرت

د اسلام د ستر پيغمبر حضرت محمدﷺ سيرت د راتلونکو نسلونو روزنې ته خورا مهم دی، مسلمانان د خپل استمرار، دعوت او بقا عوامل په همدې اخلاقو کېويني. د پيغمبر ﷺ اخلاقو ته ډېر ژور پام هغه راز رابرسېره کوي چې د تاريخ د بدلون لامل شو. که څوک د حضرت پيغمبرﷺ سيرت او اخلاقو ته پام وکړي، نو د هغه په دې وينا به پوه شي: ((زه په خپلو لاسونو داسې يو امت روزم چې راتلونکی تاريخ په لاس کې واخلي.)) حضرت پيغمبرﷺ د ناخوالو په وړاندې د زغم او حوصلې، پر حق ټينگار او د نړۍ له لوړو او ژورو سره د مخامخ کېدو پر مهال په استقامت داډ او اطمينان کې ساری نه درلود. په زړه سوي، نرمۍ او بزرگوارۍ کې يې په دې نړۍ کې له موجودو مفاهيمو لوړ ځای درلود. هغه د دې لپاره پيدا شوی و چې پر پېښو او حوادثو بريمن شي؛ انساني نړۍ ته سمون ورکړي؛ انسانانو ته د يوه او واحد خدای جل جلاله د عبادت بلنه ورکړي او خلک سمې لارې ته راوبولي. له دې امله حضرت محمدﷺ تل د بشر په تاريخ کې د الهام منبع او سرچينه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت محمد مصطفیﷺ وروستی پیغمبر دی. هغه د نیکو او غوره اخلاقو یوه نمونه وه. د هغه همدا غوره او نیک صفتونه وو چې د اسلام سپېڅلی دین د نړۍ په گوټ گوټ کې خپور شو. نن د نړۍ په بېلا بېلو هېوادونو کې له یو نیم ملیارد څخه زیات مسلمانان ژوند کوي او ورځ په ورځ دا لړۍ لا پسې پراخېږي. د اسلام ستر پیغمبر د اخلاقو او غوره صفتونو داسې یوه ممتازه څېره وه چې په لیک کې نه ځایېږي. د خلکو زړونه د هغه له درناوۍ ډک دي او ساتل یې د ایمان جزء یا برخه بولي؛ ځکه یې د سر او مال په بیه ساتي.

حضرت محمد مصطفیﷺ یو پیاوړی، نیک خویه، زړه سواند او مهربان شخصیت و. حضرت باري تعالی د اسلام ستر پیغمبر ته فرمایلي دي: ((وَ اِنَّکَ لَعَلٰی خُلُقٍ عظیم.)) په رښتیا چې ته د عظیمو او لوړو اخلاقو خاوند یې. حضرت محمدﷺ فرمایلي دي: ((بعثت لاتمم مکارم الاخلاق))، یعنې زه د دې لپاره گومارل شوی یم چې نېک او غوره اخلاق د بشپړتیا پولې ته ورسوم.

په سیرة النبي کې د اسلام د ستر پیغمبر د صورت او سیرت په اړه راغلي دي. ((نوراني څېره او غوره اخلاق یې درلودل. زړه راکښونکی او ښکلی سړی و. سترگې یې ډېرې تورې، باڼه یې لوړ، وروځې یې کږې او نښتې وې. د چوپتیا په وخت کې به یې وقار څرگند و. که خبرې به یې کولې، نو د سترتوب نښې به پکې څرگندېدې. خوږ ژبی و، ډېرې خبرې یې نه کولې. ونه یې نه ډېره لوړه او نه ډېره ټیټه وه. ملگرو یې ډېر زیات درناوی کاوه. د خبرو پر مهال به ورته ټولو غوږ نیولی وو او د امر پرمهال به یې یو له بل څخه مخکې کېدل. د هغه د امر په سرته رسولو کې به له ځانه تېرېدل. خوا به یې تل له یارانو ډکه وه، نه به یې تندی تریو و او نه به یې د چا عیب لټولو. بښونکی، له زغمه ډک او رښتیا ویونکی و. د وعدې په سرته رسولو کې تر ټولو مخکښ و. په لومړۍ لیدنه کې به یې هر چاته هیبت او پرتم څرگندیده. چا چې به ورسره خبرې کولې، نو په مینه به یې ورسره پیدا کېده... .))

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول اکرمﷺ ډېره فصیحه او بلیغه ژبه درلوده. ډېرې څرګندې، معنا لرونکې او بې تکلفه خبرې یې کولې. د عربي ژبې په ټولو ګړدودونو پوهېده او له هر چاسره به یې د هغه په ګړدود خبرې کولې. په کلمو کې یې رڼایي نغښتې وه. الهي وحې هم په دې کار کې د هغه مرستندویه وه. زغم او حوصله مندي، عفو او د ستونزو او کړاوونو په وړاندې صبر، هغه صفتونه وو چې خدای ﷻ هغه ته ورکړي وو؛ ځکه سره له دې چې حضرت رسول اکرمﷺ ډېر کړاوونه ولیدل، خو بې صبره نشو او د ناپوهانو او جاهلانو د افراط په وړاندې یې له حلم او نرمۍ پرته هېڅکله بل کار و نه کړ.

هر وخت به چې د اسلام د ستر پیغمبر مخې ته دوه کارونه پراته وو، نو ډېر اسانه به یې ترې غوره کاوه، په دې شرط چې ګناه به پکې نغښتې نه وه. هېڅکله یې له چا څخه غچ نه اخیست، مګر داچې شریعت به تر پښو لاندې شوی و. د خدای رسول له قهر او غوسې ډېر لیرې و. حضرت محمدﷺ په ورکړه او سخا کې داسې مقام درلود چې د بل چا وسه ورته نه رسېده. وایي له رسول اکرمﷺ څخه داسې شی نه و غوښتل شوی چې هغه یې په وړاندې ((نه)) ویلي وي. ګران پیغمبر تر ټولو زړور و او تل به په سختو شرایطو کې حاضرېده.

هغسې چې دوستانو او دښمنانو پرې اعتراف کړی دی، حضرت محمدﷺ بخښونکی، پاک لمنی، رښتینی او امین شخصیت و. له پیغمبرۍ د مخه د امین لقب ورکړ شوی و. له اسلام د مخه د جاهلیت په دورې کې د عدل لپاره له هغه څخه مرسته غوښتل کېده. حضرت محمدﷺ تر ټولو متواضع او له لویۍ لیرې و. هغه نه غوښتل د پاچاهانو په څېر یې مخې ته خلك پورته شي. له خپلو اصحابو سره د یوه عادي شخص په توګه کښیناسته. خپل شخصي کارونه به یې په خپله کول؛ جامې به یې په لاس ګنډلې او پیوندولې؛ خپلې میږې یې لوشلې؛ په خپلو وعدو ولاړ و او تل یې له زړه سوي کار اخیست. په معاشرت، ادب او نیکو اخلاقو کې تر ټولو د مخه و. پیغمبر اکرمﷺ بده ژبه نه کاروله، پر چا یې لعنت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایه. په بازار او لارو کې یې په لوړ غږ خبرې نه کولې. بدۍ ته یې په بدۍ ځواب نه ورکاوه، بلکې په عفوې او بخښنې به یې ځوابوله. هېڅکله یې څوك نه پرېښودل چې د درناوي په نامه یې شاته روان شي. په خوړو او جامو کې یې له خپلو خادمانو او لاس لاندې کسانو سره توپیر نه درلود. له اړتیا پرته یې خبرې نه کولې. د هرقوم مشر یې د هغه قوم مشر گاڼه او د هماغه قوم پر مشرۍ یې گومارلو. د نیکۍ قدر یې کاوه او پر هغې یې ټینگار کاوه. له بدۍ یې کرکه کوله. کار یې په ډېر اعتدال سر ته رساوه، اختلاف او مجادله یې نه کوله. نژدې یاران یې تر ټولو غوره خلك وو. هغه ته تر ټولو گران هغه څوك و چې تر نورو زیات له خدایه وېرېده. د هغه چا منزلت یې لوړ گاڼه چې تر نورو یې له خلکو سره زیاته مرسته، همکاري او غمخوري کوله. په مجلسونو کې یې د ځان لپاره کوم ځانگړی ځای نه ټاکه. د خلکو په منځ کې به په یوه خالي ځای کې کښېناسته. ټولو ناستو خلکو ته به یې یو ډول پام کاوه چې په غونډې کې ناست کسان ونه وایي تر هغه ورته بل سړی غوره دی. پیغمبرﷺ په غونډو او مجلسونو کې تر ټولو باوقاره شخصیت و. لاس او پښې یې هرې خوا ته نه غځولې. خندا یې یوازې یوه موسکا وه. خبرې یې له اندازې لړې او ډېرې نه وې.

حضرت پیغمبرﷺ په ډېرو بې نظیرو صفتونو او کمالونو ښکلی شوی و، خدای ښه ادب ورکړی او خطاب یې ورته کړی و: ((و انک لعلی خلق عظیم))

دې اخلاقي ځانگړتیاوو د خلکو زړونه حضرت پیغمبرﷺ ته داسې نژدې کړل؛ داسې د خلکو په زړونو کې محبوب او داسې یو لاربښود ترې جوړ شو چې د قوم سرکشي او غرور یې په نرمۍ بدل او ډلې، ډلې د خدای په دین مشرف شول او نن پېړۍ پېړۍ وروسته د هغه مینه، محبت او درناوی د هر مسلمان په زړه کې ځپې وهي. (صلی الله علیه وسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

نبوي اخلاق په حقيقت کې د پيغمبر اکرمﷺ له رسالت څخه عبارت دي چې هغه يې د وينا، کړنې او تګلارو له لارې بشري ټولنې ته وړاندې او په پايله کې يې د ژوند معيارونه بدل کړل. نيکي او ښه چلند يې د بدۍ او ناوړه چلند پر ځای دود کړ. خلک يې له ظلمت او تيارې څخه رڼايي ته رهنمايي کړل؛ بنده ګان يې د بنده د بنده ګۍ پرځای د واحد خدای بنده ګۍ ته راوبلل. د تاريخ تګلورى يې برابر او سمې لارې ته سيخ کړ او په بشري نړۍ کې يې د ژوند لاره بدله کړه؛ خو په دې ټکي پوهيدل له دې پرته شوني نه دي، تر هغه چې د پيغمبر اکرمﷺ له رسالت څخه د د مخه وخت حالتونه د هغه جناب له رسالت څخه له راوروسته حالت او بدلونونو سره پرتله نشي.

فعاليتونه

۱ـ څو تنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او د حضرت محمدﷺ د غوره اخلاقو په اړه دې دوه، دوه دقيقې وينا وکړي.

۲ـ زده کوونکي دې په پنځو ډلو وويشل شي. هره ډله دې د اسلام پر دين د خلکو د مشرف کېدو د لامل په توګه د حضرت رسول اکرمﷺ د اخلاقو په ارزښت غور وکړي، خپلې موندنې دې تنظيم کړي. د هرې ډلې استازى دې هغه د نورو زده کوونکو په وړاندې ولولي او ټول زده کوونکي دې پرې آزاد بحث وکړي.

۳ـ درې تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او لاندې کلمې دې د متن په مناسبو ځايونو کې وکاروي او نورو ته دې واوروي.

ګناه، ستر، غوره، زړور، پراته، غچ ، آسان، وسه ، تر پښو لاندې ، ګران، نغښتې، ورکړه، غوسې، حاضرېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرکله به چې د اسلام د.... پیغمبر مخې ته دوه کارونه ... وو، نو ډېر .... به یې ترې ... کاوه، په دې شرط چې ... به په کې .... نه وه. هېڅکله یې له چا څخه ... نه اخیست، مگر داچې شریعت به ...... شوی و. د خدای رسول له قهر او.... ډېر لیرې و. حضرت محمدﷺ په ورکړه او سخاکې داسې مقام درلود چې د بل چا ... ورته نه رسېده. ... پیغمبر تر ټولو... و او تل به سختو شرایطو کې .....

٤ـ د محمدﷺ وینا او عمل ته څه وایې؟ دوه تنه زده کوونکي دې پرې خبرې وکړي.

٥ـ که د زده کوونکو په ډله کې د کوم یو نعت یاد وي، د ټولگي په وړاندې دې په خواږه آواز ولولي.

٦ـ درې تنه زده کوونکي دې د ټولگي مخې ته راشي. یو تن دې په متن کې پنځه گونې یاگانې ولټوي او د هغوی اړوندې کلمې دې نورو ټولگیوالو ته ولولي. بل زده کوونکی دې په متن کې ساده بیانیه جملې او دریم تن دې مرکبې جملې پیدا او نورو زده کوونکو ته دې په گوته کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کورونو کې د رسول اکرمﷺ د اخلاقو په اړه لس کرښې مقاله ولیکي او په بله ورځ دې ټولگي ته راوړي.

پاکه عقیده، حیا او عفت، له هېواد سره مینه د ایمان له نښو نښانو څخه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سولې ارزښت

هغسې چې ژوند د کار نوم دی، سوله د ژوند نوم دی. د ژوند لپاره کار اړین دی. که کار نه وي، سړی که ژوندی هم وي، په مړو شمار دی. ژوند او کار یو د بل لازم او ملزوم دي. چېرته چې ژوند وي، هلته کار وي؛ چېرته چې کار وي، هلته ژوند وي. بې له کاره ژوند معنا نه لري. همداسې سوله درواخلئ. سوله د ژوند نوم او ژوند د سولې نوم دی. که سوله نه وي، ژوند تریخ دی. که سوله نه وي ژوند، ژوند ته نه پاتې کېږي. که سوله نه وي، ژوند به څه ارزښت ولري؟ د سولې ارزښت هغه مهال ډېر څرگند دی چې یو ولس په جگړې کې ښکېل وي. د هوسایی په ارزښت هغه مهال انسان پوهېږي چې په کړاو اخته شي.

د یوه سوله ییز ژوند ارزښت په څه شي کې پروت دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوله ډېر پراخ مفهوم لري. سوله د انساني ژوند بنسټ جوړوي. سوله ژوند ته رنګ او خوند ورکوي، خو دا رنګ او خوند هغه مهال سړي ته ځرګندېږي چې سوله نه وي. سوله له دوو تنو څخه نيولې، بيا د کورنۍ د غړو، قومونو او ولسونو او په پای کې د يوه هېواد دننه د استوګنو خلکو تر منځ د هغوی په ورځني ژوند اغيز کوي. که دوه تنه په خپل منځ کې پر يوه شي خوابدي شي، نو اړيکي يې شلېږي؛ که په يوې کورنۍ کې د پلار او مور، د مور او پلار او اولادونو يا د اولادونو په خپلمنځي اړيکو کې تاوتريخوالی راشي، ژوند يې تريخېږي.

که يو ولس په خپل منځ کې يو تر بله په جنګ جګړو بوخت وي، يا پر يوه خپلواک هېواد باندې پردي، بريد او يرغل وکړي، نو عادي او ورځنۍ اړيکي يې شلېږي او ژوند يې له ستونزو سره مخامخ کېږي.

په پورته ټولو حالاتو کې د سولې نشتوالی ورځنی ژوند له خنډونو سره مخامخ کوي او د پرمختګ او سوکالۍ مخه يې نيسي. د جګړې په شرايطو کې د ژوند څرخ په ټپه درېږي. خلک وژل کېږي؛ ټپي کېږي؛ نيول کېږي؛ اسيران کېږي؛ بېکوره کېږي؛ مهاجرت او کډوالۍ ته اړايستل کېږي؛ کورونه او ښارونه په کنډوالو اوړي؛ کرنيزې ځمکې شاړېږي؛ د اوبه خور بندونه ويجاړېږي؛ ښوونځي تړل کېږي؛ پلرونه د زامنو جنازې خاورو ته سپاري او زاړه په ځوانانو نولېږي؛ روغتونونه ناروغانو اوټپيانو ته نشي رسېدای. همداسې بې شمېره نورې ناخوالې دروا‌خلېږي.

وګورئ، په جګړې کې ښکيليدل او له سولې لاس په سر کېدل انسان له خومره ستر ناتار او کړاو سره مخامخ کوي. کله چې خولې وتړل شي، عقل او پوهه مغلوبه شي او پر ځای يې يو او بل د ټوپک د شپېليو په خولو خبرې پيل کړي، نو ناخوالې زېږي او رڼا پر تورتم بدلېږي.

داسې کوم کار او مشکل نشته چې په خبرو حل نشي، خو که د خبرو د اورېدو لپاره غوږونه کاڼه نشي او ناپوهي پر پوهې برلاسې نشي، ځاني ګټې پر ملي ګټو لوړې ونه ګڼل شي، که د ځان تر څنګ نور هم ومنل شي، که زغم او ځان تېرېدنې ته د يوه بنيادي اصل په سترګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکتل شي، نو داسې کومه ستونزه او ربړه نه پاتې کېږي چې حل او هواره نشي.
سخ پر هغه چا، پر هغه قوم، ولس او پر هغه پرګنو چې ځان تر نورو لوړ نه ګڼي، د هر چا پوله او برید پېژني؛ سوله پر تاوتریخوالي، جنګ او جګړې غوره بولي؛ ټولې ربړې او ستونزې د جرګو پر ټغر هواروي.

د متن لنډیز:

سوله انساني اړتیا ده. سوله ژوند ته وايي. که سوله نه وي، ژوند تریخ وي. جګړه د شخړو او لانجو د حل لاره نه ده. شخړې په خبرو او جرګو هوارېږي. افغانان له جرګو سره لرغونې بلدتیا لري. خپل ټول تاوتریخوالی په خبرو لیرې کوي. پوهان او هوښیاران د ټویک د شپېلیو پر ځای په خولو خبرې کوي. د لاس غوټه په لاس پرانیزي. خپلو اولادونو او ماشومانو ته نیک او خوږ میراث پرېږدي. خپل هېواد او خپله خاوره ورته ګرانه وي. خپلو ځانونو او خپلو هېوادوالو ته د یو هوسا او سوکاله ژوند په لټه کې وي. هڅه کوي، خپل هېواد د سیمې او نړۍ د هېوادونو په لیکه کې ودروي. دا ټول هغه مهال شوني دي چې خپلمنځي دښمنۍ او تربګنۍ شاته پرېښودل شي او ټول په دې وینا عمل وکړي چې:
که زه وایم چې زه یم او ته وایې چې زه یم؛نه به ته یې نه به زه یم.
خو که زه وایم چې ته یې او ته وایې چې ته یې؛ هم به ته یې هم به زه یم.

فعالیتونه

۱ــ پنځه تنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او دوه، دوه دقیقې دې د سولې په اړه خبرې وکړي.
۲ــ زده کوونکي دې پر پنځو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې پر لاندې ټکو خبرې اترې وکړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- سوله څنګه ټینګیږي؟
- د سولې په ټینګولو کې کومو اصولو ته باید پام وشي؟
- د سولې په اړه د خبرو اترو اساسي ټکي کوم دي؟

هره ډله دې په لنډ ډول خپل نظر ولیکي او د هرې ډلې یو تن استازی دې په وار سره د ټولګي پر وړاندې خبرې وکړي. په پای کې دې پوښتنو ته ځوابونه ووایي او له خپلو نظریو څخه دې دفاع وکړي.

۳ـ هر زده کوونکی دې په ځانګړي ډول له لاندې کلمو څخه یو متن جوړ کړي او د نورو په وړاندې دې ولولي:

سوله، انساني، ژوند، بنسټ، سوله، رنګ او خوند، خوابدي، اړیکې، شلېدلي، ژوند، ترخیږي.

٤ـ دوه تنه زده کوونکي دې د نورو په استازیتوب د ټولګي مخې ته راشي. یو له بل څخه دې د سولې په اړه پوښتنې وکړي او ځوابونه دې واوري. نور ټولګیوال دې ورته غوږ شي. په پای کې دې د پوښتنو او ځوابونو په اړه خپل نظر څرګند کړي.

٥ـ لاندې اصطلاح ګانې او عبارتونه څه معنا لري؟ خبرې پرې وکړئ او که داسې نورې اصطلاح ګانې او عبارتونه درته یاد وي، ویې وایئ:

د لاس غوټه په خولې پرانیستل؛ د ټوپک په شپېلۍ خبرې کول؛ د ژوند خرخ په ټپه درېدل، لاس په سر کېدل.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په هېواد کې د سولې او امنیت د ټینګولو په اړه خپل وړاندیزونه او نظریې ولیکي او بله ورځ دې په ټولګي کې د نورو په وړاندې ولولي.

جګړه د هر ولس تدریجي ځان وژنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنه او نوی نسل

هره ټولنه له ماشومانو، پېغلو، ځوانانو او زړو څخه جوړه شوې ده. هر یو یې پر خپل، خپل ځای ډېر ارزښت لري. ماشومان د سبا ورځې مېندې او پلرونه دي. هغوی سمې او سالمې روزنې ته اړتیا لري. هغوی د خامې اوسپنې په څېر دي. هره بڼه چې مو زړه وي، هغه ترې جوړولای شئ. پېغلې او ځوانان د عقل او متې زور لري. هغوی د یوې ټولنې د ملا تیر جوړوي. که سم وروزل شي، د ټولنې ښه معماران به وي. که پام ورته نه وي شوی، نو کېدای شي د ټولنې بنسټونه ونړوي او پر بله یې واړوي. مشرانو او زړو خلکو تر شا ډېرې تجربې او د ژوند خوږې او ترخې پرېښې دي. هغوی د درناوي وړ دي.

پېغلې او ځوانان څنګه د یوې ټولنې بنسټ ټینګولای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېغلې او ځوانان د یوې ټولنې د ملا تیر جوړوي. رګونه په بدن کې ستر ارزښت لري. پاکه وینه له زړه څخه د بدن ټولو ځایونو ته رسوي او په بدل کې یې کارېدلې وینه د تصفیې لپاره زړه ته لېږدوي.

پېغلې او ځوانان همداسې درواخلئ. هغوی د ټولنې تر ټولو ستر او ارزښتمن پوړکی دی. څومره چې هغوی په ښوونه او روزنه ښه سمبال وي؛ څومره چې یې روزنه او تربیه رغنده او سالمه وي؛ څومره چې د ټولنې د خواخوږۍ احساس ورسره وي؛ په هماغه اندازه به د ټولنې لپاره د هغوی ارزښت او اهمیت زیات وي. د ټولنې لوړوالی او ځوړوالی د پېغلو او ځوانانو په سمې روزنې، نیکو اخلاقو او لوړ احساس پورې اړوند دی. په یوې ټولنې کې د ناخوالو په وړاندې بې توپیره پاتې کېدل د پېغلو او ځوانانو ارزښت راټیټوي.

پېغلې او ځوانان په یوې ټولنه کې ستر رسالت پر غاړه لري. هغوی دنده لري ټولنه سم لوري ته رهبري کړي. په ټولنه کې زړو ناسمو دودونو او رواجونو ته د پای ټکی کېږدي. د بېلګې په توګه وګورئ، افغاني ټولنه له یو لړ ناوړو دودونو سره لاس او ګرېوان ده؛ پېغلې په بدو کې ورکول کېږي؛ پېغلې اوځوانان له خپلې خوښې پرته یو بل ته ودېږي؛ د غم او ښادۍ په مراسمو کې ملاماتوونکي دودونه او رواجونه سرته رسېږي او همداسې نور نامنلي او ناګنلي دودونه او رواجونه. که چېرته پېغلې او ځوانان د خپلو مشرانو په مرسته وغواړي دا ناوړه دودونه واړوي، کولای شي دا کار وکړي. له خپلو مشرانو سره کښېني او له هغوی سره د دې دودونو د منفي او ناوړو اړخونو په اړه خبرې وکړي او هغوی ته روښانه کړي چې نننۍ ټولنه هاغه د پېړیو، پېړیو پخوانۍ ټولنه نه ده، بلکې نننۍ ټولنه نوې غوښتنې او نوی ژوند غواړي.
اوس نړۍ د یو کلي بڼه غوره کړې ده. د یوې ټولنې دود او فرهنګ ډېر ژر په یوې لارې نه په یوې لارې پر بلې ټولنې اغېز کوي. د نشه یي توکو په کارونې کې یو شمېر ځوانان بې توپیره پاتې شوي دي. په داسې حال کې چې دوی کولای شي په کلکه د هغې مخه ونیسي اوېرې نړدې چې پېغلې او ځوانان په هغې روږدي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډیز:

د یوې ټولنې په جوړښت کې پېغلې او ځوانان تر ټولو ډېر او مهمه اغېزه لري. په دې معنا، همدا پېغلې اوځوانان دي چې د ټولنې جوړښت ساتي او ټینګوي يې. ځوانان او پېغلې باید ډېر سم وروزل شي، د هر شي ارزښت او اهمیت ورته په ګوته شي او خپل مسوولیتونه او دندې وپېژني، ترڅو په راتلونکي کې دوی هم خپل مسوولیتونه په سمه توګه سرته ورسوي. پر دې ټکي پوهېدل اړین دي چې د بامسؤولیته ځوان نسل د سالمې روزنې لپاره لا له هماغه کوچنیوالي او ماشومتوب څخه د هغوی سمې او رغندې روزنې ته بشپړ پام وشي او په مسوولیت وروزل شي، که نه نو خدای مه کړه، بیا به وخت تېر وي او د لاسونو موښل به د ټولنې له شلېدو پرته بل څه لاس ته را نه وړي.

فعالیتونه

د ټولګي په وړاندې پرې خبرې وکړي. نور زده کوونکي کولای شي، پر موضوع ازاد بحث وکړي.

۲ــ زده کوونکي دې پر مناسبو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې له ځوان نسل څخه خپلې غوښتنې او د هغو ځوابونه ولیکي او د هغوی یو تن استازی دې یې د نورو په وړاندې ولولي.

۳ــ د نشه يي توکو د کرکیلې او پر نشو باندې د اخته کېدو د مخنیوي لارې کومې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور تنه زده کوونکي دې په دې اړه د نورو په وړاندې خبرې وکړي.

٤_ کورنۍ تربیه او روزنه د ځوانانو پر ژوند څه اغېز لري؟ آیا یوازې کورنۍ د ځوانانو پر روزنې اغېز لري، که نور لاملونه هم شته؟ یو تن زده کوونکی دې د پورته پوښتنې په اړوند له نورو ټولګیوالو سره خبرې وکړي او پایله دې پر تختې ولیکي.

کورنۍ دنده

ځوانانو ته څه کول په کار دي؟ هغوی څنګه کولای شي خپلې ټولنې ته ګټور او اغېزمن واقع شي؟ د ځوان نسل رول د یوې ټولنې په ودانۍ او پرمختګ کې څه دی؟ زده کوونکي دې په دې هکله لس کرښې مقاله ولیکي او ټولګي ته دې یې راوړي. هڅه دې وکړي چې لیکنه یې ادبي رنګ ولري.

زده کوونکي دې لاندې څلوریزه ولولي او خوند دې ترې واخلي:

چې یې عرش او کرسی لاندې تر قدم دي
بالاتر دی هسې شان قدم د زړه
د خلیل تر کعبې دا کعبه ده لویه
که آباد کا څوک ویران حرم د زړه

عبدالرحمٰن بابا

زغم لویه زړورتیا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشبیه

عربي خورا بډایه ژبه ده، شعر او شاعري پکې اوج ته رسېدلې. شعرونه یې خپل اوزان لري. همدا شان د بدیع او بیان په ګاڼو سینګار شوې ده. لومړنی شخص چې په اسلامي دوره کې یې د بیان د علومو یا ادبي فنونو تتبع او څېړنه وکړه، ابو عبیده مثنی (۲۱۱ هـ .کال مړ) و. د بیان فن عبدالله بن معتز (۳۹۶ هـ. مړ) وضع کړ او بیا ډېرو ادیبانو پر دې فن کار وکړ. په ګران هېواد کې د اسلام له راتګ سره سم د مذهبي ژبې په توګه د عربي ژبې نفوذ پر پښتو او دري ادبیاتو خپلې وزرې وغوړولې. زموږ ملي ادبیاتو ځان په دې بهیر کې ورګډ کړ. د هغوی لارې یې خپله کړه او د عربي ژبې پر اوزانو برابر د نظم او شعر ویل پیل شول.

په ادبي فنونو کې معاني، بیان او بدیع شامل دي. په بیان کې له تشبیه، استعارې، کنایې او مجاز څخه بحث کېږي. د بدیع علم د وینا یا کلام لفظي او معنوي ارزښتونه یا لفظي او معنوي ادبي صنعتونه راپېژني او په معاني کې د وینا بیان او مطلب د ښې افادې لارو چارو ته پاملرنه کېږي او په بنسټیزه توګه له فصاحت او بلاغت څخه بحث کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیان څرګندولو ته وايي او په ادبي اصطلاح کې هغه پوهنه ده چې په مرسته یې یوه یا څو معناوې په داسې بېلا بېلو لارو ادا شي چې د څرګندتیا او ابهام له مخې ښکاره توپیر ولري.

تشبیه ورته والي ته وايي. دا ورته والی به یا په بڼه کې وي یا به په معنا کې وي؛ یعني که دوه شیان یا دوه حالته څوګډ صفتونه، وجهې او مشابهتونه سره ولري، تشبیه بلل کېږي. په ادب کې دا ورته والی په حقیقي معنا نه را اخیستل کېږي، بلکې یو شی له بل شي سره پرتله کېږي. د بېلګې په توګه: مخ له ګل سره تشبیه کول. ګل ښایسته وي، سور او سپین وې، تازه وي، نو مخ ته هم د داسې صفتونو ورکول هغه له ګل سره ورته کوي.دویم دا چې ښکلا او صفت له لومړي (مشبه) نه په دویم (مشبه به) کې زیات وي. که وواېو حمید د جمیل په څېر تکړه دی. نو دا مازې تشابه شوه، خو که وواېو ګلالۍ د ګل په څېر ښایسته ده. دلته ګلالۍ له ګل سره تشبیه شوې ده.

ادبپوهانو په واقعیت کې تشبیه د معنا د بیانولو ډېره لومړنۍ او اسانه لاره چاره بللې ده. څرنګه چې انسان د ډېرو کارونو او شیانو له ماهیت او حقیقت څخه خبر نه دی او هغه شیان نشي تعریفولای، نو له هغو شیانو سره چې ښه یې پېژني او ورسره آشنا دي، تشبیه کوي یې.

تشبیه پنځه رکنونه لري: مشبه، مشبه به، د تشبیه وجه، د تشبیه توري، د تشبیه غرض.

۱ - مشبه، هغه ته وايي چې له بل شي سره ورته یا تشبیه کېږي. لکه، د مخ ورته کول له ګل سره.

بېلګې:

هېڅ مې نه زده محبت که اور دی دا

په اور سوځم په رضا که زور دی دا

په دې بیت کې "محبت" مشبه، "اور" مشبه به، "که" د تشبیه توری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې بيت ته وګورئ:

چې ريبي مې بې صرفې د زړګي ولې
کړې وروځې دي د يار که لور دی دا

په پورته دويم نيم بيتي کې "وروځې" مشبه، "لور" مشبه به، "د وروځو او لور" ترمنځ "کوږوالی" وجه شبه ده.

٢ - مشبه به، هغه ته وايي چې د بل شي ورته والی او تشبيه يې ورسره کېږي، لکه مخ چې له ګل سره تشبيه شوی دی. وګورئ په لاندې بيت کې:

الهي د محبت سوز و ګداز را
په دا اور کې د سهي سمندر ساز را

په دې بيت کې "محبت" له "اور" سره تشبيه شوی دی. "محبت" مشبه او "اور" مشبه به دی.

٣ – د تشبيه وجه، هغه يو يا څو مشترك صفتونه چې د مشبه او مشبه به ترمنځ موجود وي، د تشبيه وجه يې بولي. لکه په دې لاندې بيت کې:

د بادام په څېر مې زړه سوری سوری شي
چې راپورته په غمزه سترګو بانه کړې

په پورته بيت کې "زړه" مشبه، "بادام" مشبه به، "په څېر" د تشبيه کلمه، "سوری سوری کېدل" يې د مشترك صفت يا تشبيه وجه ده. د تشبيه وجه بايي په مشبه به کې تر مشبه زياته، قوي او څرګنده وي.

٤ - د تشبيه توري يا کلمې: هغه توري يا کلمې چې مشبه له مشبه به سره تړي، د تشبيه توري ورته وايي، لکه: په څېر، په شان، غوندې، هغسې، هسې، داسې، څنګه، لکه، په دود، په څېر، ...

آينې غوندې خوله پټه سوال جواب کړه
مناسب نه دی اشنا ته رسوا عرض

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته بيت کې "شاعر" مشبه "آينه" مشبه به، "غوندې" د تشبيه کلمه ده. يا:

چې د سپرلي گـــــلونــه گـــورم   ماته د گل په شان جانان رايادوينه

په دې لنډۍ کې "جانان" مشبه "گل" مشبه به، "په شان" د تشبيه کلمه ده.

۵ - د تشبيه غرض: هغه مقصد اومطلب چې له تشبيه څخه اخيستل کېږي، د تشبيه غرض ورته وايي. هدف لپاره يو شی له بل شي سره تشبيه کېږي.

د تشبيه ډولونه

تشبيه د بېلابېلو خواوو او ځرنگوالي په اعتبار زيات ډولونه لري. دلته يې دا لاندې ډولونه درپېژنو.

الف: د طرفينو د موقعيت له مخې په دوه ډوله ده.

اول: مفروقه تشبيه چې په يو بيت يا نيم بيتي کې د هرې مشبه ترڅنگه مشبه به راغلې وي، لکه:

لال دې شونډې، غاښ مرغلرې
خوله دې غونچه قند دې خبرې
کامگار گدای شه ستا په در کې
چېرې يې نه کا رقيبان لرې

د پورته شعر لومړي نيم بيتي کې "شونډې" مشبه، "لال" مشبه به، غاښ" مشبه، "مرغلرې" مشبه به دی. په دويم نيم بيتي کې "خوله" مشبه، "غونچه"مشبه به، "خبرې" مشبه، "قند" مشبه به دی. ځرنگه چې مشبه له هرې مشبه به سره نژدې واقع شوې ده، نو مفروقه يا جلا جلا تشبيه يې بولي.

اوښکې در، رنگ کهربا، زړه لکه لال
جنس مې ډېر ولې رونق د بازار نشته

په پورته بيت کې "اوښکې" له "مرغلرو"، "رنگ" له "کهربا" او "زړه " له"لال" سره تشبيه شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوله غونچه، سترګې نرګس، زلفې سنبل دي
خط ريحان دی څه ګـلــزار په لاس راکـېوت

په دې بيت کې "خوله" له "غونچې"، "سترګې" له "نرګس"، "زلفې" له "سنبل" سره تشبيه شوي دي. د طرفينو د موقعيت له مخې مفروقه تشبيه بلل کېږي.

مخ دې څـــراغ سينه دې باغ دی — خدايه پتنګ شم که بورا وربانديې شمه
زلفې سنبل مخې دې ګلاب دی — زنه دې سيب د سمرقند در دې غاښونه

دويم: ملفوفه (نغاړلې يا په لفافه کې) تشبيه

دا هغه تشبيه ده چې په يوه مسره يا بيت کې مشبه او په بله مسره يا بيت کې يې مشبه به راغلي وي. لاندې بيت ته وګورئ:

تــورو زلـفـو تـه يـې ګــوره ښايسته دواړه رخساره
د جهان په باغ کې نشته سنبل هسې سمن هسې

په پورته بيت کې "زلفې" مشبه او "سنبل" مشبه به دی. "رخسار" مشبه، "سمن" مشبه به دی. ګورو چې دواړه مشبه په يو نيم بيتي او مشبه به په دويم نيم بيتي کې راغلي دي. يعنې مشبه به له مشبه سره نژدې نه ده راغلې. له دې امله يې ملفوفه (نغاړلې) تشبيه بولي.

نورې بېلګې:

دا څه زلفې، څه رخسار او څه ذقن دی
څه سنبل، څه ګلاب، څه نسترن دی

* * *

تـورې زلفې شنه خالونه سره رخسار
شنه توتيان دي سره ګلونه تور ښامار

د پورته بيت په لومړي نيم بيتي کې "زلفې"، "رخسار" او "ذقن" مشبه او په دويم نيم بيتي کې "سنبل"، "ګلاب" او "نسترن" مشبه به دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دویم بیت په لومړي نیم بیتي کې "زلفې"، "خالونه" او "رخسار" مشبه او په دویم نیم بیتي کې "توتیان"، "ګلونه" او "ښامار" مشبه به دي.

څرنګه چې مشبه او مشبه به سره نژدې نه دي راغلي، نو ملفوفه تشبیه ورته وایي.

ب:د ابتذال او ندرت له مخې تشبیه په دوه ډوله ده.

نادره تشبیه، مبتذله تشبیه

۱ - نادره تشبیه هغه تشبیه ده چې په شاعرانو کې لږ استعمال ولري او یا کوم شاعر نوې پیدا کړې وي. لکه په دې بیت کې:

لکه خس د سیلاب خلاص له ګمراهی یم
پر اوږو د رهبر سپور یم تر منزله

* * *

چې یې خال په مخ کې وینم حیرانیږم
په جنت کې ولې ږدي عاصي یو ګام

د پورته بیت په لومړي نیم بیتي کې د "یم" "م" چې د مفرد متکلم لپاره متصل ضمیر دی مشبه او "خس" یې مشبه به دی. په دویم نیم بیتي کې "رهبر" مشبه او د لومړي نیم بیتي"سیلاب" مشبه به دی. د دویم بیت په لومړي نیم بیتي کې "خال" مشبه او په دویم نیم بیتي کې "عاصي" مشبه به دی. "مخ" مشبه، "جنت" مشبه به دی. څرنګه چې دغسې تشبیهات شاعرانو لږ کارولي دي، نو نادره تشبیه بلل کیږي.

۲ - مبتذله تشبیه، هغه تشبیه ده چې په شاعرانو کې خورا زیات استعمال ولري. لکه:

مخ دې لکه ګل صنم　　　زلفې دې سنبل صنم

په پورته بیت کې "مخ" له "ګل" سره او "زلفې" له "سنبل" سره تشبیه شوي دي. څرنګه چې هر شاعر دغسې تشبیهات کاروي، نو ځکه ورته مبتذله تشبیه ویل کیږي.

تشبیه نور ډېر ډولونه هم لري، خو مهم یې همدغه وو چې دلته دروپېژندل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ یو تن زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي او تشبیه دې نورو ته ورو پېژني.

۲ ـ دوه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي. یو تن دې د تشبیه د رکنونو نومونه واخلي او بل تن دې تعریف او په یوې بېلګې کې دې یې وښيي.

۳ـ یو بل زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي او د موقعیت له مخې دې د تشبیه ډولونه ووايي.

٤ـ دوه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي، یو تن دې د مفروقې او بل تن دې د ملفوفي تشبیه بېلګې ووايي.

۵ـ دوه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي، یو تن دې د ندرت او ابتذال د تشبیه توپیر څرګند کړي او بل تن دې هغه په بېلګو کې وښيي.

٦ ـ دوه زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې د غرض له مخې تشبیه څرګنده او بېلګې دې ووايي.

۷ـ ټولګی دې په مناسبو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې د یوې تشبیه څو مثالونه پیدا او د ډلې یو تن استازی دې هغه د نورو په وړاندې تشریح کړي.

۸ ـ همدا پورته ډلې دې په ګډه په یو کاغذ کې تشبیه او د هغې ډولونه په یوه ګراف کې څرګند کړي او د هرې ډلې یو غړی دې هغه د ټولګي په وړاندې نورو ته تشریح کړي.

۹ـ یو، یو زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي او په خپل وار دې په لاندې بیتونو کې مشبه، مشبه به، وجه شبه، د تشبیه توري او د تشبیه غرض ولټوي او تشریح دې یې کړي:

شونډې دې یاقوت دې مرغلرې سپین غاښونه
سرتر پایه درست د پاچاهانو خزانه یې
چې بلا یې د قامت راته ښکاره شوه
ګویا پاڅېده بلا د قیامت
څو به شمېرم زه غمونه د هجران
هومره ډېر دي لکه رېګ د بیابان
چې یې خال په مخ کې وینم حیرانېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه جنـت کـې ولـې ږدي عـاصـي يـو ګـام
لـکـه پـتې سـپـاره د جـنـګ نـېـزې پـرغـاړه
دا اوږده بـانـه پـرې پـورې سـترګـې ستا
دادي کـمـخـی پـه لـېـچـو بـلـوسـي
کـه دي مـاران پـه لېچو دوه ساتلي دينه
دا څه قد دی دا څه سترګې دا څه مخ دی
داخـه سـروه څه نرګس دا څـه ګلشن دی
لـکـه بـاد صـبـا راشـي ژر ګـذر کا
ما خوشحال چې ازمېيلی دی ميثاق ستا
که د زلفو مـار يې وخـوري عاشق ګـرم دی
چـې يـې لاس پـه اژدهـا بـانـدي کښيښ
شـاپـيـرۍ چـې لـيـده نـشـي سـبـب دادی
مـخ دا ستا لـه شـرمـه نـغـاړي پـه حجاب
خـو ګـلـرنـګـه چـهـرې راغـلـې پـه جهان
بـيـا فـنـا شـوې لـکـه ګـل د ګـلـسـتـان
نـرګـس کـوزګـوري لـه شـرمـه
سـتـا د سـتـرګـو پـه خـواب
د جـنـت حـورې کـه ګـورې ستا ومـخ ته
نـور بـه واچـوي لـه مـخـه نـقـابـونـه

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کورونو کې د کوم شاعر شعرونه وګوري او په هغو کې دې د تشبيه او د هغې بېلګې پيدا او په کتابچو کې دې وليکي او په بله ورځ دې په ټولګي کې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېغله ملالۍ

د افغانستان تاریخ له اتلولیو او مېړانو ډک دی. په دې ډگر کې نه یوازې نارینه برخه لري، بلکې مېرمنو هم د خپلو نارینه ورونو ترڅنگ زیاتې اتلولۍ او مېړانې ښودلي دي. دا هره یوه یې داسې څېره ده چې کارنامې او مېړانې یې، سربېره پردې چې زموږ د ویاړ او افتحار نښه ده، زموږ او د راتلونکو نسلونو لپاره د لارې او پله حیثیت لري.

موږ د بېلا بېلو ټولگیو د پښتو ژبې په درسي کتابونو کې پښتنې نارینه او ښځینه څېرې پېژندلې دي. ښایي د هغوی کارنامې د خپلې لارې مشال کړو او د هغوی د پښو پر پل، پل کښېږدو. دلته د مېوند د اتلې، پېغلې ملالۍ په اړه لنډ معلومات لولو.

ـ د ملالۍ نوم ولې د هرچا په خولو کې پروت دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملالۍ د ژوند د پېښو په اړه پوره معلومات په لاس کې نشته. له موږ سره د هغې د ځای او کورنۍ سمه پته نشته او نه راته څرګنده ده چې دا پېغله څوک، د چا لور او د کومې سيمې او کلي وه. د ميوند د فتحې د ننګ او جنګ په ډګر کې ددغې نوميالۍ پېغلې نقش لکه د لمر په څېر هرچاته څرګند دی. په دې اړه د خلکو له خولو راپاتې شوې خبرې او تاريخي شواهد لږ و ډېر يوه خوله دي. د وينا په ډېر لږ توپير او بدلون د ميوند په فتحه کې د هغې غوڅ او ټاکونکی نقش تاييدوي.

د "پښتنې مېرمنې" د کتاب ليکوال، عبدالروف بينوا ليکي: ((د ۱۲۹۷ هـ. ق کال د برات د مياشتې پر اووه لسمه د دوشنبې په ورځ افغاني زلميانو د خپل وطن د ساتنې په نيت سرونه پر ميدان ايښي او د ميوند ډګر ته د سربښندنې لپاره حاضرشوي وو. ټکنده غرمه وه. غازيان تږي او ستړي ستومانه وو. د ميوند په دښته کې هېڅ اوبه هم نه وې. نژدې وه چې افغاني لښکر د تندې له امله ماتې وخوري. په داسې حال کې چې د لښکرو بيرغچي هم سخت زخمي شو او بيرغ يې له لاسه ولوېد، يوه پېغله راغله، بيرغ يې په سرو منګولو واخيست، ناره يې کړه:

خـــال به د يار لــه وينــو کـــښېږدم
چې شينکي باغ کې ګل ګلاب وشرموينه
کـه پـه ميونـد کـې شـهيد نـه شـوې
خدايــږو لاليه بــې ننګۍ ته دې ســاتينه

ددې پېغلې دا غږ يو آسماني غږ و. د افغاني زلميانو وينې يې په جوش راوستې او د (الله اکبر) په ناره يې پرغليم يرغل وکړ. دښمنان يې تار په تار او خپله پاکه خاوره يې د هغوی له ناپاکو قدمونو خلاصه وژغورله. دا پېغله ملالۍ نومېدله.))

په نورو ځايونو کې پورتنی مفهوم د الفاظو په لږو ډېر بدلون سره داسې راغلی دی: ((يوې خواته د ميوند پر دښته پراته د پېرنګي پوځونه په هر ډول وسلو او امکاناتو سمبال وو. بله خوا افغانان په تش لاس، خو د ايمان او عقيدې په وسله سمبال، د هغوی مقابلې ته راوتلي وو. هغوی په دې نيت او تکل وو چې دغه لښکرې له خپلې خاورې څخه وباسي او هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی له ناولو منګولو څخه آزاد کړي. له افغاني غازيانو سره په دغه جګړه کې افغاني مېرمنې هم شاملې وې. ځينو يې غازيانو ته خواړه، اوبه او باروت رسول او ځينې له خپلو پلرونو، وروڼو او مېړونو سره اوږه پر اوږه د دښمن مقابلې ته ولاړې وې. د دغو نومياليو په ډله کې يوه هم ملاله وه.))

د "افغانستان درمسير تاريخ" ليکوال د هغه وخت د يو نوميالي مؤرخ، ميرزا يعقوب علي خوافي د کتاب په حواله ليکي، په دغه جګړه کې له دولس زره انګريزي پوځ، عسکرو او صاحب منصبانو څخه د جګړې له ډګره يوازې (۲۵) تنه ژوندي په تيښته بريالي شول. د "زمونږ غازيان" ليکوال، محمد ولي ځلمی د "نفتو لا خالفين" د کتاب (شيپور هايی پيروزی ميوند) له مخې ليکي: "کله چې د زياتې کلکې ژوبلې په نتيجه کې ميوند فتح او افغاني غازيان د خپلو شهيدانو د ښخولو په تکل کې وو، غازي سردار محمد ايوب خان پوښتنه وکړه، دغه نجلۍ څوک ده چې په يو داسې نازک حالت کې يې په خپلو ملي لندېو افغاني لښکر په ننګ او غورځنګ راوست؟ ځواب ورکړ شو چې دا د يو شپون لور، ملاله او د ميوند د (کشک نخود) اوسېدونکې ده. بل ورته وويل، دا ډېره زړوره وه. د غازيانو تر څنګ يې بايد ښخه کړو. ايوب خان وويل ښه واياست. ملايانو او ملي مجاهدينو د بخښنې دعا ورته وکړه او هم هلته يې خاورو ته وسپارله."

همدارنګه مير غلام محمد غبار په (افغانستان درمسير تاريخ) او لويس دوپري په خپل اثر (افغانستان) کې د ملالۍ سربښندنه او ننګياليتوب ستايلي او تاييدوي يې.

له پورته څرګندونو دا ښکاري چې ملاله د ميوند په همدې تاريخي جګړه کې د شهادت مقام ته رسيدلې او تلپاتې نوم يې په برخه شوی دی. دغه ستره وياړلې کارنامه يې زمونږ د هېواد په تاريخ کې په زرينو کرښو ليکل شوې. تر هغه چې افغانان او افغانستان وي، له چا به نه هېرېږي او په ډېر درناوي به لمانځل کېږي. د دې نوميالۍ او ننګيالۍ پېغلې قبر په ميوند کې معلوم او ډېر خلک يې زيارت ته ورځي.

روح دې تل ښاد او ياد وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

هغسې چې وويل شول، زموږ تاريخ له نومياليو آغلو او ښاغلو ډک دی. هغوی يا د خپل قوم په مشرۍ خلکو ته خدمت کړی، يا يې د تورې او قلم په زور د خاورې غليمان ځپلي او تېښتې ته اړايستلي، يا يې د پوهنې او علم بيرغ اوچت کړی او يا يې د قلم په ژبه په نظم او نثر خپل ويده ورونه او خويندې راويښ کړي دي. دا هر يو په خپل ځای د درناوی او ستاينې وړ دي. پيغله ملاله د دې سلګونو پېغلو او شاه زلمو له ډلې څخه يوه ده چې په خپل پښتني غيرت يې خپل ورونه له حتمي ماتې څخه ژغورلي او دښمن يې تار په تار کړی دی. د دوی ټول ژوند زموږ د اوسني او راتلونکي نسل لپاره يو لوست دی. بايد هغه په ډېر ځير او غور ولولو. هڅه وکړو داسې کارنامې له ځانه پرېږدو چې د راتلونکي نسل لپاره د افتخار او سرلوړۍ نښه شي.

فعاليتونه

۱ـ پنځه تنه زده کوونکي دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي او دوه، دوه دقيقې دې د پښتني شهامت په اړه خبرې وکړي.

۲ـ زده کوونکي دې پر پنځو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې په خپلو منځونو کې پر لاندې ټکو خبرې اترې وکړي:

- آزادي څه مفهوم لري؟
- د آزادۍ تر لاسه کول آسان دي او که ساتل يې؟ څنګه؟ بيان يې کړئ.
- د يوه هېواد د آزادۍ د ساتلو لپاره تر ټولو اړين شی کوم دی؟ ولې؟

هره ډله دې په لنډ ډول خپلې نظريې وليکي. بيا دې د هرې ډلې استازی په وار سره د ټولګي پر وړاندې خبرې وکړي. په پای کې دې پوښتنو ته ځوابونه ووايي او له خپلو نظريو څخه دې دفاع وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ هر زده کوونکی دې په ځانګړې ډول له لاندې کلمو څخه یو متن جوړ کړي او د نورو په وړاندې دې ولولي.

مېوند، ملاله، جګړې، شهادت، تلپاتې، ویاړ، تاریخ، کرښو، په ډېر درناوي، نومیالۍ او ننګیالۍ، پېغلې، د میوند د شهیدانو په، او ډېر خلک یې زیارت ته ورځي.

روح دې ښاد او یاد دې تل تاند او تازه وي!

٤ـ دوه تنه زده کوونکي دې د نورو په استازیتوب د ټولګي مخې ته راشي. یو له بل څخه دې د ملالې د اتلولۍ په اړه پوښتنې وکړي او ځوابونه دې واوري. نور ټولګیوال دې ورته غوږ شي. په پای کې دې د پوښتنو او ځوابونو په اړه خپل نظر څرګند کړي.

٥ـ لاندې اصطلاح ګانې او عبارتونه څه معنا لري؟ خبرې پرې وکړئ او که داسې نورې اصطلاح ګانې او عبارتونه درته یاد وي، ویې وایئ:

د شړومبو مچ، د پوزې پېزوان، لور په لوټه تېره کول، د اوبو څګ ته لاس اچول، په شا تلل.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د هېواد تېر تاریخ ته نظر واچوي او په هغه بهیر کې دې د پېغلې ملالې په اتلولۍ یوه مقاله ولیکي او بله ورځ دې یې په ټولګي کې د نورو په وړاندې ولولي.

نېکمرغه هغه څوک دی چې د نورو له ناوړو کړنو پند واخلي او پخپله یې سرته و نه رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې شعر ولولئ، پر مفهوم یې ځان پوه او خوند ترې واخلئ:

په آزار د مظلومانو حایل مه شه
له لوګي د سویو زړونو غافل مه شه
د ټوپک د تورې غوخ به ښبتتن روغ کا
مسلمان د آه په غشي ګایل مه شه
که آزار د مسلمان د چا مطلب وي
دا مطلب یې تر قیامته حاصل مه شه
هسې خوی کوه چې نور عالم دې ستایي
ته په خپله د خپل ځان په ستایل مه شه
په جهان بده خواري نشته تر سواله
که دې زده د خپله پلاره سایل مه شه
ستا د حسن یاد زما په زړه کې لیک شول
دغه نقش مې له خاطره زایل مه شه
څو دې روح په تن کې شته دی اې کامګاره
یو ساعت د دین له چارو کاهل مه شه
«کامګار خټک»

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډرامه څه ته وايي؟

د يوې ژبې ادبيات، که ليکلي وي او يا شفاهي، د ولس د مخينې، فرهنګ، ټولنيز او سياسي شعور ښکارندوی او په ډېرو حالتونو کې د يوې ټولنې د مخکښ او لارښود حيثيت لري. ټولنه هغه خواته بيايي چې وخت او شرايط يې غوښتنه کوي. د ظالم لاس له مظلوم څخه لنډوي. ټولنيزې ناخوالې خلکو ته بيانوي او له هغې څخه د خلاصون لار ورته ښيي. کيسه، ناول، رومان، ډرامه او ... بېلا بېل ادبي ډولونه او ژانرونه دي چې په خپل وار د ولسونو د پخوانيو، اوسنيو او يا راتلونکو پېښو او ژوند هينداره ده.

په لسم ټولګي کې مو د لنډې کيسې په اړه معلومات تر لاسه کړل. دلته په لنډ ډول د پښتو ډرامې په اړه خبرې کوو.

تاسو به هرو مرو د ډرامې نوم اورېدلی وي. ستاسو په اند ډرامه څه شی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډرامه یا ننداره د یوناني ژبې له "ډراو" څخه جوړه شوې او معنا یې فعل او عمل دی. ډرامه او عمل له یو بل سره نه شلیدونکي اړیکې لري. پر دې بنسټ ډرامې ته په "فعل سره ښودنه" هم ویلای شو. د یوې موخې د څرګندتیا لپاره ډرامه تر ټولو غوره او اغېزمن عمل دی.

د جوړښت له مخې ډرامه درې ډولونه لري.

۱ـ د سټیج ډرامه، ۲ـ راډیویي ډرامه، ۳ـ تلویزیوني ډارمه. (فلمونه او ننداري په کې راځي.) هره یوه یې ځانګړې ژبه او وسایل لري.

د منځپانګې له مخې ډرامه په دوو ډولونو ده.

۱ـ تراژیکه یا تراژیدي ډرامه، ۲ـ کومیکه یاخندنی ډرامه

تراژیدي هغې ډارمې ته وایي چې د غم، درد، ویر او ژړا حالت او پېښې پکې راغلې وي. د کومیډي اصطلاح د هغې ډرامې لپاره کارول کېږي چې خوښي، خندا او نیکمرغي پکې نغښتې وي.

د ډرامې بنسټیز توکي.

۱ـ کیسه: هره ډارمه باید یوه خوندوره کیسه ولري. کیسه چې څومره انساني فطرت او بشري ژوند ته نژدې وي، هغومره ډرامه ښکلې وي.

۲ـ ترتیب (پلاټ) یا اډانه. په کیسه کې د پېښو نظم، اوډون او ترتیب ته وایي. ډارمه پر دغه اډانې ولاړه ده. اډانه یا پلاټ دومره یو له بل سره تړلې او راکښلې وي چې د یوې کلمې له ایستو سره ورانیږي. په دې توګه په اډانه کې لنډیز، پرله پسیوالی او نظم لوی ارزښت لري.

۳ـ پیل، اوج او پای: د ډرامې پیل ښایي داسې وي چې لوستونکي، اوریدونکي او لیدونکي له ځان سره یوسي. د کیسې پیل د کیسې اوج ته لار هواروي. د ډرامې په منځ کې د بېلا بېلو لوبغاړو (کرکټرونو) تر منځ ټکر یا کشمکش رامنځته کېږي چې دې ته د ډارمې څوکه یا اوج وایي. دا غوټه بیا د ډرامې په پای کې ایله کېږي. د ډرامې پای باید منطقي وي او د لوستونکي، اورېدونکي او یا لیدونکي زړه ته پرېوځي چې د داسې پېښنو پایله همداسې وي. د ډرامې لیکوال ته ښایي چې ډرامه په تصادفي او ناڅاپه ډول پای ته ونه رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوبغاړي (کرکټرونه): د ډرامې لوبغاړي ښايي د ډرامې پېښو ته سا ورکړي او داسې يې پر مخ يوسي چې پر لوستونکو، اورېدونکو يا ليدونکو ژور اغېز و ښندي او دا هله شونې ده چې لوبغاړي د خپلې ټولنې رښتيني استازيتوب وکړای شي.

ډيالوگ او ژبه: په ډرامې کې داسې ژبه کارول کېږي چې د لوستونکو، اورېدونکو يا ليدونکو زړه په موټي کې کلک ونيسي او خوند ورکړي. هر لوبغاړي ته د هغه له پوهې سره سمه ژبه کارول په کار دي، داسې نه چې د بزگر او ډاکټر توپير ونه شي.

په ډرامې کې درې حالتونو ته ځانگړی پام اړول کېږي:

۱ـ وخت: داسې چې بايد ډرامه او ژبه يې د يو مهال وي. يعنې داسې ونه شي چې ډرامه تاريخي وي او ژبه يې او سنۍ وي او نه داچې يو ځوان ته د زاړه سړي نقش ورکړ شوی وي.

۲ـ ځای: د ډرامې پېښه چې په کوم ځا ی کې پېښېږي، بايد تصويرونه يې هم د همغه ځای وي؛ يعنې داسې نه وي چې پېښه په افغانستان او تصويرونه يې د نورې پرمختللې نړۍ وي.

۳ـ عمل: دې ټکي ته پام په کار دی چې عمل او ژستونه له پېښې سره تړاو ولري؛ يعنې داسې نه وي چې مړی شوی وي او لوبغاړي خاندي.

د ډرامې پيل له لرغوني يونانه شوی دی. په لرغوني يونان کې شاعري ډېره غوړېدلې او ډرامه د يوناني ادب ارزښتناکه څانگه وه. په لرغوني مصر کې هم د يوې ډرامې څرک لگېدلی چې نوم يې "ايپي ډوس" و او د يوه واکمن "اوسي رس" په مړينې ښودل شوې وه. بيا يې انگريزي ادب ته لار پيدا کړه. وروسته د هندي او عربي له لارې پښتو ته راغله.

په پښتو کې لومړۍ ډرامه د عبدالاکبرخان اکبر "درې يتيمان" ده. دغه ډرامه پر ۱۹۲۷ ميلادي کال کې ليکل شوې او روزنيزه بڼه يې درلوده. دا ډرامه د اتمانزيو د لېسې په کلنۍ غونډې کې ننداري ته وړاندې شوې وه. د هند د نيمې وچې تر وېش د مخه زياتره ډرامې د پيرنگي استعمار په وړاندې د مبارزې په ملاتړ ليکل شوې دي. په پښتو کې پر ډرامه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصولو برابره ډرامه اسلم خټک ليکلې ده چې د "وينو جام" نوميږي او پر ۱۹۳۵ کال له راډيو نه خپره شوه. د پښتو زياتره ډرامې په پښتونخوا کې رامنځ ته شوې دي او افغانستان د اړينو وسايلو د نشتوالي له امله تر ډېره له ډرامې بې برخې پاتې شوی دی. په کوزه پښتونخوا کې لاندې کسانو پښتو ډرامې ليکلي دي:

عبدالله جان اسير، عبدالخالق خليق، عبدالکريم مظلوم، امير حمزه شينواری، داودشاه برق، سمندرخان سمندر، ميا سيد رسول رسا، يوسف ورکزی، عبدالله جان مغموم، رضا مهمندي، شوکت الله اکبر، رحمان کاکا خيل، اياز داود زي، مراد شينواری، اشرف مفتون، رشيد دهقان، اشرف دراني، خيال بخاري، ولي محمد خليل، عمر ناصر، ډاکټر محمد اعظم اعظم، خالقداد اميد، گل افضل خان، نثار محمد خان، همايون هما، عابد شاه عابد، نورالبشر نويد، ساحر اپريدی، محب الله شوق، همايون همدرد، فريدالله احساس او . . .

پښتو ژبې ته له نورو ژبو څخه هم ډرامې را ژباړل شوې دي چې د لطيف وهمي له اردو نه ژباړلې ډرامه "د قرطبې قاضي" او د سراج خټک له انگريزي نه ژباړلې ډرامې "د وينز سوداگر" او "مکبث" د ستاينې وړ دي.

په افغانستان کې د ډرامې دا ليکوال د يادولو وړ دي:

پوهاند عبدالحی حبيبي، عبدالرؤوف بېنوا، ف. فضلي، عبدالمنان ملگری، عبدالروف قتيل، بسم الله کمکی، سيدجان ملال او يو شمېر نور.

د متن لنډيز:

د ډرامې کلمه له يوناني ژبې "ډ راو" نه راوتلې ده. فعل او عمل ته وايي. ډرامه او عمل يو له بل سره نه شليدونکې اړيکې لري. په دې توگه ډرامې ته په "فعل سره ښودنه" هم ويلای شو. هره ډرامه بايد يوه خوندوره کيسه او اډانه ولري.

ډرامه درې برخې ، پيل، اوج او پای لري. پيل يې بايد داسې وي چې لوستونکې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوربېدونکي یا لیدونکي له ځان سره یوسي. د کیسې پیل د کیسې اوج ته لار هواروي. د ډرامې په منځ کې د بېلابېلو لوبغاړو (کرکټرونو) ترمنځ ټکر یا کشمکش رامنځته کېږي چې دې ته د ډرامې اوج وايي. دا غوټه بیا د ډرامې په پای کې پرانیستل کېږي.

د ډرامې لوبغاړي باید ډرامې ته سا ورکړي او داسې یې پر مخ یوسي چې پر لوستونکو، اورېدونکو او لیدونکو ژور اغېز واچوي. په ډرامه کې داسې ژبه کارول کېږي چې د لوستونکو، اورېدونکو او یا لیدونکو زړه په موټې کې کلک ونیسي او خوند ورکړي. په پښتو کې لومړۍ ډرامه د عبدالاکبرخان اکبر "درې یتیمان" ده چې پر ۱۹۲۷ کال یې لیکلې ده. تر دې وروسته په پښتونخوا او افغانستان کې یو شمېرلیکوالو د ډرامې لیکلو ته مخه کړې ده. د سټیج، راډیو او تلویزون لپاره ګڼې ډرامې یا ننداري لیکل شوي دي.

د ډرامې بېلګه:

د کلو رنځور

(پرده پورته کېږي.)

د پښتونخوا غرونه چې ځای پر ځای یې پر سر لړه واوره ښکاري، دومره هسک دي چې ته به وایې آسمان یې د ښکلولو لپاره راټیټ شوی دی. د شنو درو، پاکې فضا، رڼو اوبو منظره هومره ښکلې ده چې د انسان روح تازه کوي. د زرکو اوازونه او د کوهسار نسیم سرې په نخا راولي. هغه بل پلو ته ارت او لوی دښتونه په نظر راځي او د غاټولو په ګلونو داسې ښکاري، ته به وایې چې د خپلواکۍ جګړه یې نن خلاصه شوې او پښتنو زلمیانو دا ځمکه د دښمن په وینو لړلې ده. خو چې سرې لږ ډېر ځیر شي، د دې غرونو په لمنو کې به ووینې چې "پښتون" رنځور پروت او له رنګه یې معلومېږي چې د کلو رنځور دی. مړ لا نه دی، خو د ده او د مرګ ترمنځ هېڅ هم پاتې نه دي. کله کله سترګې روښې کړي، مګر ژر د بېهوشۍ چپه پرې راشي...

سر ته یې"خیرات خور"، پښو ته یې "دمګر"، یو اړخ ته یې "خان" بل ته یې"ملک"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناست دی. څلور سره د رنځور د رنځ په شاوخوا کې خبرې کوي.

خان په قهر: اوه، لا په لاس کې يې قوت شته! عجبه رنځورا؟ زما په خيال ټګي کوي.

ملک: بايد بې مالګې ډوډۍ ورکړ شي... د رنځور داسې لاس غورځول خطر ناک وي!!

دمګر: تاسې بېغمه اوسئ. ما داسې دم نه دی "پو" کړی چې دی بيا سر راپورته کړي... خو دا يې په وجود پيری ننوتی دی. يوه "دودکه" به هم غواړي.

خان: په هر صورت بايد لاسونه يې وتړل شي.

خيرات خور: (په عجز) خو... خو... خو...

ملک: بيا څه خوسی لرې؟ په دې باب د چاشفاعت نشو منلای.

خيرات خور: توبه، توبه ... يه، يه ... زه او شفاعت!

تاسې ما مه ګنهګاروئ... خو، خو يوڅه... (په ګوته د رنځور واسکټ ته اشاره کوي.)

ملک: (خاندي) هه، هه، هه ... واسکټ غواړې؟

خيرات خور: هو، د خدای په جات ... اوس همدا يو واسکټ کفايت کوي.

خان: واخله، واخله، ... ستا خو هېڅ مړېده نشته!

(د رنځور واسکټ کاږي او ملک يې لاسونه تړي، دمګر يې څپليو ته لاس اچوي او وايي:)

دمګر: زه نو تر چا پاته يم ... دا يې هم زما!

(رنځور سترګې روښوي، په ډېر قهر شاوخوا ګوري.)

دمګر: فضل، فضل، فضل؟ ملک کاکا د رنځور پيری سترګو ته راغلی ...؟!

خيرات خور: هو، هو سترګې يې بدې سرې شوې ... څه نورې بلاوې په سترګوويني.

ملک: چاره يې څه ده؟

خان: بايد سترګې يې هم وتړل شي....

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملک: ښه دې ووېل ... د رنځورحال بد دی، باید هېڅ شي ته ونه ګوري... د رنځور لپاره استراحت ضرور دی. موږ باید خپل رنځور څو مو توان وي، همداسې ویده وساتو، ویښوالی یې خطرناک دی!!

ټول په ګډه: بالکل درست!

(د رنځور سترګې هم ترې. رنځور لږ لږ په هوښ راځي.)

رنځور: څه کوئ؟ څه رانه غواړئ؟

تاسې خو زما هرڅه راڅخه غصب کړل. زما د باغ مېوې، د ځمکې غلې او نور نعمتونه تاسې وخوړل. زه مو په وچه ډوډۍ وغولولم. ... ويني مو راوچې کړې، بې واکه شوم، په رنځ اخته شوم ... بیا لا هم په دې حال کې راڅخه ویرېږئ. لاسونه مو راوتړل. اوس یوازې دا کتل مو هم راباندې پیروزو نه دي؟ ولې ظالمانو؟

خیرات خور: الله توبه، پرتې او چټیات یې شروع کړل. ما ویل چې خیرات وکړئ، خیرات ... تاسې ونه منله. الله فضل!

رنځور: چټیات نه دي، رښتیا وایم ... تاسې د خپلې ګټې لپاره زما ويني راوچې کړې. زه مو سترې ستومانه کړم. کلونه کلونه کېږي چې تاسې زما د لاس ګټې راڅخه اخلئ. جامې مې رانه کاږئ. هرڅه خورئ، خو زما د صحت غم نه خورئ. ... اوس مو د خپلې ګټې لپاره په بستر کې اچولی یم. کوم وخت چې زما هر څه خلاص شي، بیا به نو ما پرېږدئ او تاسو به... (دلته خیرات خور په خوله لاس ږدي او دمګر سر ښوروي.)

دمګر: خدای دې زموږ کور او کلی له شیطانه وساتي. ... دا د شیطان خبرې او ډېر بد شګون دی. ... لکه چې پیری یې خولې ته راغی. باید ژر یې خوله وتړله شي چې نور څوک یې دا پرتې وانه اوري.

ټول په ګډه: بېشکه!!

ملک: هو، یو رنځور باید دومره ونه ویرېږي.

خان: ژر یې خوله پټوئ چې نور په دې رنځ اخته نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د رنځور خوله هم ترې. په دې وخت کې د شنو درو له منځه د ويښو زلميانو ډله لېدل کېږي چې د رنځور خواته راروانه ده او د ويښوالي ترانه وايي. *)

(*) د عبدالرؤف بېنوا ليکنه

فعاليتونه

۱ـ درې تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي. هر يو دې په خپل وار لاندې درېو پوښتنو ته ځوابونه ووايي:

الف: د جوړښت له مخې ډرامه څو ډولونه لري؟ نومونه يې واخلئ.

ب : د منځپانګې له مخې ډرامه په څو ډولونو ده؟ هر يوه يې څه شی څرګندوي؟

ج: يوه ډرامه څو بنسټيز توکي لري؟ نومونه يې واخلئ.

۲ـ د زده کوونکو شپږ دوه کسيزې ډلې دې د ټولګي مخې ته راشي. درې لومړۍ دوه کسيزې ډلې دې په خپل وار يوه تراژيدي او دويمه درې کسيزه ډله دې يوه کميډي ننداره د حرکاتو له لارې تمثيل کړي.

۳ـ يو تن زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي او ودې وايي چې د ډرامې د بيان ژبه بنايي څنګه وي. بېلګه دې وړاندې کړي.

٤ـ يو بل زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي او ودې وايي چې يوه کميډي ډرامه خپل پيغام څنګه ليدونکو ته وړاندې کوي.

٥ـ ټول زده کوونکي دې سوچ وکړي چې په ډرامه کې وخت، ځای او عمل څه معنا لري. د هغوی له ډلې څخه دې درې تنه د ټولګي په وړاندې هغه بيان کړي.

کورنی دنده

زده کوونکي دې هڅه وکړي په خپلو کورنو کې يوه لنډه ډرامه وليکي. موضوع دې پخپله وټاکي او په بله ورځ دې هغه په ټولګي کې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بایزید روښان

د روښانیانو غورځنګ د تېري او زور په وړاندې د افغانانو د مبارزې یو روښانه فصل دی او په افغاني تاریخ کې یو څرګند او روښانه دریځ لري. د روښاني غورځنګ یوه ستره ځانګړتیا داده چې د خلکو د تنویر او د ټولنیز عدالت د تبلیغ لپاره یو پیغام هم لري. د روښانیانو ایدلوژي د شکل په لحاظ عرفاني او تصوفي بڼه لري، خو د محتوا په لحاظ یو ملي ازادي ښوونکی غورځنګ دی. د دې غورځنګ په سر کې بایزید روښان و. غواړو د نورو وتلو شاعرانو او لیکوالو په لړ کې چې په تېرو ټولګیو کې مو وپېژندل، دلته بایزید روښان دروپېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روښان چې اصلي نوم يې بايزيد دی، په ۹۲۶ هـ.ق. کې د پنجاب په جالندر کې زیږېدلی دی. پلار يې شيخ عبدالله نوميده. شيخ عبدالله په اصل کې د کندهار اورمړ و.
له کندهاره د وزيرستان کاڼي ګورم ته (د وزيرستان د بدر په وادۍ کې د غره لمنې ته يو ځای دی چې په پښتنو کې شهرت لري.) لاړل او هلته ميشت شول. روښان وايي، زما پلار عبدالله قاضي د محمد زوی و. کورنۍ مو انصاري ده. محمد دولس زامن درلودل چې په دوی کې عبدالله په فضيلت مشهور و او قاضي توب يې کاوه. د محمد بل زوی خدايداد نوميد چې زوی يې خواجه اسمعيل د عبدالله وراره و. دغه سړي ته بايزيد عقيدت درلود.
د مخزن الاسلام ليکوال، اخوند درويزه وايي، د وزيرستان په کاڼي ګورم کې د پښتنو څو قبيلې سکونت لري چې اورمړ او انصاري هم له دغو قبيلو څخه ګڼل کېږي. مياروښان له انصاري قبيلې څخه دی چې دغه قبيله په علم، صلاح او تقوا کې مشهوره ده. درويزه ليکي: "پوه شه ای زويه چې د کاڼي ګورم د سيمې په اورمړ افغانانو کې د عبدالله په نامه يو سړی و له پوهې او صلاح سره. هغه د عالمانو او صالحانو له اولادې څخه و. د قضا له مخې د هغه د بايزيد په نامه يو زوی پيدا شو... " بل ځای ليکي: "د بايزيد پلار او نيکه دواړه د اورمړ عالمان وو. هم رښتيني وو په دين کې."
بايزيد روښان په داسې يوې کورنۍ کې لوی شو. د خپل عصر ديني علوم، فقه، تفسير، حديث، اخلاق او تصوف يې لوستي وو. بايزيد يو رياضت کوونکی او د روحانيت پلوي و. پياوړی مبلغ او مجاهد و. پنځه کاله يې په کور کې په رياضت تېرکړل. په دې دول د بايزيد نافذ شخصيت او اغېزمن تبليغي قوت او د مشرتابه وړتيا د څېرلو او پلټلو وړ خواوې دي.
پر خلکو د ده شخصيت اغيزه کوله او د ده خبرې به يې په عقيدت او اخلاص اورېدې.
روښان په څلورو ژبو پښتو، فارسي، عربي او پنجابي پوهيده او په دغو څلورو ژبو يې ليکل او لوستل هم کول. په پښتو ليکنه کې يو خاص سبک لري چې ترده د مخه يې په پښتو کې نوري بېلګې ليدل شوې نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ده د مخه د پټې خزانې منظومې لرغونې بېلګې او د سليمان ماکو د تذکرې منثورې نمونې (۶۱۲ هـ. ۱۲۱۵ م.) لرو چې د پښتو ژبې د نظم او وينا له سمون سره برابرې دي؛ يعنې هغه ډول چې خلک پښتو وايي، ليکوال هم په هغه ډول خپل مطلب سم ليکي. په عربي ادب کې اته سوه کاله د مخه يو راز فني نثر هم باب شوی و چې جملو به يې سجع درلوده. ليکوال به داسې مسجع جملې سره جوړولې چې د پای کلمې به سره يو رنګه او موزونې وې.

روښان خپل پښتو نثر په دغه ډول فني او مسجع ډول ليکلی دی. خپله روښان ددغه سبک غوره کول يو الهامي غړ بولي چې ورته وويل شو:

"او بايزيده، وکښه خيرالبيان، په هغسې الحان چې يې به لوست سورة رحمن."

خيرالبيان د پښتو يو پخوانی پېژندل شوی کتاب دی چې ترموږ رارسېدلی دی. خيرالبيان د پښتو ځانګړو تورو لپاره ځانته بڼې او املا لري.

تر روښان وروسته اخوند درويزه خپل پښتو او فارسي مخزن الاسلام (۱۰۱۵ هـ_ ۱۶۰۵م.) شاوخوا وليکه چې د موضوع له پلوه له خيرالبيان او روښان سره مخالفت ښيي، خو د سبک او انشاء له مخې د روښان پيروي او تقليد کوي. تر دې وروسته په پښتو کې ډېر منثور کتابونه راوتلي دي او ټولو د پير روښان د سبک پيروي کړې ده.

د روښان لاندې تاليفات موږ ته څرګند دي:

۱ - خيرالبيان په پښتو، فارسي، عربي او پنجابي ژبوليکل شوی دی،

۲ - مقصودالمؤمنين، په عربي ژبه ليکل شوی،

۳ - صراط التوحيد، په فارسي ژبه ليکل شوی دی،

٤ – فخرالطالبين،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بایزید روښان د یو پوه سړي په توګه د وخت د ښکېلاک پر خلاف له عقیدوي محاذ څخه جګړه پیل کړه. روښاني غورځنګ د یوې ملي ایدیالوژۍ په پیروۍ رااوچت شو. ده په ډاګه ویل، هرڅوک چې خپل ځان نه پېژني، خپل خدای هم نشي پېژندلای. روښان وویل، د خدای په نزد ټول انسانان مساوي دي. اصل و نسب او دنیایي اعتبار څه اهمیت نه لري.

کله چې بایزید د پیرورښان په لقب د اعتبار خاوند شو، هغه خلک یې ټول ترشاوخوا راټول شول چې د وخت د استبداد تر فشار لاندې ځپل شوي وو. د روښان تعلیمات چې سربېره پر مذهبي هغه یې ملي ارزښت هم درلود، داسې قدرت ونیو چې هېڅا له هغه څخه سر نشو غړولای.

د روښاني غورځنګ ایدیالوژیکي ارزښت دادی چې هغه له مذهبي عقیدې سره ملي مبارزه ملګرې کړه او خپلو مریدوانو ته یې له مذهبي تعلیم سره توره هم په لاس ورکړه. د ګورګاني دربار پلویانو چې هر څومره زور ولګاوه، د روښاني غورځنګ څراغ یې مړ نه کړای شو. روښان ځان د پښتنو مشر باله او د ده زوی جلال الدین هم ځان د پښتنو پاچا ګاڼه. دوی خزانه او تشکیلات درلودل او د جګړو شکل یې ګوریلایي و. روښان په پای کې جل وواهه او په ۹۸۵م. کال کې مړ شو. د روښان ملي مبارزې تقریبا ۱۶۰ کاله دوام وکړ او له کندهار څخه تر سواته او له اباسین څخه ترکابله پورې ټوله سیمه یې د ګورګانیانو لپاره یو تنور ګرځولې وه.

د خیرالبیان موضوع:

د خیرالبیان ډېره برخه پښتو ده. د پښتو جملو په منځ کې د قرآن عظیم آیتونه او ځینې حدیثونه یا عربي مقولې د دلیل په ډول راوړل شوي دي. د قرآني آیاتو فارسي تحت الفظ ترجمې هم د کتاب پر حاشیه لیکل شوي دي. یوازې د کتاب په پیل کې د پنجابي لهجې ځینې جملې هم لیدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خیرالبیان مضامین ټول شرعي احکام او عقاید او د تصوف او اخلاقو مباحث دي، د حلال او حرامو بیان دی او دا ټول د حنفي فقهې له کتابونو څخه رااخیستل شوي دي، لکه هدایه، کنز، قدوري او نور.

په خپله روښان خیرالبیان داسې معرفي کوي:

"کړی مې دی، خیرالبیان، په څلور ژبې، موافق له قرآن. په کې دی، بیان د رشتیا د دروغ د حلال د حرام او بیان د کړ و نکړ د هر مقام. (د خیرالبیان خطي نسخه)"

دا کتاب له لومړۍ پاڼې څخه په حمد و نعت شروع کېږي. نورې برخې یې پندونه او اخلاقي تبلیغ، له مرګه، قبر او د دوزخ له عذابه ډارونه ده. وروسته بیا د شریعت، طریقت، حقیقت او معرفت څېړنې راغلې دي. د شریعت په برخه کې د اسلام د پنځو بناوو (توحید، لمونځ، روژه، زکات او حج) بیان دی. وروسته د طریقت او اخلاقو بیان راوړل شوی او د کامل پیر د متابعت په اړه څرګندونې شوي دي. د توحید مسئله یې ډېره څېړلې او په آسانه پښتو ژبه یې بیان کړې ده. په هرځای کې یې د دلیل او برهان په توګه د قرآن عظیم آیتونه، حدیثونه او د اسلامي لویانو ویناوې راوړې دي.

خیرالبیان له فقهي احکامو څخه یوازې د عباداتو برخه په تفصیل بیان کړې او دغه احکام یې له حنفي مذهبه رااخیستي دي. د خیرالبیان بله برخه اخلاق دي. اخلاق یې د اسلامي متصوفینو په ډول بیان کړي دي. له فیلسوفانه او حکیمانه بیان یې ډډه کړې ده.

د خیرالبیان په بحثونو کې د شریعت پر خلاف څه شی نشته. له دې امله پر ده او د ده پر لارویانو د الحاد لګېدلي تورونه ځای نه لري. د خیرالبیان ټول مضامین او بحثونه د فقهي عقایدو او اخلاقو په کتابونو کې د مخه لیکل شوي او ده پر پښتو اړولي دي.

د روښاني غورځنګ لنډه پېژندګلوي:

روښاني غورځنګ د روښان پیر له خوا پیل شو . د دې غورځنګ سیاسي مبارزې یوه پیړۍ په پر له پسې توګه د جلال الدین د روښان زوی، حداد د عمر زوی ، عبدالقادر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حداد زوی او کریمداد د جلال الدین زوی تر مهاله پاینښت وموند. د سیاسي خپلواکۍ غوښتلو دا غورځنګ د روښان پیر او جلال الدین اکبر د واکمنی پر مهال پیل اود دې غورځنګ وروستی سیاسي لاربنود، کریمداد و چې د هندي واکمن شاه جهان په وړاندې يې د خپلواکۍ ساتلو د مبارزې ډګر تود ساتلی و.

له عرفاني او ادبي پلوه د روښاني غورځنګ اغیزې یوازې په هغو پیرېو او د روښاني واکمنۍ په سیمو کې محدودې پاتې نه شوې. روښان پیر د پښتو لیکدود او پښتو ادب د پراختیا او ودې لپاره ځانګړې هلې ځلې پیل او د پلې کولو لپاره یې بشپړه ژمنتیا درلوده. د روښان پیر په زیار د خیر البیان لیکل شوی کتاب ، نه یوازې دا چې د هغه پیر د نصایحو او لارښوونو له اړخه ارزښتمن دی، بلکې د پښتو لیکدود او پښتو ادبي نثر د تر ټولو پخوانۍ بیلګې په توګه خورا مهم ګڼل کېږي.

د روښاني نهضت ارزښت له عرفاني او تصوفي اړخه زیات دی. د دې نهضت لارویان له هماغه پیله بیا تر اوسه د عبادت او ریاضت ځانګړې لارې او طریقې لري چې په هند، پښتونخوا او افغانستان کې پیروان لري. په سیمه کې د تصوف له بېلا بېلو ټولګیو څخه یو مهم ټولګی همدا روښاني طریقه ده چې ریاضت او عبادت یې د نورو صوفیانه طریقو په څېر د اعتدال خوښوونکي او له هر ډول بنسټپالنې او سخت دریځۍ څخه پرهېز کوي.

روښاني نهضت د همدې ځانګړنو پر بنسټ د زیاتو څېړونکو او محققینو د پام وړ ګرځېدلی او د څېړلو لپاره یې زیاتو بهرنیو او کورنیو څېړونکو زیار ایستلی دی. د ناروې، فرانسې ، پخواني شوروي اتحاد، هند، پاکستان او زیات شمېر نورو هېوادونو لیکوالو له خپلو لیدلورو سره سم د دې نهضت څېړنه او پلټنه کړې ده. ځینو دا نهضت یو تصوفي او عرفاني خوځښت ګڼلی، ځینو بیا د خپلواکۍ د یوه غورځنګ په توګه یاد کړی او یو شمېر یې د اصلاحي او کلتوري خوځښت په توګه یادوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

پير روښان په ميا روښان، بايزيد انصاري او بايزيد مسكين مشهور و. هغه د عبدالله زوی او د شيخ محمد لمسی دی. په ۹۲۶ هجري كال د پنجاب د (جلندر) د اورمړو د كلي (بركي) په يوې متوسطې كورنی كې سترگې پرانستي دي. دا كورنی (اورمړ) تراوسه د وزيرستان په (كاڼي گورم) كې استوگنه لري. پير روښان له كوچنيوالي څخه د تصوف له مسلك سره پوره مينه درلوده، هڅه يې كوله چې دغې مرتبې ته د رسېدو په خاطر يو كامل پير پيدا كړي.

په لسمې او يوولسمې پېړۍ كې بايزيد روښان، د ده كورنۍ، پيروانو او يو شمېر معاصرينو د هېواد د خپلواكۍ او ملي واكمنۍ د تر لاسه كولو په خاطر د وطن پالنې د پاك احساس له مخې نه سترې كېدونكې مبارزې كړي او په دې لاره كې يې خپل سرونه قربان كړي دي. له بلې خوا د تصوف او مذهب په جامه كې يې ډېر پښتانه د خپلواكۍ په روحيه روزلي او هم يې په پښتو ادبياتو كې د خپلو خلكو د ويښولو په خاطر له ارزښت څخه ډكه پانگه زياته كړې ده. سره له دې دښمنانو هڅې كولې چې د روښانيانو د ژوند كارنامې او مبارزې پټې كړي او پير روښان د (پير تاريک) په نوم ونوموي؛ خو دغو كارونو دښمنو ډلو ته د اميد لار نه ده پرانستلې؛ بلكې د پير روښان د ژوند او مبارزې په هكله يې د كورنيو ليكوالو په څنگ كې ډېرو ناروېژانو، انگرېزانو، ايټالويانو، فرانسويانو، جرمنيانو او (پخواني شوروي اتحاد) يو شمېر ختيځ پېژندونكو هم ددغه ملي غورځنگ په هكله ليكنې كړې دي. روښانيانو د بايزيد په لارښوونه د هندي مغولي واكمنۍ د استبداد په وړاندې او د پښتنو د پخواني برم د بيا تر لاسه كولو په خاطر داسې تحريک رامنځ ته كړ چې د پښتنو په تاريخ او ادب كې د (روښاني غورځنگ) په نامه ونومول شو. دغه غورځنگ له يوې خوا په افغانانو كې سياسي شعور را ژوندی كړ، له بلې خوا يې دوی د هېواد د آزادولو لپاره د هند د مغولي واكمنۍ د استبداد پر ضد مبارزې ته چمتو كړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱- یو تن زده کوونکی دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي او ودې وايي چې پیرروښان ولې په پښتو ادبیاتو کې لوړ دريځ لري؟ نور زده کوونکي دې غوږ ورته ونیسي. هر زده کوونکی کولای شي په دې اړه خپل نظر وړاندې کړي.

۲ – په پورته متن کې د پیر روښان د لیکنو له مخې څه ویلای شئ چې په هغې کې د څه شي تله درنه ده. یو تن زده کوونکی دې د نورو په استازیتوب څرګندونې وکړي. که له بل زده کوونکي سره په دې اړه بل نظر موجود وي، ور زيات دې يې کړي.

۳ - روښاني غورځنګ ته ولې سیاسي بڼه ورکول کېږي؟ هر زده کوونکی دې په خپل وار پرې رڼا واچوي.

٤ – پیر روښان ولې په مسجع ډول خپل نثر لیکلی دی؟ لامل یې څه شی دی، دوه تنه زده کوونکي دې په دې اړه خپل نظر وړاندې کړي.

٥ – د پیر روښان د ژوند په دوران کې د پښتنو ټولنیز او سیاسي دريځ څنګه و؟ په دې اړه دې زده کوونکي خپل نظر وړاندې کړي او خبرې اترې دې پرې وکړي.

کورنۍ دنده

د پیر روښان د لیکنې ځانګړتیا او په هغې کې د مذهبي رنګ د غلبې په اړه خپل معلومات په يوې څېرنيزې مقالې کې ولیکئ. د ښوونکي لارښوونو ته غوږ کښېږدئ.

د زده کړې په لار کې د ننني کړاو ګالل د سبا لپاره
د نېکمرغۍ زېرمه کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې د مطبوعاتو لنډ بهير

صفحه ۱ سال اول نمبر ۲

قیمت سالیانه

۱۳۲۹

در این اخبار از حوادث داخلیه و خارجیه و بعض مقالات مفیده درج میشود

رسنۍ يا مطبوعات د بشري ټولنو تر ټولو ارزښتمن او اړين رکن دی. هرڅومره چې په يوې ټولنې کې رسنۍ پرمختللې، آزادې او ناپلوې وي، په هماغه اندازه هغه ټولنه د عدالت او برابرۍ پر ستنو ولاړه او له ظلم، تېرې او تعصب څخه خلاصه وي. رسنۍ په يوې ټولنې کې مخکښ رول لوبوي او هر لوري ته چې وغواړي هغه ټولنه راکښلای شي. دولت درې رکنه لري چې له اجرايوي، عدلي او تقنيني څواکونو څخه عبارت دي، خو رسنيو د خپل ارزښت او اهميت له مخې د دولت په دې څوکاټ کې ځان ځای کړی او تر ټولو لوړ ځای يې خپل کړی دی. رسنۍ د دې په څنګ کې چې په يوې ټولنې کې ناخوالو ته ګوته نيسي، د هغې لاملونه په ګوته کوي، د ټولنې تګلورې هم ټاکي اومرسته ورسره کوي. رسنۍ راتلونکو نسلونو ته د ولسونو د پوهې او فرهنګ په لېږد او انتقال کې مهم رول لوبوي. زموږ په ګران هېواد افغانستان کې رسنۍ په پرتله ييز ډول اوږد تاريخ لري او تر ننه يې د پراختيا بېلا بېل پړاوونه وهلي دي.

ـ ستاسو په فکر په يوې ټولنې کې د رسنيو او مطبوعاتو ارزښت په څه شي کې نغښتی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسنۍ د ټولنیزو اړیکو د وسایلو په نامه یادېږي. په رسنیو کې خبري آژانسونه، ورځپاڼې، جریدې، مجلې، راډیو، تلویزیون او انټرنیټ شامل دي. څومره چې په یوه ټولنه کې د رسنیو شمېر زیاتېږي، په همغه کچه پر عامه ذهنیت زیات اغېز اچوي. د سراج الاخبار خپرونې د خپلې لومړنۍ سرمقالې د "افتتاح کلام" په نامه په یوې برخې کې لیکلي: "... دا څرګنده خبره ده چې "اخبارونه" په دې زمانه کې د دولتونو او ولسونو د ژبې په توګه ګڼل شوي دي. په اوسني وخت کې له وروسته پاتې او بدوي قومونو پرته داسې هېڅ یو دولت یا قوم نشته چې اخبار و نه لري. اخبار د "خبر" جمع ده چې ضد یې بې خبري ده."

چاپخونې یا مطبعې د رسنیو ډېر مهم جزء بللی شي. اوس په کمپیوټرونو کې د انټرنیټ له لارې سرې ډېر ژر د نړۍ له حالاتو، پوهنیزو او تخنیکي بریاوو، تازه خبرونو او نورو موضوعګانو څخه نیغ په نیغه خبرېږي. د معلوماتي ټکنالوژۍ له منځ ته راتګ د مخه دا کار شونی نه و. د دې ټولو موضوعګانو د انتقال لپاره چاپخونو او مطبعو ته اړتیا وه. یعنې د خلکو غوږونو ته د معلوماتو په رسولو کې چاپخونو خپل ارزښت درلود.

په افغانستان کې مطبعه د لومړي ځل لپاره د امیر شېرعلي خان د دویمې پاچهۍ (۱۲۵۲ – ۱۲۵۷ هـ ش) په پېر کې رامنځ ته شوه. په دې وخت کې د چاپ درې مطبعې موجودې وې. دوه یې د مصطفاوي او مرتضاوي په نامه وې. بله یې د "شمس النهار مطبعه" وه. شمس النهار په مطبعې کې د شمس النهار جریده چاپېده. د شمس النهار، مصطفاوي او د مرتضاوي درېواړو چاپخونو چاپ په ډېرینه توګه سرته رسېده. په هر حال په افغانستان کې د چاپ پیلامه له همدې درېو مطبعو څخه شوې ده. په دې مطبعو کې د چاپ کارونه په ډېر لږ ظرفیت سره ترسره کېده، خو بیا هم د افغانستان د ژورنالیزم په تاریخ کې یې ډېر روښان او څرګند بنسټونه ایښي دي.

دمخه مو وویل چې مطبعه د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د امیر شېرعلي خان د واکمنۍ په دویم پېر کې رامنځ ته شوه. له دې سره مل د شمس النهار په نامه ورځپاڼه هم د لومړي ځل لپاره د دې علم دوسته پاچا د پاچهۍ پرمهال منځ ته راغله. د دې ورځپاڼې د خپرو شوو لیکنو له مخې په دې وخت کې په کابل یا د هېواد په نورو برخو کې بله خپرونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وه. شمس النهار به کله په اوونۍ کې یوځل او کله په پنځلسو ورځو کې یو ځل خپرېده.
داسې بریښي چې شمس النهار به تر ٤٠ گڼو زیات چاپ شوی نه وي.
وروسته بیا د امیرحبیب الله خان په وخت کې (١٩٠٦م، ١٢٨٥ هـ ش) د مولوي عبدالرووف خاکي کندهاري په مسوولیت د "سراج الاخبار افغانستان" په نامه یوه جریده خپره شوه. له بده مرغه خپرونو یې دوام و نه کړ او لومړۍ گڼه یې وروستۍ گڼه شوه. بیا (١٩١١– ١٩١٨م) د "سراج الاخبار افغانیه" په نوم خپرونه رامنځته شوه. دا خپرونه په افغانستان کې د دوامداره ژورنالیزم پیلامه ده. د دې خپرونې بنسټ د هېواد پیاوړي شخصیت او تکړه ژورنالیست، علامه محمود طرزي د ١٢٩٠ هـ ش کال د تلې د میاشتې په ١٦ (اکتوبر١٩١١) کېښود. محمود طرزي غوښتل د دې خپرونې له لارې افغانان د ملت پالنې له روحیې سره اشنا کړي، د هېواد پالنې درس ورکړي، خپلواکۍ غوښتنه ور زده کړي او د هغه مهال علم او پوهه وروښيي. سراج الاخبار لومړی په ډبرینه مطبعه کې چاپېده چې وروسته بیا په حروفي بڼه چاپ شو. سراج الاخبار په دوو اوونیو کې یوځل چاپېده. د دې خپرونې مسوول چلوونکی له پیله تر پایه محمود طرزي و. په سراج الاخبار کې ادبي او علمي مقالې، عکسونه، انځورونه او کارتونونه خپرېدل. علامه محمود طرزي په سراج‌الاخبار کې د پښتو لیکل دودکړل چې د مولوي صالح محمد هوتک، غلام محی الدین افغان او نورو پښتنو لیکوالو له خوا لیکل کېدل.
تر شمس النهار او سراج الاخبار افغانیه وروسته "امان افغان" په داسې دورې کې په خپرېدو پیل وکړ چې د افغانستان خپلواکي تر لاسه شوې وه. امان افغان په ١٢٩٨ لمریز کال کې د ورې د میاشتې په ٢٢ نېټه په خپرونو پیل کړی دی. دا اخبار تر نهم خپرنیز کال پورې په اوونیز ډول خپرېده. وروسته د ١٣٠٧ لمریز کال د لیندۍ د میاشتې په پنځلسمه ورځپاڼې ته لوړ شو. قطع او صحافت یې هم ښه شو او په معیاري بڼه خپرېده. په امان افغان کې خبرونه، مرکې، راپورتاژونه، تحلیلي موضوع گانې، تبصرې، سیاسي تفسیرونه، ویناوې او بیانیې، موعظې، تفریحي مطالب، شعرونه، داستانونه او داسې نور خپرېدل. د امان افغان لومړنی مسوول چلوونکی عبدالهادي داوي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په امان افغان پسې د "افغان" په نامه خپرونه رامنځته شوه. افغان د افغانستان لومړنۍ خپرونه ده چې د کلمې په رښتينې معنا د ورځپاڼې په بڼه خپرېدله. په ځينو ځايونو کې هغه خپرونه چې په اوونۍ کې دوه يا درې ځله خپريږي، هم د ورځپاڼې په نامه يادوي. افغان د ۱۲۹۹ لمريز کال د چنګاښ په ۱٤ (۱۹۱۹م) په خپرېدا پيل وکړ. په دې ورځپاڼې کې کورني او بهرني خبرونه، اخلاقي، علمي او تفريحي موضوع ګانې خپرېدې. مسوول چلوونکی يې محمد جعفر کندهاری و.

له "افغان" وروسته د "ابلاغ" وار راغی. نومورې خپرونه هم د ورځپاڼې په بڼه خپرېده. ابلاغ د ۱۳۰۰ لمريز کال د تلې مياشتې په لومړۍ نېټه په خپرونو پيل وکړ. دا خپرونه به په يوې پاڼې کې چاپ او پر دېوالونو او د ګڼې ګوڼې په ځايونو کې به د خلکو د لوستلو لپاره ځړول کېده. د دې ورځپاڼې لومړنی مسوول چلوونکی مدير ميرزا محمد اکبرخان و.

په دې موده کې د ابلاغ، حقيقت او اتحاد مشرقي ورځپاڼې او د غازي، اتفاق اسلام، ستاره افغان، اتحاد اسلام (بيدار)، اصلاح، طلوع افغان او ارشادالنسوان په نومونو اوونيزې خپرېدې. ارشادالنسوان لومړنۍ اوونېزه وه چې د افغانستان د ښځو لپاره خپرېده. دا اوونيزه په ۱۲۹۹ لمريز کال کې د محمود طرزي د مېرمنې، اسما اسميه له خوا رامنځ ته شوه. دې اوونيزې خبرونه، مقالې، تبصرې، راپورتاژونه او په ښځو پورې اړوند مسايل خپرول.

له کورني اړودوړ څخه په وروسته پېر (۱۳۰۸ – ۱۳٤۳ لمريز) کې مطبوعات په دولت پورې محدود وو. د ورځپاڼو په سر کې د "اصلاح" ورځپاڼه يو ځل بيا رامنځته شوه چې لومړی ځل په ۱۳۰۰ لمريز کال کې د بشير احمد او بيا وروسته د حافظ فيض محمد تر مشرۍ لاندې چاپېده. وروسته د انيس (۱۳۰٦لمريز)، هېواد (۱۳۲٦لمريز)، کابل ټايمز (۱۳٤۰ لمريز) او جمهوريت په نومونو ورځپاڼې خپرېدې. همدارنګه په يو شمېر ولايتونو کې د اتحاد مشرقي، اتفاق اسلام، پروان، طلوع افغان، بيدار، اتحاد، وړانګه، ستوری، بدخشان، نيمروز، هلمند، سنايي او کندوز په نومونو خپرونې خپرېدې. په دې موده کې يو زيات شمېر مجلې او جرېدې هم خپرېدې چې هرې يوې يې خپل لوستونکي درلودل

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په زړه پورې موضوع گانې یې خپرولې. د افغانستان راډیو د لومړي ځل لپاره په ۱۳۱۸ لمریزکال کې خپرونې پیل او بېلا بېل پړاوونه یې ووهل چې اوسني حالت ته رارسېدلې ده. همدا راز د افغانستان د تلویزیون دستگاه د ۱۳۵۷ کال په لومړیو کې ازمېښتي خپرونې پیل کړې. د وخت په تېرېدو یې ورو، ورو خپرونې د ورځې څو ساعتونو ته ورسېدې او اوس شپه او ورځ د نړیوالې شبکې په مرسته خپرونې کوي او د نړۍ په زیاترو هېوادونو کې یې مینه وال ننداره کوي. د ورځپاڼو، مجلو او جریدو ترڅنگ د څرگندې اړتیا له مخې په ۱۳۱۹هـ. ش. کال کې "باختر آژانس" رامنځ ته او په فعالیت یې پیل وکړ. باختر اژانس د خپلو خبریالانو په واسطه له کابل او ولایتونو څخه خبرونه راټولول او د خپرولو لپاره یې راډیوگانواوگڼو نورو خپرونو ته ورکول.

که څه هم په افغانستان کې د آزادو مطبوعاتو پیلامه د امیر امان الله خان د واکمنۍ مهال ته منسوبه ده، خو په حقیقت کې د مطبوعاتو ازادي ډېر د مخه د محمود طرزي په وسیله په "سراج الاخبار افغانیه" کې پلې شوې ده. سراج الاخبار افغانیه د محمود طرزي د ازادۍ غوښتنې او پالنې ډېر څرگند ثبوت دی چې په بېلابېلو تدبیرونو یې خپل دغه ارمان ترلاسه کړی دی. د دې ادعا د ثبوت لپاره په نوموړې خپرونې کې د "حی علی الفلاح" په نامه د یو مضمون خپرول و چې په هغې کې یې د دربار د هیلو پر خلاف د هېواد خپلواکي اعلان کړې وه او په مقابل کې یې ۲٤ زره کابلۍ روپۍ جریمه شوی او خپرونه مصادره شوې وه. د امیر امان الله خان د واکمنۍ پر مهال د "انیس" په نامه د یوې خپرونې پیل د مطبوعاتو له ازادۍ سره وتړل شو. انیس د هېواد د خپلواکو خپرونو د مخکښې په توگه په (۱۳۰٦ لمریز) کال کې چاپ شو. انیس د وخت د پولیسو رژیم "د سرخ پوشو" غلو او جوارگرو په نامه تر نیوکو لاندې ونیو. په پایله کې یې د انیس اداره وتړل شوه او چلوونکی یې محاکمې ته وړاندې کړای شو. د انیس مسوول چلوونکي د خپلې منطقي او مستدلې دفاع له امله برائت وموند او د بیان او مطبوعاتو د آزادۍ د پلي کولو د اتل په توگه یې زموږ د خلکو له خوا تود هرکلی وشو. همدا راز د نسیم سحر، ندای خلق، انگار، وطن، ولس، نیلاب او

(c) ketabton.com: The Digital Library

... په نامه ازادو خپرونو فعالیت کاوه. د دې ترڅنګ د ۱۳٤۱ – ۱۳۵۲ کلونو ترمنځ په هېواد کې شاوخوا ۳۰ ازادو خپرونو فعالیت کاوه چې هرې یوې خپله تګلاره او نشراتي مشي لرله.

پر ۱۳۸۱ لمریز کال په هېواد کې د موقتي او وروسته د انتقالي اداري له راتګ وروسته د بیان او مطبوعاتو ازادي د دولت له خوا تضمین شوه. په دې بهیر کې زیات شمېر خپرونې، خبري رسنۍ، راډيوګانې، تلویزیونونه او نورې وسیلې رامنځ ته شوې. د مطبوعاتو نوی قانون د افغانستان د پارلمان له خوا تصویب شو او په دې توګه یې د بیان او د مطبوعاتو آزادۍ ته لاره هواره کړه. نن په هېواد کې شاوخوا پنځه سوه خپرونې، زیات شمېر راډیوګانې او شخصي تلویزیونونه او همدارنګه د لسو په شاوخوا کې خبري رسنۍ په فعالیت بوختې دي.

د متن لنډيز

مطبوعات د یو ولس د ویښتیا او بیدارۍ نښه ده. د رښتینو مطبوعاتو دنده د ولس رهبري ده؛ له ظالم څخه د مظلوم ژغورل دي؛ د حق او باطل ترمنځ توپیر دی؛ ښه ته ښه او بدو ته بد ویل دي چې پرمختللي هېوادونه پرې د نېکمرغۍ او سعادت لوړو پوړیو ته رسیدلي دي. په افغانستان کې مطبوعات په پرتله ییزه توګه اوږده مخینه لري. سید جمال الدین افغان له هېواده د وتلو پرمهال امیرشېرعلي خان ته د یو شمېر سلا مشورو په لړ کې د شمس النهار په نامه د یوې خپرونې د رامنځ ته کېدو سلا ورکړه. له هغه راوروسته مطبوعاتو په افغانستان کې پراختیایي بهیر پیل کړ. د امیر شېر علي خان د واکمنۍ پر مهال د لومړي ځل لپاره د شمس النهار په نامه خپرونې په خپرېدو پیل کوي. د مطبوعاتو بهیر په هېواد کې کله غځېدلی او کله هم د یو زور او قوت په څېر راڅرګند شو. په بېلابېلو رژیمونو کې یې خپلې ودې ته دوام ورکړ. نن سبا په افغانستان کې د بیان او مطبوعاتو ازادي تضمین شوې ده. زیات شمېر خپرونې، راډيوګانې، تلویزیونونه، خبري رسنۍ، برېښنايي رسنۍ، انټرنیټ او ویب پاڼې فعالیت کوي او د خلکو ارمانونه او هیلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپروي. د يادونې وړ ده چې رسنۍ او مطبوعات بايد ټولنه يو سالم لوري ته رهنمايي کړي؛ د هېواد او ولس ملي ګټو ته وفادارې وي او د پردي کلتور د خپرولو پرځای د خپل افغاني کلتور خپرېدا ته پام وکړي.

فعاليتونه

١ – لس تنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي او د رسنيو د ارزښت په اړه دې خپله پوهه او معلومات نورو زده کوونکو ته وړاندې کړي.

٢ - يو تن زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي او دې پوښتنې ته چې ولې رسنيو ته د يو دولت د څلورم رکن په سترګه کتل کېږي؟ ځواب ووايي. نور زده کوونکي دې په بحث کې برخه واخلي.

٣ – ټول زده کوونکي دې "په هېواد کې موجودې رسنۍ او د هغوی تګلوری" تر نامه لاندې په آزاد بحث کې برخه واخلي. لومړی دې د رسنيو رسالت او دنده څرګنده کړي او وروسته دې د هغو رسنيو په اړه خبرې وکړي چې پېژني يې. يو تن دې د غونډې د منشي په توګه د بحث عمده ټکي او پايلې له ځانه سره وليکي او خپل رپوټ دې چمتو کړي.

٤ – يو تن زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي او د بيان د آزادۍ د اړتيا په باره کې دې نورو ته معلومات وړاندې کړي. بل زده کوونکی دې د بيان د آزادۍ په اړه خپل نظر څرګند کړي چې آيا د بيان آزادي څه محدوديت هم لري او که نه؟

٥ – څو تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او په هېواد کې دې د رسنيو د تاريخي بهير او پراختيا په اړه خبرې وکړي.

٦ – څو تنه زده کوونکي دې په خپل ټولګي کې د يوې جريدې د جوړولو په اړوند خبرې وکړي. د ښوونکي په لارښوونه دې په عملي اقدام لاس پورې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپلو معلوماتو له مخې د اوسنيو رسنيو په اړه يو مخ ليکنه وکړي.
پورته لوستل شوی لوست دې په پام کې ونيسي. په بله ورځ دې د پښتو په درسي ساعت کې ټولګيوالو ته واوروي.

لاندې شعر ولولئ او خوند ترې واخلئ:

هر ملخی د سربازۍ له هنر څه زده
چې په دا هنر کې سر ښندي پتنګ دی
لا تر اوسه يې ماغزه په کرار نه دي
چا چې ما سره وهلی سر په سنګ دی
لا په خوب کې په لړزه پريوزي له کټه
چې د چا تر غوږ زما د توري شرنګ دی
که په دا دور مې ګوري هغه زه يم
چې مې داغ په خاطر ايښی د اورنګ دی
درست جهان مې و مغلو ته خيبر کړ
ځای ځای يې پښتانه وته قلنګ دی

«خوشحال خان خټک»

نېکمرغه هغه څوک دی چې له خپلې هرې خطا څخه
نوې تجربه تر لاسه کړي.

((سقراط))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترکیب او له جملې سره د هغه توپیر

په مخکنيو ټولګيو کې مو ګرامر پېژندلی دی. ګرامر د ژبې د جوړښت د نظام علمي شرحې ته ويل کېږي. ګرامر د يوې ټاکلې ژبې د کلمو، جملو د رغاونې او جوړښت د قاعدو سيستم تشريح او څېړي يا د ژبې صرفي او نحوي جوړښت او ساختمان تر کتنې او څېړنې لاندې نيسي؛ يعنې د يوې ژبې د کلمو د تغيير او بدلون بڼې او د هغوی ترکيب ، د جملو جوړښت او څرنګوالی بيانوي.

په دې لوست کې په ترکيب باندې خبرې کېږي.

تاسو د ترکيب په اړه څه پوهېږئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې د مخه چې ترکیب وپېژنو، ښه به وي جمله وپېژنو. د جملې د پېژندلو لپاره د نحوې پېژندلو ته اړ یو. نحوه هغه پوهنه ده چې د جملو، فقرو، عبارتونواو ترکیبونو د جوړښت له قاعدو څخه غږېږي. د جملې د اجزاوو قاعدې پکې بیان او څرګندېږي. په نحوه کې نحوي ترکیبونه او جملې د معنا او جوړښت له مخې په پام کې نیول کېږي. جمله یوه عربي کلمه ده او مجموعې ته ویل کېږي. جمله د الفاظو او کلمو داسې ترکیب دی چې یو بشپړ مفهوم افاده کوي. هغه توکي چې جمله ورڅخه جوړېږي، د جملې اجزا ورته وایي.

نحوه په ټاکلې ژبې کې د ګرامر د یوې برخې په توګه او په یوې جملې کې د کلمو د ګرامري ترکیب د یوځای کېدو طریقه، ترتیب او معنوي رابطه څېړي؛ په دې معنا چې د جملو لفظي جوړښت او معنوي رابطه او ځانګړتیاوې څېړي. ترکیب د دوو یا زیاتو (خپلواکو او نا خپلواکو) کلمو له یوځای کېدو څخه عبارت دی چې اجزا یې یو له بله سره ارتباط ولري.

څنګه چې د نحوې څېړنې د مطالعې او څېړلو اصلي او اساسي مواد جملې دي، نو په همدې توګه د کلمو ترکیب هم د جملو په جوړښت کې یو توکی یا یوه برخه ګڼل کېږي. لکه "هلک ولوېد." دا یوه ساده جمله ده چې له دوو اساسي برخو څخه جوړه شوې ده. لومړۍ برخه یې "هلک" د جملې مبتدا (فاعل - مسند الیه) او دویمه برخه یې "ولوېد" د جملې خبر (فعل- مسند) دی. که چېرته په همدې جملې کې د جملې له فاعل "هلک" سره ځینې کلمې چې نحوي رابطه سره ولري، یوځای شي، په دې وخت کې دغه مبتدا "هلک" له خپلو اړوندو برخو سره یو ترکیب جوړوي. لکه:

ښه هلک، یو ډېر هوښیار هلک، یو غښتلی تکړه هلک ... دا ډله کلمې له یو بل سره نحوي رابطه لري او په پورتنۍ جمله کې له "هلک" سره د مبتدا په توګه راځي. دې ته "ترکیب، غونډ یا عبارت" وایي. همدارنګه له "ولوېد" سره چې د جملې "خبر، فعل یا مسند" دی، یو شمېرنورې کلمې یوځای شي او نحوي رابطه سره ولري، لکه: "سخت ولوید. په زوره ولوېد. وران ولوېد. بې ځایه ولوېد." د جملې دویمه اساسي برخه (خبر) جوړوي.

په پورته اسمي ترکیب کې ګورو چې "هلک" د ترکیب اصلي جزء دی او له خپلو اړوندو کلمو سره یو اسمي غونډ بلل کېږي. په دویمه برخه کې "ولوېد" د فعلي ترکیب اساسي برخه ده؛ نو ځکه فعلي ترکیب (غونډ) ورته وایي. اسمي او فعلي دواړه ترکیبونه په ځانګړې توګه بشپړ مطلب نشي رسولای. یوازې د یو غونډ په راوړلو معنا نیمګړې پاتې کېږي. ترکیب د معنا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړښت له مخې بېل ډولونه لري.

ترکیبونه د معنا او مفهوم له مخې له کلمو سره یو شی ګڼل کېږي، مګر توپیر یې دا دی چې ترکیبونه مرکب مفهومونه څرګندوي او د نومونو او فعلونو معناګانو ته زیاته ټاکلې او مشخصه بڼه ورکوي. په دې توګه ویلای شو.

- ترکیب له دوو یا زیاتو خپلواکو یا ناخپلواکو کلمو څخه جوړېږي،
- په ترکیب کې یوه کلمه د بلې تابع ګرځي،
- په ترکیب کې د کلمو تر منځ نحوي رابطه ټینګېږي،
- ترکیب د کلمې په پرتله پراخ او مرکب مفهوم څرګندوي،
- د جملې او ترکیب تر منځ توپیر او بېلوالی اړین دی.

د جملې او ترکیب تر منځ توپیر

د جملې او ترکیب تر منځ خاص توپیر شته. هغه ځانګړتیا چې د جملې په جوړښت کې موجوده ده، په ترکیب کې نه لیدل کېږي. جمله له مبتدا او خبر څخه جوړه ده. د یوې جملې مبتدا یا خبر هر یو له (اسمي یا فعلي) ترکیبونو څخه جوړېږي. د بېلګې په توګه، په بشپړه او پوره جملې کې مبتدا او خبر او همدارنګه د هغوی اړوندې برخې ځای لري، خو په ترکیب کې دغه برخې نیمګړې وي.

په پښتو کې ترکیبونه په دوو ډلو (اسمي او فعلي) برخو بېلېږي. هره برخه بیا په خپل وار په جلا جلا ډلګیو وېشل کېږي.

اسمي ترکیبونه: دا هغه ترکیبونه دي چې د ترکیب اصلي او اساسي برخه یې نوم وي. دا اسمي ترکیبونه په جمله کې د مبتدا په برخه کې راځي.

اسمي ترکیبونه په اضافي ترکیب، توصیفي ترکیب، عددي ترکیب اونورو وېشل شوي دي.

فعلي ترکیبونه، هغه ترکیبونه دي چې د جملې د خبر په برخه کې راځي.

اصطلاح له ترکیب سره توپیر لري. اصطلاحي واحدونه هغه تعبیرونه دي چې هر ولس یې د خپل ژوندانه په چاپېریال کې د خپلو دودونو، اخلاقو او روحیاتو په چوکاټ کې په خپله ژبه کې کاروي. دا واحدونه نه یوازې په خبرو اترو کې استعمالیږي، بلکې په لیکنه کې هم کارول کېږي. اصطلاح ګانې که له یوې خوا نه د ژبې د لغوي برخې بشپړوونکي دي، له بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا يو ادبي خوند او رنګ هم لري. په ژبه کې دا ترکيبونه ځانته جلا او بېلې ځانګړتياوې لري، يعني نحوي ترکيبونه او ژبنی اصطلاح ګانې يو تر بله توپير لري.

اصطلاح ګانې يو ډول ژبني ترکيبونه دي چې د ژبې خاص عنصر او ژبني خاص ډول څرګندونو ته ويل کېږي. اصطلاح ګانې د زمانې په اوږدو کې د خلکو له خوا منځته راغلي او په ژبه کې ثابت لغوي ترکيبونه دي. ددغو ترکيبونو برخې دومره ثابتې او ټينګې اړيکې سره لري چې بېلول يې ګران کار دی.

اصطلاح ګانې د خبرو کولو پر مهال سمدلاسه نوي نه جوړيږي چې د کوم ټاکلي مطلب د څرګندولو لپاره ورځنې کار واخيستل شي، بلکې په جوړ شوي ډول د ژبې د ويونکو په حافظه کې ساتل کېږي او د اړتيا پرمهال د جوړ شوي ترکيب په توګه کارول کېږي. په خپله دغه ترکيب نېغ په نېغه معنا نه ورکوي، خو مجازي معنا ترې اخيستل کېږي. لکه:

لور په لوټه تېره کول، اوښ په بډه منډل، لوی لاس لرل، لار وهل، ژبه کول، پښه نيول، زړه خوړل، له خوشحالی نه په جامو کې نه ځاييدل، تر بوسو لاندې اوبه تېرول، جګ لو کول، سر ټکول، سر تندی وهل، خوا سړول، سور او شين اوښتل، زړه تشول، غم خوړل، لاس اخيستل، تار اچول، د اسمان کټ، نوک او ورېځ، د لستوني مار، د غاړې غور، د شړومبو مچ.

اصطلاح ګانې د معنا او جوړښت له مخې دا لاندې نښې لري:

۱ـ ثابت داخلي ترکيب چې په ګډه يو عمومي معنا او مفهوم څرګندوي. په اسمي او فعلي ترکيبونو کې يې اهميت يو شان دی. اصطلاحي فعلي ترکيبونه که څه هم د مرکبو فعلونو په څېر ښکاري، خو له مرکبو فعلونو څخه توپير لري، ځکه په ثابتو فعلي ترکيبونو کې له ټولو ترکيبونو سره ګډه عمومي معنا ورکوي.

۲ـ اصطلاح ګانې له هغو توکو څخه جوړيږي چې په يو ثابت ترکيب کې خپله لغوي معناله لاسه ورکړي. که چېرته ددغه ثابت ترکيب واحدونه بېل بېل معنا شي، نو خپله ټاکلې اصطلاحي معنا له لاسه ورکوي.

د بېلګې په توګه، "لار وهل"، "ژبه کول"، "غم خوړل"، "زړه خوړل". که ددغو بېلګو هره برخه يعنې هر يو توکی يې په جلا جلا توګه معنا کړو، نو بيا هغه خاصه اوټاکلې معنا نه ورکوي. ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

"لار وهل"کې د تگ معنا پرته ده. په لغوي معناکې يې "لار" او "وهل"کوم معنوي ارتباط سره نه لري. يا ژبه اوکول سره جلا مفهومونه دي.

۳_ له ترکيبونکو توکوڅخه عمومي معنا لاس ته راځي؛ يعنې ټول ترکيب د يو واحد مفهوم په توگه معنا ورکوي.

٤_ په اصطلاحي واحدونو کې ځينې محاورې او متلونه هم راتلای شي او همدارنگه د ليکوالو او پوهانو غوره ويناوې هم پکې شاملې دي، لکه:

پوره ورک دې کړه دوه کوره. د کبر کاسه نسکوره ده.

٥_ اصطلاح گانې ټکي په ټکي نه ژباړل کېږي.

٦_ هره ژبه جلا او خاص اصطلاحات لري.

٧_ اصطلاحي توکي د خپلو معنوي ځانگړنو له مخې له نورو ازادو ترکيبونو سره توپير لري.

٨_ په ژبې کې دغه ترکيبونه ثابت وي، نوي نه جوړيږي.

٩_ اصطلاحي توکي د نورو ازادو لغتونو په څېر د ژبې په لغوي سيستم کې موجود وي.

د متن لنډيز:

ترکيب، اصطلاح او جمله بېلا بېل نحوي مطالب دي. د جملو، فقرو، عبارتونو او ترکيبونو د جوړښت له قاعدو څخه نحوه خبرې کوي. جمله د الفاظو اوکلمو داسې ترکيب دی چې يو بشپړ مفهوم افاده کوي. هغه توکي چې جمله ورڅخه جوړيږي، د جملې اجزا ورته وايي. ترکيب د دوو يا زياتو (خپلواکو او نا خپلواکو) کلمو له يوځای کېدو څخه عبارت دی چې اجزا يې يو له بله سره ارتباط ولري. دکلمو ترکيب د جملو په جوړښت کې يو توکی يا يوه برخه گڼل کېږي. ترکيب او اصطلاح د کارونې خپل خپل ځايونه لري. ترکيب رامنځته کېږي او اصطلاح گانې رامنځ ته شوې کلمې دي، په ټولنې کې خپلې ځانگړې او ټاکلې معناگانې لري. اصطلاح د يو مطلب د ښه بيان لپاره کارول کېږي. ترکيبونه او اصطلاح گانې د يوې ژبې د فرهنگ د بډاينې څرگندوی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعاليتونه

۱ـ زده کوونکي دې پر پنځو ډلو وويشل شي. هر يوه ډله دې په وار د کلمې، ترکيب، اصطلاح، متل او جملې پېژندنه وکړي. بېلګې دې راوړي. د هرې ډلې استازی دې خپل معلومات نورو زده کوونکو ته وړاندې کړي.

۲ـ يو تن زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي او په ژبه کې دې د اصطلاح ګانو او د هغې د پانګې او ژبني ارزښت او بډاينې په اړه نورو ته معلومات ورکړي.

۳ـ يو تن زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي او د ټولو زده کوونکو په ګډه مرسته دې د پښتو اصطلاح ګانو يو لېست پر تختې وليکي. ټول زده کوونکي دې هغه په خپلو کتابچو کې يادداشت کړي.

٤ـ يو تن زده کوونکی دې د ټولګي په وړاندې اصطلاح ګانې د معنا او جوړښت له مخې نورو ته بيان کړي.

۵ـ د جملې او ترکيب ترمنځ څه توپير موجود دی او په پښتو کې ترکيبونه په څو ډوله دي؟ دوه تنه زده کوونکي دې په خپله ګډه مرسته نورو زده کوونکو ته په دې اړه څرګندونې وکړي.

٦ ـ جمله له څو برخو څخه جوړه شوې ده؟ يو تن دې پرې خبرې وکړي.

کورنی دنده

زده کوونکي دې په خپله خوښه يوه موضوع وټاکي. د هغې په ليکلو کې دې اصطلاح ګانې وکاروي. د ليکنې په پای کې دې يو شمېر اصطلاح ګانې راټولې کړي چې په ټولګي کې نه وي ويل شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو قصيده: شيخ اسعد سوري

په پخوانيو ټولګيو کې مو د نظم او نثر په اړه معلومات تر لاسه کړي دي. نثر خپل جوړښت لري او نظم خپل. نظم هغه وينا ده چې وزن او قافيه ولري. مثنوي، بولله (قصيده)، غزل، رباعي، قطعه او نور د نظم بڼې دي. دلته پر قصيدې، د هغې پر جوړښت او په پښتو کې د قصيدې پر مخينه غږېږو. تر دې د مخه چې قصيده وپېژنو، ښه به دا وي چې شيخ اسعد سوري وپېژنو چې په پښتو ادبياتو کې يې قصيده د لومړنۍ معلومې قصيدې په توګه پېژندل شوې ده. د قصيدې په اړه لږ معلومات لرو، هغه هم د پټې خزانې په واسطه تر موږ را رسېدلي دي.

ـ تاسو څه فکر کوئ چې د يوې قصيدې د بيتونو ډېر لږ شمېر به څو وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټه خزانه له "تاريخ سوري" څخه د "لرغوني پښتانه" د ليکوال، شيخ کټه په حواله ليکي چې اسعد سوري په غور کې استوګنه درلوده. هلته د سوري کورنۍ په دربار کې د درناوۍ وړ يو شاعر و. د پلار نوم يې محمد و. په ٤٢٥ هجري کال کې په بغني (د هلمند د زمينداور سيمه) کې مړ شو. نوموړی ډېر ښه شاعر و. کله چې سلطان محمود غزنوي پر غور بريد وکړ او له امير محمد سوري سره يې جګړه ونښته، نو امير يې د آهنګرانو په سيمه کې کلابند کړ. دغه مهال شيخ اسعد هم د هغه ځای په کوټ نومې سيمه کې و. سلطان محمود غزنوي امير محمد سوري له ځانه سره بندي غزني ته يوړ. امير محمد سوري له ډېره غيرته په بند کې مړ شو. شيخ اسعد سوري چې د اميرمحمد سوري دوست و، د هغه پر مرګ يوه بولـله وويله.

بولـله يا قصيده هغه نظم ته وايي چې تر يوې مطلع لاندې ويل کېږي. د ټولو دويمو نيم بيتيو قافيه يې د لومړي بيت له قافيې سره يوشان وي. اوږده او ډول ډول مضامين پکې راوړل کېږي. د بيتونو شمېر يې له شپاړسو څخه نيولې بيا تر دوو سوو پورې رسېږي. عموما د ستاينې، ويرنې، پند او نور اوږده موضوعات پکې بيانېږي. قصيده معمولاً په تشبيب پيلېږي. تشبيب د قصيدې لومړني بيتونه دي چې د قصيدې له اصلي موضوع څخه بهر د بلې موضوع په اړه؛ په ځانګړې ډول د ځوانۍ او په هغې پورې د اړوند حالت، لکه د مينې او طبيعت په ستاينې کې ويل کېږي. له تشبيب وروسته په قصيده کې اصلي موضوع په تفصيل سره بيانېږي. قصيده پښتو ادبياتو ته له اسلام وروسته راغله او ډېر ژر د پوخوالي کچې ته ورسېده.

د پټې خزانې له پيدا کېدو د مخه د پښتو د لومړۍ قصيدې په اړه چاته سمه پته نه وه. ددغه مهم اثر له پيداکېدو سره سم د پښتو يو شمېر غوره قصيدې تر لاسه شوې. په دې لړ کې د پښتو معلومه لومړۍ قصيده هم تر لاسه شوه. دغه قصيده د شيخ اسعد سوري قصيده وه چې د اميرمحمد سوري په مړينه يې ويلې وه. دا هم څرګنده شوه چې په غور او غزني کې د دې پېر موجودو شاعرانو قصيدې ويلې وې او دغه فن مخ په بشپړتيا او پوخوالي روان و. له بلې خوا قصيده يوه داسې وسيله وه چې د پاچاهانو د خوښۍ غونډې پرې تودې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي. د خپګان او غم پر مهال هم ویل کېدې او دومره سوز او ګداز به په کې موجود و چې د کاڼو زړونه به یې هم ویلې کول. کله ناکله به یې ځوانان د جګړې په ډګر کې مبارزې ته هم رابلل.

د تاریخ په اوږدو کې قصیدې ډېر پړاوونه وهلي دي. د پښتو قصیده هم همداسې درواخلئ چې د موضوع له مخې یې بېل بېل اړخونه لرلي دي.

د غوریانو او سوریانو په پېر کې که څه هم پښتو قصیده د پاچاهانو د مدحې اوستاینې په خدمت کې ولاړه وه، خو بیا یې هم پښه له پښتنې چاپېریاله بهر ایښې نه ده. د شیخ اسعد سوري قصیده له هغو قصیدو څخه ده چې ساری یې موږ په هغه وخت کې نه وینو. د غوریانو په پېر کې پښتو قصیدې په فني او ادبي لحاظ د خپل وخت په قصیدو کې لوړ دریځ خپل کړی دی.

د شیخ اسعد سوري په قصیده کې ملي او ټولنیز احساسات له ورایه بریښي.

نوموړې قصیده په لاندې ډول ده:

د فلـک لـه چـارو څـه وکـړم کـوکـار
زمـولـوي هـرګـل چـې خـانـدي پـه بـهار
هـر غـټـول چـې پـه بـیدیا غـوړېـده وکـا
ربـړوي یـې پـاڼـې کـانـدي نـار پـه نـار*
ډېـر مـخـونـه د فـلـک څـپـېړه شـنـه کا
ډېـر سـرونـه کـا تـر خـاورو لانـدې زار
د واکـمـن لـه سـره خـول پـرېـباسـي مـړ سي
د بـې وزلـو ویـنـې تـوی کـانـدي خـونـخـوار
چـې لـه بـرمـه یـې زمـري ربـې ځنګلو کې
لـه اوکـوبـه یـې ډاري تـېـرو جـبـار
هـم یـې غـشـی سـکـڼـي ډال د ژوبـلـورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

رستمان څني څغلا کاندي په ډار
چې يې ملاوې نه کړېږي په غښتليو
دا فلک پر وکا څه کاري ګذار؟
په يوه ګردښت يې پرېباسي له برمه
نه يې غشي، نه ليندۍ وي نه يې سپار
څه تېرى څه ظلم کاندې اې فلکه!
ستا له لاسه نه دى هېڅ ګل بې له خار
په ويرژلو، لور نه کړې په زړه کراړيه
پر نتليو اوروې د غم ناتار
هېڅ روغى مې په زړه نسته ستا له څوره
بېلوي په ژړا ژړ مين له يار
له تېريو * دې اوښې خاخې له اوريځو
چيني ژاړي په ورت ورت ستا له شنار
نه به لاس واخلې له څوره نه به لورې
نه به ملا کړې، له بې وزلو له ترار
نه به زړه وسوځوې په هېچا باندې
نه به پرېوزې له ګردښته له مدار
نه به وصل کړې مين له بل مينه
نه به درملې ټپونه د افګار
ستا له لاسه دي پراته ژوبل زګېروي کا
هر پلو ته ټپي زړونه په څار څار
کله غوټې کاندې مراندې د زړګيو
کله تېر باسې وګړي هوښيار
کله ټکى واچوې پر نازوليو
کله ښېري کړې ګرېوان د نمنځي چار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله غورځوي واکمن له پلازونو
کله کښېنوي په خاورو کې بادار
زموږ پر زړونو دې نن بیا یو غشی وویشت
ودې ژوبلله په دې غشي هزار
پر سوریو باندې ویر پرېوت له پاسه
محمد واکمن چې ولاړی په بل دار
یو وار سو اسیر په لاس د میرخمنو
انتقال یې وکړ قبر له بل وار
په سماو* یې ودان أهنگران و
په ټیکنه و پر درست جهان اوځار
د محمود د ژوبلورو په لاس کښېوت
چې غزنه ته یې باتلی په تلوار
ننګیالیو لره قید مړینه ده ځکه:
سه * یې والوتله هسک ته پر دې لار
تر نړۍ یې غوره خاورې، هدیره کا
د زمریو په بېرېو *کله وي خوار
په دې ویر د غور وګړي تور نمري * سول
په دې ویر، رڼا تیاره سوله د ښار
ګوره ځاځي رڼې اوښې له دې غرونو
دا کړونګی * ساندې لي په شور هار
نه هغه زرغا د غرونو، د بېدیا ده
نه د زرکیو په مسا دی کټهار
نه غټول بیا زرغونېږي په لاښونو
نه بامي بیا مسېده کا په کهسار
نه له غرجه بیا راځي کاروان د مشکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه رادرومي غور ته بيا جوړې د شار
د پسرلي اوره تودې اوښې توينه
مرغلرې به نيسان نه کړي نثار
دا په څه چې (محمد) ولاړ له نړيه
په ويرنه يې سو غور ټول سوګوار
نه ښکارېږي هغه سور د سور په لټو
نه ځلېږي هغه لمر پر دې ديار
چې به نجليو په نڅا پکې خندله
چې به پېغلو کا اتڼ کتار کتار
هغه غور په وير ناتار د واکمن کښېوست
هغه غور سو د جاندم غوندې سور اړ
لاس دې مات سه اى فلکه چې دې وکا
محمد غوندې زمرى د مړينې ښکار
شين زړګى فلکه! ولې لا ولاړ يې؟
اې د غور غرونو په څه نسوئ غبار؟
مځکې! ولې په رېږدلو نه پرېوزې؟
لاندې باندې سه! چې ورک سي دا شعار:
چې زمري غوندې واکمن ځي له جهانه
چې ځوک نه کړي په نړۍ باندې قرار
سخ په تا اى (محمده) د غور لمر وې!
په نړۍ به نه وي ستا د عدل سار
ته پر ننګه وې ولاړ په ننګ کې مړ سوې
هم پر ننګه دې په ننګه کا ځان جار
که سوري دې په تګ وير کاندي ويرمن سول
هم به وياړي ستا په نوم ستا په ټبار

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه جـنـت کـې دي وه تـــون زمـــوږ واکـمـنـه
هــم پــه تـــا دي وي ډېـــر لـــور د غـفـار

* * *

*نار په نار: په اصل کې په همدې بڼه دی. ښايي تار په تار وي.

*تېرى: تېرى، تعدى، ظلم او تجاوز

* سماو: سم، درست، راست

* سه: ساه

* بېړيو: زولنې

* تور نمري: سياه پوش

*کړونګى: ځړوبى

سور: خوشحالي

سور: د قوم نوم دى

سار: سارى، بېلګه

د متن لنډيز:

قصيده د پښتو د نظم د نورو ډولونو په څېر په پښتو کې اوږده مخينه لري. قصيده معمولاً په تشبيب پيليږي. تشبيب د قصيدې لومړني بيتونه دي چې د قصيدې له اصلي موضوع څخه بهر د بلې موضوع په اړه د طبيعت د ستاينې او يا هغې ته پر ورته موضوع پيليږي. قصيده پښتو ادبياتو ته له اسلام وروسته راغله او ډېر ژر د پوخوالي کچې ته ورسېده. د ادبي تاريخ له پاڼو ځرګنديږي چې قصيده په پښتو کې پخوا هم موجوده وه او د خپل پوخوالي پوړۍ يې وهلې وې. د شيخ اسعد سوري قصيده د پښتو قصيدو په تاريخ کې د زيات ارزښت وړ ده او له ادبي پلوه هم يوه پخه بولله ګڼل کيږي. دا قصيده شيخ اسعد سوري د امير محمد سوري د مړينې په وير کې ويلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې پر څو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د ډلې د غړو په مرسته په پښتو کې د غزل، دویمه ډله د مثنوي، دریمه د رباعي او څلورمه د قصیدې په اړه معلومات له بېلګو سره ولیکي. بیا دې نورو ټولګیوالو ته واوروي.

۲ـ یو تن زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي، د تشبیب په اړه دې څرګندونې وکړي او بېلګه دې په متن کې د قصیدې له مخې ولولي.

۳ـ یو بل زده کوونکی دې ټولګي مخې ته راشي او د شیخ اسعد سوري د قصیدې د متن اصلي ویرنه دې ولولي او د هغې په اړه دې څرګندونې وکړي.

٤ـ زده کوونکي دې په پورته قصیده کې د شیخ اسعد سوري ملي او ټولنیز احساسات په ګوته کړي او د هغو په اړه دې خبرې وکړي.

٥ـ زده کوونکي دې په پورته متن کې اسمي ترکیبونه وګوري او ودې یې لیکي.

٦ـ د ترکیب او جملې پر توپیر دې څو تنه زده کوونکي خبرې وکړي. نور دې ورته غوږ کېږدي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پښتو ادبیاتو ته د قصیدې او د نظم د نورو بڼو د رانوتلو بهیر په ډېر لنډ ډول وڅېړي او د یوې لنډې مقالې په توګه دې په بله ورځ په ټولګي کې په وار ولولي.

د دروغجن سزا دا ده چې څوک یې پر رښتیا خبره هم باور نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپېریال ساتنه

د اوسېدو او ژوند ځای ته چاپېریال وايي. ټول ژوندي موجودات د خپلې استوګنې لپاره يو ځای ټاکي. انسانان په کلو، بانډو او ښارونو کې اوسېږي. هر شی چې د دوی د اوسېدو پرځای په يو ډول نه يو ډول اغېز کوي، چاپېریال ورته وايي. الوتونکي، ښاروي، د سيندونو او سمندرونو ژوي، ځنګلي او د دښتو او بيدياوو ژوي ټول خپل خپل ځانته د اوسيدو چاپېریال لري. په ځينو حالتونو کې يو شمېر ژوو د خپل پوستکي رنګ د اړونده چاپېریال له رنګ سره يوشان کړی. موخه يې له زيان څخه د ځان ژغورل او پايښت دی. تر ټولو اړينه داده چې چاپېریال بايد د ژوند ټولې اړتياوې په داسې توګه تامين کړي چې موجوديت او دوام يې له ګواښ سره مخامخ نشي.
څنګه کولای شو د خپل چاپېریال اړين توکي د پای ته رسېدو له ګواښ څخه وژغورو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند کولو ځای ته چاپېريال وايي. په دې کې د يوه ژوندي موجود شاوخوا ټول شيان او توکي چې په يو ډول نه يو ډول يې ژوند تراغېز لاندې راولي، شامل دي. د انسان د ژوند په چاپېريال کې د هغه کور، د کور شاوخوا، اوبه، ځمکه، چمنونه، ونې، باغونه، سيندونه، غرونه، ځنګلونه او داسې نور شامل دي. دا هر يو په خپل وار د انسان او بل هر ژوندي موجود پر ژوند په مستقيم او غير مستقيم ډول اغېز کوي.

د هرې ورځې په تېرېدو د انسانانو شمېر زياتيږي. د تازه معلوماتو (۱۳۸۸ لمريز کال) له مخې په منځني ډول هره ورځ شاوخوا درې سوه درې پنځوس زره ماشومان زېږي او شاوخوا ۱٤٦ زره خلک مري. په دې توګه هره ورځ د نړۍ په نفوس کې له دوو سوو زرو څخه زيات زياتوالی رامنځ ته کېږي. د نفوسو دا زياتوالی پر چاپېريال اغېز کوي؛ هغوی د استوګنې ځای ته اړتيا لري؛ اوبه اوخواړه غواړي؛ جامې، پوښاک او درمل غواړي؛ ښوونې او روزنې ته اړتيا لري او په سلګونو نورې داسې اړتياوې. په داسې حال کې چې د چاپېريال يو شمېر توکي د نفوسو په څېر نه زياتيږي او موجوده اندازه يې د لګښت له مخې پای ته رسيږي، لکه: ونې او ځنګلونه (که ووهل شي او نور يې پر ځای کښېنول شي)، کاني زېرمې، کرنيزې ځمکې او نور.

په چاپېريال کې ژوندي او ناژوندي موجودات شته. ژوندي موجودات په خپل منځ او همدارنګه له ناژونديو موجوداتو، لکه: خاورې، اوبو، ګازونو او نورو سره متقابلې اړيکې لري. دا اړيکې د ژوند چاپېريال ته ډېرې اړينې دي. د ايکو سيستم دا اړيکې څېړي. هغه سيستم چې د ايکو سيستم (Eco System) څېړي، د ايکولوژۍ (Ecology) په نامه يادېږي.

د چاپېريال د پاک ساتنې موضوع په روانې پېړۍ کې د ټولو اوسېدونکو د اندېښنې وړ ګرځېدلې. زموږ د ژوند چاپېريال ورځ په ورځ ککړېږي او د ژونديو موجوداتو ژوند له ګواښ سره مخ کوي. ننۍ نړۍ د بشري تمدن د پرمختګ، د معاصرې ټکنالوژۍ پر پراختيا او د نفوسو د زياتوالي له امله په ځمکې او هوا کې د ککړتيا له ستونزو سره مخامخ شوې ده. د روغتيايي ريوټونو له مخې د همدې ککړتيا له امله د نړۍ د نفوسو په سلو کې شل ببلا بېلې ناروغۍ ګواښوي. جګړې او په جګړو کې د مختلفو وسلو کارول يو بل ګواښ دی چې چاپېريال ککړوي. په جګړو کې د ځنګلونو له منځه وړل، د کروندو او اوبو زهري کول او داسې نور هغه کارونه دي چې د ژوند کړۍ تنګوي او ستونزې زېږوي.

د اوسني پېر يوه بله ډېره مهمه ستونزه د اوبو ککړتيا ده. دا ستونزه د ټکنالوژۍ او صنايعو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمختګ لا پسې پراخه شوې ده. د نوي صنعت لپاره د سکرو ډېرې او تېل انرژي توليدوي. د دې توکو زياته کارونه چاپېريال، په تېره بيا اوبه او ځمکه ککړوي.

کولای شو د باغونو، شنو سيمو، پارکونو او د سيل د ځايونو د جوړولو له لارې خپل چاپېريال خوندي کړو. د شنو سيمو جوړول ژوندي موجودات له ګواښ څخه ژغوري. ځنګلونه چې په خپله يوه ژوندۍ ټولنه ده، د چاپېريال عمده توکي دي. د ځنګلونو وهل او د ونو پرې کول، نه يوازې چاپېريال له ګواښ سره مخامخ کوي، بلکې په هغه کې د موجودو ژوو ژوند ته هم سترګواښ بلل کېږي.

د چاپېريال ساتنه د يو ځانګړي شخص، يا ټولنې او کومې موسسې کار نه دی. دا د هر چا دنده ده چې په خپل وار، له خپل نژدې چاپېريال، کور، څخه نيولې بيا د خپل ښار او پارکونو د پاکولو له لارې خپل چاپېريال ځانته ورغوي. د ونو کرل، د پارکونو جوړول، د ځنګلونو او په هغو کې د ژوو ساتل او پالنه، له اوبو څخه په ټاکلې اندازه ګټه اخيستل، د هغو توکو لږ کارول يا نه کارول چې لوګي يې هوا ککړوي او ډېرې نورې هغه لارې چارې دي چې هرڅوک کولای شي تر خپلې وسې پورې يې عملي کړي او په دې توګه د چاپېريال د ککړتيا مخه ونيسي.

د متن لنډيز:

هر هغه څه ته چاپېريال وايي چې زموږ شاوخوا ته پراته دي او موږ يې احاطه کړي يو؛ زموږ ژوند وربورې اړوند دی او زموږ د ژوند د دوام وسايل چمتو کوي. ټول ژوي که پر ځمکه دي، که په اوبو او يا د سمندرونو په تل کې، ټول غرونه، دښتې، ځنګلونه او دريابونه د ژوند د چاپېريال يوه برخه ده. په چاپېريال کې ټول شيان د تل لپاره موجود نه وي، يو څه يې د ورځنې لګښت له مخې پای ته رسيږي او نه نوي کېږي. له دې امله بايد د هغې په لګښت کې پوره پام وشي او د راتلونکو نسلونو د ګټې اخيستلو لپاره پرېښودل شي. د دې ترڅنګ چې چاپېريال په بشري ژوندانه مستقيمې اغېزې لري، بايد په شعوري توګه هم په خپله په چاپېريال پام وکړو او هم د نورو پام هغې ته راواړوو. د استوګنې شاوخوا پاکه وساتو، نيالګي کښېنوو، ونې او ځنګلونه و نه وهو، مرغان، الوتونکي او کبان بېرحمانه ښکار نه کړو، موجود چمنونه او شنه ځايونه وساتو او نوي هغه جوړ کړو. څومره چې يو چاپېريال پاک، ښکلی او په زړه پورې وي، په هماغه اندازه ژوند نېکمرغه، آسان او روغ وي. روغ چاپېريال زموږ ستاسو ټولو د نېکمرغه ژوند ضامن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ چاپېریال څه ته وايي؟ څو تنه زده کوونکي دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي او خپلې څرګندونې دې وړاندې کړي.

۲ـ زده کوونکي دې په مناسبو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې د چاپېریال د ارزښت او د هغې د پاکوالي په اړه خپل رغنده عملي نظرونه ولیکي او د یو وړاندیز په توګه دې چمتو کړي. بیا دې د ډلو استازي په ګډه هغه توحید کړي او د یو بشپړ وړاندیز په توګه دې ولیکي او ټولګي ته دې ولولي.

۳ـ دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې په چاپېریال کې د څو شیانو او توکو نمونه واخلي او څرګنده دې کړي چې له دغو توکو څخه څنګه ګټه واخیستل شي.

٤ـ ځنګلونه د چاپېریال په ښکلا او پایښت کې څه رول لري؟ یو تن زده کوونکی دې په دې اړه معلومات وړاندې کړي.

٥ـ په چاپېریال کې ژوندي او ناژوندي موجودات یو له بله څه اړیکې لري، دا اړیکې په چاپېریال څه اغېزه کوي؟ یو زده کوونکی دې په دې هکله رڼا واچوي او بل یو دې د ناژوندیو موجوداتو نمونه واخلي او ودې وایي چې دا اړیکې کوم سیستم څېړي او څنګه؟

٦ـ زده کوونکي دې په پورته متن کې صفت او موصوف په ګوته کړي او نورو زده کوونکو ته دې بیان کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپل کلي، ښار یا ښوونځي د چاپېریال د پاک ساتلو په اړه خپل وړاندیزونه په منظمه توګه تنظیم او ترتیب کړي. په راتلونکي درسي ساعت کې دې خپل دغه وړاندیزونه له نورو ټولګیوالو سره شریک کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ادبیاتو دویمه تاریخي دوره

په مخکنیو ټولګیو کې مو پر ادبیاتو خبرې کړې دي. شفاهي یا ولسي ادبیات مو له لیکلو ادبیاتو څخه بېل کړي دي. شفاهي ادبیات د ټولنو له رامنځته کېدو سره سم رامنځ ته شوي دي. هره یوه ټولنه خپل دود، رسم و رواج او فرهنګ د ولسي ادبیاتو په هینداريې کې نورو ته ورښيي. د شفاهي ادبیاتو پیل نشي څرګندېدای، خو لیکلي ادبیات هرو مرو له یو تاریخي پړاو سره تړاو لري. پښتو لیکلي ادبیات ډېر لرغوني دي. تاریخي پېښو، کوچېدنو، تاړاک، زېښناك او نیواك د هغې زیاتې برخې تر خاورو لاندې کړې دي. که موږ د لیکلو ادبیاتو په اړه خبرې کوو، نو باید کره لاسوندي یې ولرو چې له بده مرغه زیات شمېر یې په لاس کې نشته. بیا هم د لا ښې پېژندنې لپاره پښتو ادبیات په درېو دورو وېشل شوي دي؛ لرغونې دوره، منځنۍ یا کلاسیکه دوره او معاصره دوره. په لسم ټولګي کې مو د پښتو ادبیاتو په لرغونې دورې خبرې کړې دي. د معاصرې دورې په اړه به په دولسم ټولګي کې معلومات تر لاسه کړو. دلته د پښتو په منځنۍ یا دویمې تاریخي دورې غږیږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ادبياتو دويمه دوره چې د پښتو ادبياتو د تاريخ منځنۍ دوره هم ورته ويلای شو، د لسمې هجري پيړۍ له نيمايي پيلېږي او د څوارلمسې هجري پېړۍ تر لومړيو دريو لسيزو پورې رارسيږي. د پښتو د ادبي تاريخ دويمه دوره له لومړۍ دورې څخه له هره پلوه توپير لري. په دې دوره کې پښتو ادبيات د افغانستان، پښتونخوا او هند په سيمو کې له ځينو ملي، مذهبي او پښتني غورځنګونو سره په تړاو راټوکېږي او وده کوي. د سيمې د هغه مهال فرهنګي ادبي جريانونه پر پښتو ادبياتو خپل اغېز ښندي او د همدغو جريانونو په پيروۍ په پښتو ادب کې ځانګړې سبکونه پيدا کېږي او خپل ځانګړي پيروان مومي.

ددې دورې يوه ستره ځانګړنه دا ده چې بشپړ او مکمل ادبي آثار يې زموږ په لاس کې دي. په دې دورې پورې اړوند په سلګونو پښتو ديوانونه، په سلګونو کيسه ييز آثار او په زرګونو ولسي سندرې له موږ سره شته چې د پښتو د ادبي تاريخ د يوې سترې پانګې په توګه هر اړخيز بحثونه پرې کولای شو.

په دې دوره کې له ګاونډيو ژبو سره د پښتو ادبياتو تړون هم پراختيا مومي. له عربي، فارسي او له همدې ژبو څخه پښتو او له پښتو څخه ځينو دغو ژبو ته د آثارو د راکړې ورکړې مسئله هم خپلو لوړو پړاوونو ته خيژي.

د پښتو د ادبي تاريخ دويمه دوره څو پړاوونه لري. په هر پړاو پورې اړوند آثار د ټوکېدو د شرايطو، خپلو خصوصياتو او فکري هنري اغېز د منلو له امله يو اوږد واټن رانغاړي. د دې خبرو معنا دا ده چې کله موږ پر روښانيانو بحث کوو، دا بحث له بايزيد روښان څخه پيلېږي چې د فرهنګي هڅو وخت يې د لسمې هجري پېړۍ دويمه نيمايي ښوول شوې او په قادر داد ورکړې پای ته رسيدلی دی. دا کسان بيا د دولسمې پېړۍ خلک دي. حال داچې له بايزيد او د ده له پيروانو سره په يوه وخت اخوند درويزه هم پښتو ته مخه کوي. په پښتو آثار ليکي او ژباړي او ځينې نور کسان په ادبي هڅو لګيا دي.

دا دوره له روښاني غورځنګه پيل او همداسې پسې په اخوند درويزه او د ده پر پيروانو، بيا د خوشحال خټک،رحمان بابا، هوتکيانو او د احمدشاهي پېر تر نورو فکري او فرهنګي بهيرونو رارسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لسمې او يوولسمې هجري پيړيو په ترځ کې د روښانيانو، اخوند درويزه او د ده د سبک پلويانو او هم د همدې زمانې د ځينو مبلغو او صوفي شاعرانو، ناظمانو او ليکوالو آثار د خپلو شکلي جوړښتونو له پلوه ډېره سره نژدې يو رنګي لري. موضوعات يې هم تر ډېره سره يو شی دي.

که څه هم اخوند درويزه له روښانيانو سره مخالفت درلود، ده او د ده ځينو پلويانو د روښانيانو پر ضد ليکنې هم کړې دي، خو هغه ليکنې له ځينو شخصي او نظرياتي اختلافاتو رازېږېدلې دي. دغسې اختلافي ليکنې د بېلتانه د يوې داسې کرښې په توګه نشو منلای چې د دواړو ډلو آثار د ځانګړنې له مخې سره بېل کړو. د روښانيانو او اخوند درويزه دواړو په آثارو کې عرفان (تصوف) او د عرفاني لارو د بنسټونو په خپلولو سره ځان الهي ذات ته نژدې کول، د نفس تزکيه، د زړه سپېڅلتيا، د اسلام د مقدس دين د اساساتو بيان، د اسلام د مقدس دين د لارښوونو په رڼا کې د خلکو اخلاقي روزنه، پندونه، نصايح او نور دې ته ورته مطالب د دې دريو واړو ډلو له خوا په ژباړل شوو، ليکل شوو او پنځېدلو اثارو کې ليدل کېږي. د اهدافو همدا ورته والی موږ اړ باسي چې د دغو دريو واړو ډلو اثار په يوه پړاو کې و څېړو او د دويمې ادبي دورې د لومړي پړاو نوم پرې کېږدو.

د دويمې دورې په دې پړاو کې د ادبي آثارو د زياتو نسخو او ډېرو برخو شتون موږ پر دې باوري کوي چې دغه مهال په پښتنو کې د لوستو او زده کړو خلکو شمېر يو څه ډېر شوی او خلکو د کتاب ساتنې او کتاب لرنې له دود سره مينه ښوده. حال دا چې تر دې پړاو د مخه د لومړۍ دورې د آثارو ځينې د ګوتو په شمېر بېلګې له موږ سره دي چې هغه هم ځينو تذکرو تر موږ رارسولې دي.

ددې پړاو آثار له شکلي پلوه نيم منظوم، منظوم اومنثور دي. د نيم منظوم، مسجع يا مقفی نثر د ليکلو دود همدا مهال د بايزيد له خوا پيل شو.

ددې پړاو په منثوروآثاروکې پر نورو سربيره د علي محمد مخلص او ارزاني روښاني رسالې د يادولو وړ دي. د دې رسالو نثرونه سجع نه لري او د هغه وخت له شرايطو سره سم روان

(c) ketabton.com: The Digital Library

نثر بلل کېدای شي. د اخوند میا داد په نثرونو کې د ده "نورنامه" نیم منظوم سبک پالي، خو په دیوان کې یې منثورې ټوټې د کلمو په پای کې قافیې ته پام کوي.

که د دې پړاو آثار د هنري ځانګړتیاوو له مخې د لومړۍ دورې له ځینو بېلګوسره پرتله کړو، نو د پرمختیا څرک پکې نه لګیږي. باید ووایو چې د دې دورې زیاتره اثار عرفاني دیني او اخلاقي مسایلو ته بېل شوي دي. په ځینوځتونو کې ددغسې اهدافو لرونکي شاعران او لیکوال د نظم د شعریت خواته ډېر پام نه کوي او هیله یې دا وي چې د خلکو د زده کړې په موخه خپل آثار په منظومه بڼه وړاندې کړي.

په دې پړاو کې عرفان د یوه مسلک په توګه پښتو ادبیاتو ته لار پیدا کوي او د عرفاني آثارو څرکونه چې د پښتو د ادبي تاریخ د لومړۍ دورې له خورو ورو پاڼکو راایستل کېدای شي، په دې پړاو کې په مکتبي بڼه خپل وزرونه غوړوي. د دې پړاو په اشعارو کې غزلې، قصیدې، رباعي، مثنوي، قطعې، مربع او مخمس اشعار پیدا کېږي. په دې شعري ځیلونو کې مربع او مخمس داسې شعري ځانګې دي چې په لومړۍ ادبي دوره کې یې څرک نشو لګولای. په دې پړاو کې ددغو دریو نوو ځانګو شتون د پښتو په شعري ځیلونو کې د پراختیا یو څرک په لاس راکوي. په دې پړاو کې پښتنې فرهنګ له اسلامي فرهنګ سره خورا زیات نژدې شو او د اسلامي فرهنګ ډېرو اساسي مسایلو ته یې لاره پیدا کړه. ډېرې اسلامي، دینې او عربي فرهنګ ته ورته کیسې پښتو ته واوښتلې. د پښتو کوم آثار چې موږ له لومړۍ دورې څخه په لاس کې لرو، دا ډول ځانګړتیاوې نه لري. ځینې مهم دیني او فقهي آثار په پښتو ژباړل شوي دي، لکه خلاصه کیداني، قصیده بردیه، قصیده سریاني، نورنامه، خلاصة الاسلام او نور. د دې ترڅنګ د پارسي او عربي ژبو له عمده اسلامي آثارو څخه په ګټه د دیني او شرعي اساساتو ځینې مهم بیانوونکي کتابونه په پښتو کې په تحقیقي ډول ولیکل شول، لکه: مخزن، نافع المسلمین، فواید شریعت او نور.

ددې پړاو زیاتره لیکوال او شاعران له څو ژبو، لکه: پارسي، پښتو، عربي او هندي سره آشنا دي. په دغو لیکوالو کې ځینو پر پښتو سربیره په هندي، پارسي او عربي ژبو هم آثار لیکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي چې له نورو فرهنګونو سره د پښتنو ليکوالو تړاو ځيني څرګندېږي. د پښتو ادبي تاريخ د دويمې دورې لومړی پړاو د پورته ځانګړتياوو په لرلو سره يوه بل پړاو ته ننوزي.
ارزاني خويشکی، واصل روښاني، خواجه محمد، کريمداد بنګښ، علي محمد مخلص، دولت لواڼی، قادر داد، اخوند درويزه، محمد حليم، عبدالسلام، اخوند احمد، بابوجان، شيخ محمد سعيد او په لسګونو نور د دې پړاو شاعران او ليکوال بلل کېږي.

په دويمې دورې کې د خوشحال خټک او د ده د پيروانو زرين پړاو:

خوشحال خټک نه يوازې د خپل وخت يو ټولنيز، سياسي شخصيت او برياﻟﻰ سالار و، بلکې دی د پښتو ژبې يو داسې شاعر او ليکوال و چې که ووايو د پښتو ادب تاريخ د ده له نامه او اثارو پرته نيمګړی دی، نو زياتی به نه وي. خوشحال خټک پښتو ژبې او ادب ته په نظم او نثر کې هغه څه ورکړل چې تر ده د مخه او وروسته يې ښايي ساری ډېر لږ وګورو.
خوشحال خان د خپل هنر او خپلې ژبې د لفظي او معنوي بډايتوب لپاره د ګاونډيو ژبو له ادبي زمينو څخه پوره ګټه واخيسته. پښتو شعر يې د شکل او شعري ژانرونو له پلوه بډای کړ او په موضوعي لحاظ يې داسې څه پرې نه ښودل چې شعر يې په کې نه وي ويلی. ده د پښتو شعر د مضمون په لحاظ خورا بډای کړ او په پښتو شعر کې تر ده د مخه بيان شوو موضوعګانو ترڅنګه ډېر نوي او رنګارنګ معلومات راوړل. د خوشحال خټک په آثارو کې د هغه د شعرونو د کلياتو، فراقنامې، دستارنامې، بازنامې (منثوره او منظومه)، فالنامې، فضل نامې، طب نامې، بياض، ځنځيرۍ او سواتنامې نومونه يادولای شو.
خوشحال خان د خپلو پښتو منظومو او منثورو اثارو د تاليف په برخه کې د خپلې زمانې د برلاسي ادبي جريان تر اغيز لاندې رانغی. د خپل لوړ هنري او فکري ورتيا په زور يې يوه نوې لاره غوره کړه چې نه د ده د زمانې روښاني اثار او نه د نورو عارفانو او شاعرانو اثار دغسې ځانګړتياوې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوشحال په پېر کې پښتو شعر ډېر پراخه او هر اړخيز شو. د ختيځې شاعرۍ څه ناڅه ټولو ډولونو د دې سبک د رامنځته کوونکي او د دې سبک د پيروانو په اشعارو کې وده وموندله. د دې سبک د پيروانو په اثارو کې رندانه، صوفيانه، اخلاقي، فلسفي، فکاهي، غندنه، ستاينه او نورې موضوعګانې شته. يوه عمده ځانګړنه يې داده چې پښتني روحيه، پښتني احساسات او د پښتو خپل کړه وړه په کې بيان شوي دي. په دې سبک کې ټولنيز نقد ته ځای ورکړ شوی دی. په يو شمېر اشعارو کې ټولنه، خلک، برلاسی ټولنيز، سياسي نظام او فرهنګي بهير په څرګندو الفاظو کې نقد شوی دی. د تخيل، نزاکت او انځور جوړونې له پلوه ځينې ابتکاري ځانګړنې لري. د خوشحال د سبک پيروان د شعر ترڅنګ نثر هم ليکي. د نثر ليکنې لار يې هم خپلې ځانګړنې لري. په دې سبک کې يو شمېر نورې ځانګړنې هم شته چې د ده د مخه پړاو کې يې څرک نه ليدل کېږي.
د پښتو د ادبي تاريخ په دويمه دوره کې د خوشحال خټک، د ده د کورنۍ هستونې او د ده د سبک د پيروانو آثار موږ ته د يو نوي پړاو څرک په لاس راکوي. په دې پړاو کې پښتوشعر په ټولو شعري بڼو، لکه: غزل، قصيده، رباعي، مثنوي، مربع، مخمس، مسدس، مثمن، معشر، ترکيب بند، ترجيع بند، قطعه او نورو راڅرګند شو. پښتو شعر د مضمون له پلوه بشپړ شو. ټولنيزې بيلابيلې موضوع ګانې پکې راوړل شوې. تاريخي پېښې، له هېواد سره مينه، د پښتو او پښتونولۍ احساسات پکې رامنځ ته شوي چې په تېرو پړاوونو کې يې څرک نه لګېده. په دې پړاو کې د پښتو ادب ځيني اړخونه د پښتنو له ټولنيز ژوند څخه رنګ اخلي. د پښتو غزل د ختيځ غزل له پېژندني سره سم ټولې هنري ښيګڼې خپلې کړې او پښتو بوللې هم د غوري دورې د بوللو رنګ او خوند وموند. د ختيځ ادب داستانونو هم پښتو ادب ته لار پيدا کړه. د پارسي او عربي ځيني اثار په پښتو وژباړل شول.
خوشحال خټک د دغو لوړو ځانګړنو لرونکي سبک رامنځ ته کوونکی دی. د ده د کورنۍ او يو شمېر نورو شاعرانو ددغه سبک پيروي کړې ده. اشرف خان هجري، عبدالقادر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خټک، سکندر خان خټک، صدرخان خټک، ګوهر خان خټک، بي بي حليمه خټکه، افضل خان خټک، قلندر، اشرف خليل او يو شمېر نور د خوشحال خان خټک د سبک پيروان دي.

ددې پړاو بل مخکښ عبدالرحمان بابا و

لکه چې د مخه مو وويل، يوولسمه پېړۍ د پښتو ادبياتو د ودې او پراختيا لپاره يوه مناسبه پېړۍ وه. د پښتو ډېر شاعران په دې پېړۍ کې وزېږېدل، لوی شول په پښتو يې ليکنې وکړې او شعرونه يې وويل. که موږ د يوولسمې پېړۍ په بهير کې د پښتو رامنځته شوي اثار له پامه تېر کړو، نو راته ښکاره به شي، په دې پېړۍ کې داسې آثار رامنځته شوي چې د سيمې له ادبي اثارو سره پرتله کېدای شي. په يوولسمه پېړۍ کې د راپورته شوو شاعرانو په ډله کې يو هم عبدالرحمن مومند و چې پښتانه له ډېرې مينې او زياتې عقيدې ورته (بابا) وايي او په پښتني ولسونو کې د رحمان بابا په نامه مشهور دی. رحمان بابا د يو ځانګړي سبک خاوند دی. د ده سبک د خپلو ځانګړتياوو له مخې په ولس او فرهنګي حلقو کې ډېر شهرت او محبوبيت وموند او د دولسمې، ديارلسمې او څوارلسمې پېړۍ شاعران په ده پسې روان شول. د رحمان بابا شعر د خپل ځانګړي هنري او ښکلاييز جوړښت او انساني محتوا له مخې خپل خاص خصوصيتونه لري او په پښتو ادب کې د يو نوي شعري سبک خاوند شاعر دی. د رحمان بابا سبک پېچلتيا نه لري، ډېر طبيعي او ساده دی. د شعر د الفاظو په ټاکلو کې زيار ايستل شوی دی؛ د شعر د خوند او رنګ لپاره يې ډېر ښکلي، خو ساده او عام فهمه الفاظ غوره کړي دي. د واقعيتونو بيان ته زيات پام کېده. اخلاقي، عرفاني او نور ټولنيز مسايل پکې راغلي. د رحمان بابا سبک په ټولو پښتنو کې دومره ومنل شو چې د ده د زماني او بيا په راوروسته دوو، درېو پېړيو کې له افغانستان، پښتونخوا، بلوچستان او په هندوستان سربېره ان په بخارا او ماوراءالنهر کې ځينو اوسېدونکو پښتنو شاعرانو د ده سبک منلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې پړاو کې لسګونه پښتانه شاعران رامنځ ته شول چې د شعرونو پنډ دیوانونه یې درلودل. ځینو یې له دیوانونو سربېره منظومې رسالې هم لرلې. په دې پړاو کې قصیدې، غزل، رباعي، قطعې، مربع، مخمس، مسدس، مسبع، معشر، ترکیب بند او ترجیع بند زیات وکارول شول. په دې پړاو کې د اخلاقو او نصیحتونو د بیان خواته ډېر پام کېده. په دې پړاو کې غزل ډېر پیاوړی شو او ان د پښتو د شعر د پراختیا او ودې پړاو یې بللی شو. د دې پړاو شاعران زیاتره عالمان وو. د خپلې سیمې د ژبو له ادبیاتو سره یې آشنایي درلوده. له خپلې مورنۍ ژبې پرته یې په پارسي او هندي هم شاعري کوله.

د رحمان بابا د سبک په پیروانو کې د یونس خیبري، مهین خلیل، معزالله مومند، اخوند ګدا، حافظ الپوري، نجیب سربندي، عبدالعظیم سواتي، میا نعیم متي زي او یو شمېر نورو نومونه یادولای شو.

هوتکیان او د دې دورې بل پړاو:

په کندهار کې د پښتنو د ملي دولت جوړېدل او په شاهي دربار کې د پښتو د ودې د زمینې رامنځته کېدا د دویمې دورې په راوروسته پړاو کې ټاکلې دریځ لري. کندهار د خپل جغرافیايي موقعیت له مخې د لسمې او یوولسمې پېړۍ په جریان کې د صفوي او د هند د مغولي امپراتورۍ تر منځ واقع شوی و. دواړو امپراتوریو په دې ستراتیژیکې افغاني سیمې کې خپل ټاکلي اهداف درلودل. د دولسمې پېړۍ د دویمې لسیزې په وروستیو کې ګرګین د کندهار صفوي حکمران و. نوموړي په دې سیمې کې داسې ظلمونه او نارواوې کولې چې خلک یې تر پوزې رسولي وو.

میرویس نیکه د ګرګین په وړاندې د ولسي پاخون له لارې د یو ملي افغاني دولت بنسټ کېښود. د هوتکو د پاچاهۍ په ولکه کې دغه مهال په سلګونو لیکوالو اثار لیکلي او شعرونه یې ویلي دي. د پښتو او فارسۍ ژبو یو شمېر آثار دغه مهال منځته راغلي دي چې د ځینوهغو په ایجاد او تألیف کې هوتکي پاچاهانو لاس درلودلی دی. په دې توګه د هېواد د فرهنګي تاریخ په لیکلو کې د دغې کورنۍ نوم لوړ ځای لري. د میرویس نیکه مور، نازو

(c) ketabton.com: The Digital Library

انا، زوی، شاه حسین او لور، زینبه د پښتو ژبې شاعران وو. ریدی خان، حافظ نور محمد، داود هوتک، د پټې خزانې لیکوال محمد هوتک، یار محمد هوتک، ملا محمد یونس توخی، بابوجان، ملا نور محمد غلجي او په لسګونو نور د دې دورې وتلي شاعران او لیکوال دي.

په دې مهال کې زیات شمېر پښتو آثار او تألیفات رامنځ ته شوي دي. پټه خزانه د دې مهال یو ارزښتمن کتاب دی چې د درېو خزانو په درلودلو د لرغونې او د هغه د خپل مهال زیات شمېر پښتانه نارینه او ښځینه لیکوال او شاعران او د هغوی د لیکنو بېلګې تر موږه رارسوي.

د پښتو د تحریري تاریخي حماسو لیکل همدا د هوتکو د پاچهی په دوران پورې اړه لري. حماسې د ادبیاتو یو موضوعي ډول دی. په دې ډول ادبي اثارو کې رزمي اوجنګي مسایل په حکایتي او داستاني ډول بیانیږي. په دې دوره کې یو شمېر حماسې ایجاد شوي دي. "محمودنامه" او "جګړه د محمود افغان او نیول د اصفهان" په هغو کې ډېرې مشهورې دي. د دې حماسو لیکوال په ترتیب سره ریدي خان مومند او محمد امین سرپرېکړی دي. شاه حسین هوتک د محمود نامې په لیکلو ریدي خان مومند ته زر طلاوې انعام ورکړې وې.

د هوتکو د پاچهی په دوران کې ادبي دربار رامنځ ته شو او په هغې کې د عالمانو پر راټولولو او د آثارو پر تألیف او ایجاد سربېره د انعام ورکول هم پیل شول. د همدې کورنۍ په هڅونې ډېر شمېر آثار په پښتو ژبه تالیف شوي دي. تحریري حماسي اثار په پښتو کې دغه مهال رامنځته شوي. که څه هم په پخوانیو ادبیاتو کې د حماسې ځینې مذهبي نمونې شته، خو تاریخي بشپړې حماسې د همدې پاچهی د کارنامو په اړوند رامنځته شوي دي. په دې دوران کې د پښتو ولسي ادب ډېرې ښکلې بېلګې رامنځ ته شوي چې زموږ د ولسي شعر برخه یې بډایه کړې ده. همدارنګه په دې پړاو کې د پښتو د لیکلي ادب ځینې موضوعات له فولکلور څخه اخیستل شوي دي، لکه د "شها او ګلان" نکل او یا د "اوښ او سوې" کیسه چې د پښتو ولسي شعر په قالب کې یې نظم کړي دي. د دې پړاو په اثارو کې د هېوادپالنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

روحيه د خوشحال خټک د پړاو په پرتله ښه څرګنده شوې ده.
که له پورته یادونو ورتېر شو په دې پړاو کې ادبیاتو د مخکنیو دورو په پرتله د پام وړ کومه پراختیا نه ده موندلې. د دې مهال شاعرانو په هماغو قالبونو کې شعرونه ویلي دي چې ترمخه په کې پښتنو شاعرانو ښې تجربې لرلې. د دې پړاو په اړوندو آثارو کې د نثر کتابونه شته چې لیکنې یې پخې، خوږې او د کندهار له ګرډود سره سمې وې.

د یوولسمې هجري پېړۍ په پیل او د دولسمې پېړۍ په لومړیوکې په هند کې د فارسي ژبې یو شمېر اوسیدونکو شاعرانو هغه نوي شعر ته لار وموندله چې د لسمې هجري پېړۍ په پیل کې رامنځ ته شوی و. دې سبک د هندي سبک په نامه شهرت وموند. هندي سبک ځینې ځانګړتیاوې لرلې. پېچلتیا، په شعر کې تازه فکر او نوې موضوع ګانې ځایول، ایجاز یا په لنډو خبرو کې د اوږد مطلب ادا کول، د دقیقو تشبیهاتو او ځانګړو استعارو کارول، په شعرونو کې د متلونو او محاورو راوړل، خاص لحن او اهنګ، د ادبي صنایعو پالنه، د مینې پر محور د غزلو چورلېدل، اغراق او مبالغه او داسې یو لړ نورې ځانګړتیاوې د دې سبک عمده خصوصیات وو. دې سبک د یوولسمې پېړۍ په شاوخوا کې پښتونخوا او د افغانستان سیمو ته هم لاره وموندله. دغه مهال یو پښتون شاعر د خپلو هم مهالو او متقدمینو شاعرانو په لار نه ولاړ، بلکې نوو مضمونونو او هنري لارو ته یې پام واړاوه. همدغه مهال هندي سبک پښتو ادب ته لار پیدا کړه. نوموړی شاعر عبدالحمید مومند و. حمید د شعر ویلو ډېره ښه وړتیا درلوده او د تازه مضمون په پیداکولو ښه ماهر و.
که څه هم په پښتو شاعرۍ کې حمید مومند د هندي سبک د شاعرۍ بنسټ ایښودونکی دی، خو هنر یې بیا دا و چې د هندي سبک بنسټونه یې په اعتدالي بڼه خپل کړي وو. د ده شاعري د پښتو ژبې لفظي او معنوي ځانګړتیاوې نه دي بایللي. ډېرو پښتنو شاعرانو د حمید د سبک پیروي کړې ده.
پر پښتو ادبیاتو د هندي سبک د اغېز د بحث پر مهال جوتېږي چې په پښتو کې ددغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبک پیروي په پښتونخوا کې پیل شوه، په کندهار کې یې وده وکړه او په هند کې یو شمېر اوسېدونکو پښتنو شاعرانو لوړې پوړۍ ته ورسوله او اغېزو یې تر معاصرې دورې پورې پایښت وموند. حسین، قلندر، خانګل خلیل، کامګار خټک، دوست محمد، علي خان مامنزی، حمدالله کاکاخېل، سلیم، محمدي صاحبزاده، بېدل هشنغری او تر هغوی راوروسته کاظم خان شیدا، محمد بیاض، نورمحمد نوري افغان او یو شمېر نور په پښتو ادب کې د هندي سبک پیروان او نژدې هر یو یې د دیوان خاوند شاعر بللی شي.

په دولسمه هجري پېړۍ کې د اوسني افغانستان په سیمو کې د پښتو د ادبي حلقو تر منځ هم د هندي سبک پیروي دود شوې وه. سید غلام احمد یا غلام جان پاچا، میرزا حنان بارکزی، صدیق اخوندزاده، سردار مهردل خان مشرقي، سردار غلام محمدخان طرزي، ملا محمد اکبر، ملا صالح محمد داوی، عبدالله هوتک او نور د دې سبک پیروان وو او زیاترو یې پر همدې سبک شعرونه ویلي دي.

په پښتو ادبیاتو کې د هندي سبک موسس عبدالحمید مومند او بشپړوونکی یې کاظم خان شیدا و. دوی دواړه د هندي سبک په مشرانو کې شمېرل کېږي. د دې سبک پیرو شاعران ټول غزل ویونکي شاعران وو. ځینو پکې مثنوي هم ویلې. د اشعارو موضوع یې زیاتره د مینې او عشق بیان ته ځانګړې شوې وه، خو اخلاقي، ټولنیز او تاریخي پېښې پکې هم بیان شوې وې. د دې سبک د پیرو شاعرانو د آثارو عمده ځانګړنه د دوی د شعر هنري اړخ دی. د دې سبک زیاترو پښتنو شاعرانو ښکلي، د هنري او شعري ښکلاوو په ګاڼه پسوللي شعرونه ویلي دي.

د احمد شاه بابا په کورنۍ کې د پښتو ادب پالنه، د دویمې ادبي دورې د پای او د معاصرو ادبیاتو د ټوکېدو پړاو:

احمد شاه بابا له خپلو سیاسي، ټولنیزو او ملي خدمتونو سربېره د خپل هېواد فرهنګ لپاره هم نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي. د پښتو او فارسي ژبو شاعران او لیکوال یې روزلي دي. خپله هم شاعر و، په پښتو ژبه ترې د شعرونو یو دېوان پاتې دی. د کورنۍ له غړو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې تیمورشاه او شاه شجاع په پښتو شاعري کړې ده. په دربار کې یې وکیل الدوله عبدالله جان پوپلزی هم د پښتو ژبې شاعر و.

پیر محمد کاکړ د احمد شاه بابا د دربار یو بل شاعر و. پیر محمد کاکړ د پښتو د ډېرو ښو شاعرانو او لویو عالمانو په لیکه کې ولاړ سړی و. نوموړی د پښتو ژبې یو دیوان لري. د هغه دیوان د هنري ارزښتونو له پلوه د منلې وړ دی. انځورونه یې ښکلي، بلاغت او فصاحت یې لوړ معیار لري. پر دې سربېره پیر محمد کاکړ د "معرفة الافغاني" په نامه د پښتو ژبې د زده‌کړې یو کتاب لیکلی دی چې په خپل ډول کې د پښتو ګرامر لومړنی کتاب دی او د پښتونثر ښې نمونې پکې خوندي دي. پیر محمد کاکړ د ځانګړي سبک خاوند و چې د عشق هنري احساسات یې درلودل او همدارنګه تشبیهات او استعاراتو یې طبیعي رنګ درلود، عبارتونه او الفاظ یې روان او ژبه یې راکښونکې وه. پر نورو شاعرانو سربېره، شمس الدین کاکړ د هغه د سبک د پیروانو له ډلې څخه و. حافظ ګل محمد مرغزی د احمدشاهي دوران یوبل شاعر و. نوموړی له احمدشاه بابا سره په لښکري سفرونو کې ملګری و. مرغزي احمدشاهي شاهنامه لیکلې ده. په دې شاهنامه کې د احمدشاه بابا د ١٦ کلونو ځینې پېښې بیان شوي دي. په دې پېر کې یو شمېر نور شاعران هم تېر شوي چې حبیب الله، ملا علم اپریدی، ابوالقاسم او یو شمېر نور یې د پښتو دیوانونو خاوندان وو.

د احمد شاهي پېر لیکل شوي او ژباړل شوي ادبي منثور او منظوم آثار د شکل او موضوع له پلوه د مخکنیو دورو له اثارو سره کوم خاص توپیر نه لري. په دې پېر کې د یادونې وړ ادبي کار د "احمدشاهي شاهنامې" په نامه د یوې بشپړې حماسې لیکل دي. تر دې د مخه کومه بشپړه حماسه موجوده نه وه. د دې پېر په آثارو کې د وخت د پاچا، احمدشاه بابا د ستاینې موضوع ده. دا خبره د دې څرګندوونکې ده چې پښتانه د مخه پردیو حکومتونو ډېر ځپلي او ځورولي وو. احمدشاهي پېر د پښتو ادب د ودې او پراختیا لپاره وړ او مناسب شرایط چمتو کړي دي. په همدې پېر کې نوو او ازادی ښونکو مفکورو شعر او ادب ته لاره پرانیسته او په دې ډول د معاصرې دورې پیل ته لار هواره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ادبي تاريخ دورې په کرونولوژيک ډول د پېړيو يا کلونو يا د سياسي رژيمونو او پاچاهيو د رامنځته کېدو يا رانسکورېدو له مخې نه تنظيمېږي، بلکې دا دورې د ادبي آثارو او ادبي پديدو د ودې او پراختيا شرايطو او هم د دغه پديدو شکلي او موضوعي ځانګړتياوو ته په پاملرنه تنظيمېږي. له دې امله دا اړينه او شونې نه ده چې يوه ادبي دوره دې پای ته ورسيږي او سمدلاسه دې بله ورپسې پيل شي. يوه ادبي دوره لا د خپلې ودې او پراختيا پړاوونه وهي چې د بلې دورې زړې راشنه کېږي او ورو ورو وده کوي، تر هغه چې يوه ادبي تاريخي دوره پای ته ورسوي او بله دوره پيل شي.

د متن لنډيز:

د پښتو ادبياتو د تاريخ دويمه دوره چې منځنۍ دوره هم ورته ويلای شو، د لسمې هجري پېړۍ له نيمايي پيلېږي او د څوارلسمې هجري پېړۍ تر لومړيو دريو لسيزو پورې رارسيږي.

په دې دورې پورې اړوند په سلګونو پښتوديوانونه، په سلګونو کيسه ييز آثار او په زرګونو ولسي سندرې له موږ سره شته چې د پښتو د ادبي تاريخ د يوې سترې پانګې په توګه هر اړخيز بحثونه پرې کولای شو. دا دوره له روښاني غورځنګه پيل اوهمداسې پسې پر اخوند درويزه او د ده په پيروانو، خوشحال خټک، رحمان بابا، د هوتکو او احمد شاهي پېر تر نورو فکري او فرهنګي بهيرونو رارسيږي، ترهغه چې دا دوره پای ته ورسيږي او ځای يې دريمه ادبي (معاصره) دوره ونيسي.

د دې دورې د لومړي پړاو په منثورو آثارو کې ځانګړې رسالې شته. پر نورو سربيره يوه د علي محمد مخلص او بله هم د ارزاني روښاني ده. د دې رسالو نثرونه سجع نه لري او د هغه وخت له شرايطو سره سم روان نثر بلل کېږي.

په دويمې دورې کې بل زرين ادبي پړاو د خوشحال خټک او د ده د پيروانو دی. خوشحال خان خټک نه يوازې د خپل وخت يو ټولنيز، سياسي شخصيت او بريالی سالار و، بلکې دی د پښتو ژبې يو داسې شاعر او ليکوال و چې که ووايو د پښتو ادب تاريخ د ده له نامه او اثارو پرته نيمګړی دی، نو زياتی به نه وي. خوشحال خټک پښتو ژبې او ادب ته په نظم او نثر کې هغه څه ورکړل چې تر ده د مخه او وروسته به يې بنايي ساری ډېر لږ وګورو. خوشحال خان د خپل هنر او خپلې ژبې د لفظي او معنوي بډايتوب لپاره د ګاونډيو ژبو له ادبي زمينو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره ګټه واخیسته. پښتو شعر یې د شکل او شعري ژانرونو له پلوه بډای کړ او په موضوعي لحاظ یې داسې څه پرې نه ښودل چې شعر یې په کې نه وي ویلی. ده پښتو شعر د مضمون په لحاظ خورا بډای کړ او په پښتو شعر کې تر ده د مخه بیان شوو موضوعګانو ترڅنګه ډېر نوي او رنګارنګ معلومات راوړل. د خوشحال خټک په پېر کې پښتو شعر ډېر ارت شو. د ختیزې شاعرۍ څه ناڅه ټولو ډولونو د دې سبک د رامنځ ته کوونکي او د دې سبک د پیروانو په اشعارو کې وده وموندله. د خوشحال د سبک پیروان د شعر ترڅنګ نثر هم لیکي. د نثر لیکنې لار یې هم خپلې ځانګړنې لري. په دې سبک کې یو شمېر نورې ځانګړنې هم شته چې د ده د مخه پړاو کې یې څرک نه لیدل کېږي.

رحمان بابا د دویمې ادبي تاریخي دورې د یو بل پړاو مخکښ و. د ده سبک د خپلو ځانګړتیاوو له مخې په ولس او فرهنګي حلقو کې ډېر شهرت او محبوبیت وموند او د دولسمې، دیارلسمې او څوارلسمې پېړۍ شاعران په ده پسې روان شول. د رحمان بابا شعر د خپل ځانګړي هنري او ښکلاییز جوړښت او انساني محتوا له مخې خپل خاص خصوصیتونه لري او په پښتو ادب کې د یو نوي شعري سبک خاوند شاعر دی. د رحمان بابا سبک پېچلتیا نه لري، ډېر طبیعي او ساده دی. د شعر د الفاظو په ټاکلو کې زیار ایستل شوی دی؛ د شعر د خوند او رنګ لپاره یې ډېر ښکلي، خو ساده او عام فهمه الفاظ غوره کړي دي. د واقعیتونو بیان ته زیات پام کېده. اخلاقي، عرفاني او نور ټولنیز مسایل په کې راغلي. د رحمان بابا سبک په ټولو پښتنو کې دومره ومنل شو چې د ده د زمانې او بیا په راوروسته دوو، درېو پېړیو کې په افغانستان، پښتونخوا، بلوچستان او په هندوستان سربېره ان په بخارا او ماوراء النهر کې ځینو اوسیدونکو پښتنو شاعرانو د ده سبک منلی و.

په کندهار کې د پښتنو د ملي دولت جوړېدل او په شاهي دربار کې د پښتو د ودې د زمینې رامنځته کېدا د دویمې دورې په راوروسته پېرونو کې ټاکلې دریځ لري. د هوتکو د پاچاهۍ په پېر کې دغه مهال په سلګونو لیکوالو آثار لیکلي او شعرونه یې ویلي دي. د پښتو او فارسي ژبو یو شمېر آثار دغه مهال منځ ته راغلي دي چې د ځینوهغو په ایجاد او تألیف کې هوتکي پاچهانو لاس درلودلی دی. په دې توګه د هېواد د فرهنګي تاریخ په لیکلو کې ددغه کورنۍ نوم لوړ ځای لري. دغه مهال زیات شمېر پښتو آثار او تألیفات رامنځ ته شوي دي. پټه خزانه د دې مهال یو ارزښتمن کتاب دی چې د درېو خزانو په درلودلو لرغوني او د هغه مهال زیات شمېر پښتانه نارینه او ښځینه لیکوال او شاعران او د هغوی د لیکنو بېلګې تر موږه رارسوي. د پښتو د تحریري تاریخي حماسو لیکل همدا د هوتکو د پاچاهۍ په دوران پورې اړه لري. د یوولسمې هجري پېړۍ په پیل او د دولسمې پېړۍ په لومړیو کې په هند کې د فارسي ژبې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو شمېر اوسېدونکو شاعرانو هغه نوي شعر ته لاره ومونده چې د لسمې هجري پېړۍ په پیل کې رامنځ ته شوی و. دې سبک د هندي سبک په نامه شهرت وموند. هندي سبک ځینې ځانګړتیاوې لرلې. پېچلتیا، په شعر کې تازه فکر او نوې موضوعګانې ځایول، ایجاز یا په لنډو خبرو کې د اوږد مطلب اداکول، د دقیقو تشبیهاتو او ځانګړو استعارو کارول، په شعرونو کې د متلونو او محاورو راوړل، خاص لحن او اهنګ، د ادبي صنایعو پالنه، د مینې پر محور د غزلو چورلېدل، اغراق او مبالغه او داسې یو لړ نورې ځانګړتیاوې د دې سبک عمده ځانګړتیاوې وې. دې سبک د یوولسمې پېړۍ په شاوخوا کې پښتونخوا او د افغانستان سیمو ته هم لاره ومونده.
احمدشاه بابا له خپلو سیاسي، ټولنیزو او ملي خدمتونو سربېره د خپل هېواد د فرهنګ لپاره هم نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي. د پښتو او فارسي ژبو شاعران او لیکوال یې روزلي دي. خپله هم شاعر و، په پښتو ژبه ترې د شعرونو یو دېوان پاتې دی. د کورنۍ له غړو څخه یې تیمورشاه او شاه شجاع په پښتو شاعري کړې ده. په دربار کې یې وکیل الدوله عبدالله جان پوپلزی هم د پښتو ژبې شاعر و. پیر محمد کاکړ د احمدشاه بابا د دربار یو بل شاعر و. پیر محمد کاکړ د پښتو د ډېرو ښو شاعرانو او لویو عالمانو په لیکه کې ولاړ سړی و. نوموړی د پښتو ژبې یو دیوان لري. د هغه دیوان د هنري ارزښتونو له پلوه هم د منني وړ دی. انځورونه یې ښکلي دي، بلاغت او فصاحت یې لوړ معیار لري. پر دې سربېره پیر محمد کاکړ د "معرفة الافغاني" په نامه د پښتوژبې د زده کړې یوکتاب لیکلی دی چې په خپل ډول کې د پښتولومړنی ګرامر دی او د پښتونثر ښې نمونې پکې خوندي دي.

فعالیتونه

١ـ پښتو ادبیاتو کومې تاریخي دورې تر شا پرېښې دي؟ دوه تنه زده کوونکي دې د خپلو معلوماتو له مخې د هغو په اړه معلومات وړاندې کړي.

٢ ـ زده کوونکي دې د هغوی د شمېر له مخې په څلورو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د پښتو ادبیاتو د دویمې تاریخي دورې د لومړي پړاو، دویمه ډله دې د همدې دورې د دویم پړاو، دریمه ډله دې د دریم پړاو او څلورمه ډله دې څلورم پړاو د ځانګړتیاوو په اړه خپل نظرونه روښانه کړي. د هرې ډلې استازی دې هغه راغونډ او د ټولګي په وړاندې دې ولولي. د ټولو ډلو نظریات دې توحید کړي او زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳_ پنځه تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي. هر یو دې په خپل وار د متن یوه برخه ولولي. متن دې په ورو او روښانه ټکو کې ولولي او داسې دې تمثیل کړي چې ګوندې له راډیو او تلویزیون څخه خبرونه یا کوم ادبي متن لولي. نور زده کوونکي دې هغوی ته غوږ کېږدي. د هغوی ښې برخې دې وستایي، نیمګړتیاوې دې په ګوته او په عمومي خبرو اترو کې دې برخه واخلي.

٤_ څو تنه زده کوونکي دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي او د خپلې خوښې د یوې موضوع په اړه دې د دوه – درې دقیقو لپاره خبرې وکړي.

٥_ د پټې خزانې ستر ارزښت په څه شي کې نغښتی دی؟ دوه تنه زده کوونکي دې د یو بل په مرسته پرې د نورو ټولګیوالو په وړاندې رڼا واچوي.

٦_ پښتو ادبیاتو ته د خوشحال خان خټک او د هغه د کورنۍ د اهمیت او د هغوی د کارنامو په اړه دې څو تنه زده کوونکي د نورو په وړاندې خبرې وکړي.

۷_ په ولس کې د رحمان بابا د محبوبیت په اړه دې دوه تنه زده کوونکي خپل نظرونه بیان کړي. د رحمان بابا د سبک ځینې ځانګړتیاوې دې په ګوته کړي.

۸_ که زده کوونکي د مېرمن نازو او مېرمن زینب د شعرونو په اړه معلومات لري، د ټولګي له نورو زده کوونکو سره دې شریک کړي.

۹_ دوه تنه زده کوونکي دې پښتوادب ته د هوتکیانو د خدمتونو په اړه رڼا واچوي.

۱۰_ حماسه څه ډول شعر دی؟ زده کوونکي دې خبرې پرې وکړي.

۱۱_ یو شمېر زده کوونکي دې په احمد شاهي پېر کې د پښتو ژبې د ودې او پراختیا په اړه نورو زده کوونکو ته معلومات ورکړي.

۱۲_ زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې د دویمې ادبي دورې بېل بېل پړاوونه وڅېړي، د هر پړاو ځانګړتیاوې، مشهور تألیفات د هر پړاو اړوند لیکوال او شاعران دې له نومونو سره ولیکي او د هرې ډلې استازی دې په ټولګي کې نورو ته بیان کړي.

کورنۍ دنده

د ځانګړتیاوو او په دې پړاوونو کې د رامنځ ته شوو لیکنو او شعرونو په اړه یوه مقاله ولیکي او په بله ورځ دې په ټولګي کې د نورو په وړاندې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټولنیز ژوند کې د ښځو ونډه

ټولنه له افرادو جوړه شوې ده. کورنۍ لومړنۍ انساني ټولنه ده. يوه کورنۍ له مور، پلار اواولادونو څخه عبارت ده. د ښځو له شتون پرته کورنۍ شتون نه لري. له کورنيو ټولنه جوړيږي. په ټولنې کې ښځې او نارينه، دواړه شته. له يوه پرته او د بل په شتون ټولنه بشپړه نه ده. په ټولنې کې ښځې او نارينه يوله بل سره داسې اوبدل شوي دي چې د يو له نشتوالي پرته بل نيمګړی دی. همدا راز نارينه اوښځې لکه د يو مرغه دوې وزرې دي. که يو مرغه په يو وزر الوتنه نشي کولای، يوه ټولنه هم د بشپړوالي لپاره نارينه او ښځو ته يو شان اړتيا لري.

د ښځې له شتون پرته به يوه کورنۍ او ټولنه څنګه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې د ټولنې نیمایي برخه ده. ارزښت یې له نارینه وو سره برابر دی. د نړۍ پرمختګ د ښځو له برکته دی. د هر بریالي نارینه تر شا یوه ښځه شتون لري. وایي: "ښځه په یو لاس زانګو او په بل جهان زنګوي." ښځه د کور ډیوه ده؛ ښځه مور ده؛ ښځه د نارینه سلاکاره ده؛ ښځه روغتیاپاله ده؛ ښځه د مینې او عاطفې جوهر دی. لنډه داچې ښځه د نارینه روح دی. څنګه چې انسان له روح پرته ژوند نشي کولای؛ همداسې له ښځې پرته د نارینه ژوند نیمګړی او له رنځ او کړاو څخه ډک دی.

زموږ په ګران هېواد کې ښځې له پامه غورځېدلي دي. د تاریخ په اوږدو کې هغه د محرومیت او مظلومیت یوه بېلګه پاتې شوې ده. له ښځو څخه د یو جنس په توګه کار اخیستل شوی، نه د یو انسان او بشري موجود په توګه. دلته ښځې آن له ډېرو لومړنیو حقونو څخه بې برخې شوې دي. د دې لامل دا دی چې افغانستان یوه سنتي، ترلې او قبیلوي ټولنه ده چې هر څه په کې د وروسته پاتې دود او دستور تر سیورې لاندې راغلي دي. په دې توګه د دې نامنلو وروسته پاتي دودونو، رسم او رواجونو لومړنی ښکار ښځې دي. له بلې خوا د افغانستان په تاریخ کې د پرله پسې جګړو او ناخوالو له امله ښځو ډېر زیانونه ګاللي دي. ښځه کونډه شوې؛ ښځه بوره شوې؛ ښځه وراره شوې؛ ښځه بې پلاره شوې. که هر څه غم او کړاو په نارینه راغلی، ښځو تر هرچا د مخه او ترهر چا زیات هغه ګاللی دی. د هرې جګړې لومړۍ قرباني ښځه وه.

له دې ټولو ناخوالو سره سره ښځه نه ده تسلیم شوې. ښځو اتلولۍ ښودلي او خپل شهامت یې له لاسه نه دی ورکړی. پر هېواد د پردو د یرغل پرمهال د نارینه وو تر څنګ درېدلي، هغوی ته یې په سنګر کې ډوډۍ، اوبه او کارتوس وړي. که نارینه ټپي شوی، د هغه پالنه یې کړې، له هغوی سره یې ورځنیو کارونو ته اوږه ورکړې او د دې ترڅنګ یې د خپلو اولادونو په روزلو کې هاند او هڅه کړې ده.

زموږ د هېواد د نارینه پوهانو، لیکوالو، شاعرانو او ملي شخصیتونو ترڅنګ ښځو په ټولو یادو برخو کې خپله وړتیا ښودلې او د تاریخ په پاڼو کې یې نومونه په زرینو کرښو لیکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي دي. د دې نومياليو مېرمنو په ډله کې نازو انا، زرغونه انا، عايشه درانۍ، رابعه بلخي، بي بي نېکبخته، مېرمن الايي، غازي ادې، مېرمن عينو، د ميوند اتله ملالۍ، ناهيد او په سلګونو نورې شاملې دي.

نن، د تاريخ په دې پړاو کې ښځو خپل غړونه پورته کړي او په ټولنې کې د خپل دريځ د پياوړتيا لپاره هلې ځلې کوي. اوس ښځې کولای شي ولسمشرۍ ته ځانونه ونوموي؛ په کابينې کې ګډون وکړي؛ د وزارتونو په لوړو څوکيو عملاً کار وکړي، ولسي جرګې او مشرانو جرګې ته ځانونه کانديد کړي او څوکۍ تر لاسه کړي؛ د هېواد د سرنوشت په ټاکلو کې له خپلو نارينه وروڼو سره په ګډه پرېکړه وکړي او خپله رايه وکاروي؛ په ښوونځيو، پوهنتونونو او د هېواد د لوړوزده کړو په موسسو کې زده کړه او يا تدريس وکړي. لنډه داچې اوس ښځو ته تر پخوا زيات په ټولنې کې د خپل مسووليت اودندو د پرمخ وړلو لپاره زمينه برابره شوې ده.

لکه څنګه چې د مخه ورته ګوته ونيول شوه، په هېواد کې د يو شمېر نامنلو دودونو له امله، په تېره بيا په کلو او بانډو کې، د ښځو ژوند لا هماغسې تريخ دی. د خپلو نارينه خپلوانو د بدو دروند پيټی پراوړو وړي. د قومونو او کورنيو ترمنځ د لانجو او ناندريو د له منځه وړلو لپاره د يوې متاع په څېر په بدو کې ورکول کېږي. په ځينو حالتونو کې له خپلې خوښې پرته واده ته اړايستل کېږي، د مېړه له مړينې وروسته د مېړه د کورنۍ له يو نارينه غړي سره، که زوړ وي يا کوچنی، بيا واده ته اړ ايستل کېږي. "کونډه د لېوره ده." له داسې ډېرو ناخوالو سره مخامخ دي چې هوارېدو ته يې زيات کار او زيار ته اړتيا شته. دا کار او زيار يوازې د ښځو او مېرمنو دنده نه ده، بايد نارينه تر ښځو زيات په دې لاره کې مخکښ رول ولوبوي چې په دې توګه په پای کې يوه هوسا، نېکمرغه، خوشحاله او له هره اړخه يوه انساني ټولنه جوړه شي.

د متن لنډيز:

ښځې په ټولنې کې له نارينه سره يو شان انساني حقونه لري. ښځې د ټولنې نيمه برخه جوړوي. که انسان له الوتونکي سره پرتله کړو، نو ښځې به يې وزرونه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅ الوتونکی له وزرونو پرته الوتلای نشي او نه په لاره تلای شي، په دې توګه له ښځو پرته ټولنه به یو ګوزڼ وهلي بدن ته پاتې وي چې نه په لاره تلای شي او نه په خوښۍ او خوشحالۍ پوهیږي. په ټولنې کې د ښځو د دریځ لوړولو لپاره ډېر کار او زیار ته اړتیا ده. داکار یوازې د ښځو دنده نه ده، نارینه باید تر ښځو زیات په دې لاره کې ګام واخلي او په دې توګه یوې نېکمرغه، سوکالې، پرمختللې او رغنده ټولنې ته لار پرانیزي.

فعالیتونه

۱ـ لس تنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي او په افغانستان کې دې د ښځو په وړاندې پرتې ستونزې په ګوته کړي. هڅه دې وکړي چې یو د بل خبرې تکرار نه کړي. پاتې زده کوونکي دې هغه ولیکي او توحید دې یې کړي.

۲ـ زده کوونکي دې په خپل ټولګي کې یوه غونډه تمثیل کړي. پورته موندل شوې ستونزې دې وګوري او د هغې د حل د لارو چارو په اړه دې خبرې وکړي. په پای کې دې خپلې موندنې د یو وړاندیز په توګه ولیکي او له ځانونو سره دې یادداشت کړي.

۳ـ پنځه تنه زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې په ټولنه کې د ښځو په دریځ او د هغوی په ارزښت خبرې وکړي. نور زده کوونکي دې په خبرو اترو کې برخه واخلي.

٤ـ زده کوونکي دې د پنځو دقیقو لپاره فکر وکړي چې ځوانان او نجونې څنګه د هېواد د راتلونکې لپاره کارکولای شي، پرکومو لارو چارو د یووالي او وحدت احساس رامنځته او پیاوړی کولای شي او څنګه ملي ډاډ پیاوړی کولای شي. وروسته دې څو تنه په خپله خوښه خپلې نظریې د نورو په وړاندې ووایي، خبرې اترې دې پرې وکړي او غوره وړاندیزونه دې راټول او ولیکل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپل ښار، کلي او چاپېريال کې د ښځو او نجونو په وړاندې د ناروا چلندونو د عملي بېلګو په اړه يو مخ ليکنه وکړئ.

د "ښځو تعليم" او "د وطن مينه" له ځان سره ولولئ، پر مفهوم يې له نورو سره پرې خبرې وکړئ.

د ښځو تعليم

ويلای شو که يو نارينه تعليم وکړي، نو يو کس تعليم يافته شي او که يوه زنانه تعليم وکړي، نو يوه کورنۍ تعليم يافته شي. نبي عليه السلام فرمايي، علم پر هر نارينه او زنانه فرض دی. زموږ پښتانه وايي موږ به ښځو نوکري نه کوو چې سبق پرې ووايو، خو دوی په دې نه دي پوهه چې سبق د سترګو بينايي ده. ناخوانده د خوانده په مخکې شمکور دی. لکه څنګه چې اوسپنه نکل شي او د هغې رنګ په پرق بدل شي، دغه شان په تعليم د ښځې ټولې کمزورۍ په طاقت بدلې شي. تعليم هغه ډال دی چې د انسانيت تحفظ کوي.

پوهان وايي د مور غېږ لومړی مدرسه ده، خو زه وايم چې دا مدرسه نه، بلکې يونيورسيټي (پوهنتون) ده. څنګه چې يونيورسيټي کې ټول علمونه سرته رسي، دغه شان د مور غېږ نه د ټولو علمونو ابتدا کېږي. دغه غېږ چې د علم په رڼا روښانه وي، نو د ماشوم ذهن به څومره ځلند وي او چې د جهالت په تيارو کې پټه وي، نو د ماشوم ذهن به څومره تت وي؟ "رفعت پروين"

رفعت پروين

رفعت پروين د ۱۹٤۹م. کال د سپتمبر په مياشت کې په لره پښتونخوا کې زېږېدلې ده. لومړنۍ زده کړې يې په ښوونځي او لوړې زده کړې يې په خصوصي توګه له خپل پلار، حافظ محمد ادريس څخه کړي. رفعت پروين د پښتو او اردو ژبې ليکواله ده. ليک يې ډېر ساده دی، ښه معنا او مفهوم يې پکې ځای کړی دی. زياتې پښتو افسانې يې ليکلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وطن مینه

زمـوږ پـه ویـنـودي تـازه شـي وچ بوستان د وطن
یوځل دي ځار په معشوقې شي عاشقان د وطن

چې تـرقـي د قـام وطـن د ځـان زیـنـت وګڼو
خـوب د غفلت نه دې بـیـدارې شي زنـان د وطن

نـسـلـونـه واړه آینده بـه مـحـبـان وي د قـام
کـه پـه بـیـدارو پـیـو لـوی شـي فـرزنـدان د وطن

خویندو د خدای لپاره پاڅئ دادی وخت د همت
وګــورئ څـومـره دي قـومـونـه مـحـبـان د وطـن

ځای د تعلیم دی ستا جولۍ ای عزتمندې خورې!
لوی هغه زوی کړه چې سبا شي سخندان د وطــن

که په زیور د قومي عشق موږه سینګار جوړ که خپل
دا مې یقین دی نـور بـه ونـشي نقصان د وطن

د قـوم وطـن عـزت زمــوږه د عـزت معـیار دی
د سـر پـه بیه عـزت اخـلـي شـاه زلـمـیان د وطن

د غـافـل قـوم نـوم و نـښـان پـه دنـیـا نـه دی پاتې
تـاریـخ بـه هیر نـه کـړي هیچیرې بـهـادران د وطن

ددې دنـیـا پـه مـخ هغه خلك ژونـدي دي پاتې
چې په کوښښ د چا ژونـدون شي جـاودان د وطن

اخـر تـرڅـو بـه بـې خبر د قـام لـه حـال یـو داسې
راځــئ چـې وکــړو لـړ د نـورو نـه پـرسـان د وطن

پـه کـومـه لار دي رسـیـدلـې قـافـلـې د وطـن
چـې مـوږ هـم بوځو پـه هغه لار کــاروان د وطن

که د قـران پـاك په تعلیم مو کـړې سینې روښانه
وریـځـې د جهل بـه شـي لـرې لـه اسـمـان د وطن

سیده بشری بیګم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژمنه

ښه خوی‌ونه زیات دي. هر یو یې پر خپل ځای په ټولنه کې د انسان پر درېځ او شخصیت اغېز لري. ښه خویونه سړی درنوي او سپک خویونه سړی سپکوي. اسلام موږ ته د ښو اخلاقو لارښوونه کړې ده. له بدو هغو څخه یې ژغورلي یو. درواغ ویل، د ژمنې سرته نه رسول او ښکنځلې کول د منافقت نښې دي. درواغ سړی خواروي، ښکنځلې د سړي شخصیت ته زیان رسوي او د ژمنې سرته نه رسول په ټولنې کې د انسان حیثیت، وقار او باور راټیټوي. انسان د ټولنیز مخلوق په توګه اړ دی په خپل ځان کې داسې نیک خویونه پیدا او وروزي چې د نورو په وړاندې د یو بشپړ انسان په توګه د احترام او درناوی وړ شي. اسلام د اخلاقو بشپړ دین دی او حضرت محمدﷺ د نیکو اخلاقو د تعمیم او بشپړتیا لپاره مبعوث او ګومارل شوی و.

ــ په ټولنې کې د یوه رښتیني شخص درېځ څنګه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي چې يوه ورځ عمر بن خطاب د عدالت لپاره د خلکو په منځ کې ناست و. ناڅاپه يو ښکلی او ښايسته ځوان چې دوو نورو ظاهراً ښايسته ځوانانو له لاسونو نيولی و، خليفه ته راوست. عمر بن خطاب هغو ځوانانو ته وويل: "ځوان خوشې کړئ او ووايئ چې څه کيسه ده؟"

ځوانانو وويل: "موږ دوه وروڼه يو. يو بوډا پلار مو درلود. په خپلو خلکو کې په نېکو اخلاقو او د مشرتابه په ټولوصفتونو مشهور و. يوه ورځ د تفريح لپاره خپل يو باغ ته تللی و. هلته دې ځوان وواژه. اوس له تا څخه غواړو چې زموږ په منځ کې د خدایﷻ حکم جاري کړې."

عمر رضي الله عنه هغه ځوان ته په تريو تندي وکتل او پوښتنه يې ترې وکړه: "ته څه ځواب لرې؟"

ځوان ډېر زړور او فصيح و. وموسکېد، په ډېره خوږه ژبه وغږېد. د عمر رضي الله عنه ستاينه او درناوی يې وکړ. ويې ويل: "په خدای قسم چې رښتيا يې وويل خو زه هم خپله کيسه درته کوم. بيا ستاسې خوښه چې څه حکم کوئ! زه يو کليوالي عرب يم. وچکالي راغله. زه له خپلې کورنۍ او مال سره دلته راغلم. لاره مې په دې باغونو کې وه. ما اوښان درلودل. ماته ډېر ګران وو. په هغوی کې د ښه نسل يوه ډېره ښايسته جونګۍ وه. د نورو اوښانو په ډلې کې به داسې برېښېده لکه پاچا چې د رعيت په منځ کې روان وي. جونګۍ د دې ځوانانو د پلار باغ ته مخه کړه. د هغه باغ پر دېوال باندې د يوې ونې څانګه پرته وه. جونګۍ هغې څانګې ته خوله واچوله او پرې يې کړه. ناڅاپه هغه بوډا سړی له باغه راووت. له ډېرې غوسې يې سترګې سرې اوښتې وې. په لاس کې يې يوه ډبره نيولې وه. د زمري په څېر غړومبېده. بيا يې جونګۍ پر ډبرې کلکه وويشته او مړه يې کړه. کله چې مې وليدل جونګۍ ولوېده، په سر کې مې اور بل شو. په هماغه ډبره مې شيخ پر سر وويشته چې جونګۍ يې پرې ويشتلې وه. د ډبرې په لګېدو بوډا سړي چيغې کړې او مړ شو. دا دوه ځوانان راورسېدل، زه يې ونيولم او تاته يې راوستم."

عمر رضي الله عنه وويل: "اوس چې دې په خپلې ګناه خوله وخوځوله، نو نشې خلاصېدای او بايد قصاص شې."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان وویل: "زه پر هغه شي خوښ یم چې اسلامي شریعت ټاکلی وي، خو زه یو کوچنی ورور لرم. پلار مې له مړینې د مخه هغه ته ډېر مال ورکړی او د هغې د ساتنې دنده یې زما پر اوږو ایښې ده. ماته یې ویلي وو چې دا مال ستا د ورور دی. د هغې ساتنه پر تا فرض ده. ما هغه مال اخیستی او ښخ کړی مې دی. له ما پرته نور هیچا ته د هغې پته نه ده ښکاره. که تاسي اوس زما د وژلو حکم وکړئ، هغه مال به ضایع شي او د هغې د زیان پړه به ستا پرغاړه وي. د آخرت پر ورځ چې پاک خدای ﷻ د بنده ګانو ترمنځ عدالت کوي، هغه کوچنی به ستا غاړې ته لاس واچوي. که ماته درې ورځې مهلت راکړې، نو زه به د هغه کوچني ورور د مال سرپرستي بل چا ته ورکړم او بېرته به تاته راشم."

عمر رضي الله عنه په فکر کې ډوب شو او خپل سر یې څو شېبې ځوړند ونیو. بیا یې ځوان ته مخ واړاوه او ویې ویل: "ځوانه څوک دې ضامن کېږي؟" ځوان ناستو خلکو ته وکتل او د هغوی په ډلې کې یې ابوذر ته ګوته ونیوه او ویې ویل: "دا سړی زما ضامن دی." عمر رضي الله عنه له ابوذر رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه: "یا ابوذره! د دې ځوان د راستنېدو ضمانت پر غاړې اخلې، که نه؟" ابوذر رضي الله عنه له لږ ځنډ وروسته وویل: "هو، تر درېو ورځو پورې یې ضمانت کوم." عمر رضي الله عنه ، ځوان رخصت کړ.

کله چې د مهلت وخت نژدې شو، د ځوان پته ونه لګېده. عمر رضي الله عنه له اصحابو سره ناست و. ابوذر رضي الله عنه هم و. هغه دوه ځوانان په غوسه شول او ویې ویل: "ای ابوذره، زموږ قاتل چېرته دی؟ هغه سړی چې تښتېدلی وي، څنګه به بېرته راشي؟" ابوذر رضي الله عنه وویل: "په خدای قسم، که د مهلت وخت پای ته ورسېږي او هغه ځوان رانشي، زه به خپل ضمانت وفا کوم او ځان درته سپارم." عمر رضي الله عنه وویل: "په خدای قسم، که هغه ځوان وځنډېږي، د شریعت له غوښتنو سره سم به د ابوذر رضي الله عنه په اړه حکم وکړم."

ددې خبرې په اورېدو د ابوذر رضي الله عنه په خاطر د حاضرینو په سترګو کې اوښکې راغلې. د غونډې حاضرینو یو تر بله په خبرو پیل وکړ او له ځوانانو څخه یې د دیت (خونبها) غوښتنه وکړه.

ځوانانو د چا خبره نه منله او له قصاص پرته په بل شي نه راضي کېدل. په دې وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو د ابوذر رضي الله عنه ارمان کاوه او ژړل یې. ناڅاپه هغه ځوان راښکاره شو او د عمر رضي الله عنه په مخکې ودرېد. په داسې حال کې چې سا و تیګا او په تندي یې خولې روانې وې، په فصیحه ژبه یې پر عمر رضي الله عنه سلام واچاوه.

وروسته یې عمر رضي الله عنه ته وویل: "هغه کوچنی مې پر ترور وسپاره او د مال ځای ځایګی مې ورته وښوده. د ژمنې د سرته رسولو لپاره د اوړي په ګرمۍ کې په منډه راغلم."

خلك د ځوان له رښتینولۍ، پر وعدې د هغه د وفا او مرګ ته د راتګ له امله هیښ پاتې شول. ځینو حاضرینو وویل: "ځومره ښه کار او ځومره ښه ژمنه!" ځوان وویل: "آیا نه پوهیږئ چې له اجل خلاصی نشته. ما پر خپله ژمنه وفا وکړه چې څوك ونه وایي په خلکو کې وفا له منځه تللې ده."

ابوذر رضي الله عنه وویل: "په خدای قسم ای عمره، دا هلك مې نه پېژانده چې څوك او د کوم ځای دی. تردې د مخه مې لیدلی هم نه و، خو کله چې یې په حاضرینو کې یوازې ماته مخ راواړاوه، نو ښه راته ونه برېښېده، رد یې کړم. مېړانې مې اجازه رانه کړه نهیلی یې کړم چې څوك ونه وایي، مېړانه له نړۍ ورکه شوې ده."

هغه مهال هغو دوو ځوانانو وویل: "موږ د الله د رضا لپاره د خپل پلار وینه دې ځوان ته وبښله چې څوك ونه وایي احسان په چاکې نشته." بیا عمر رضي الله عنه هغو ځوانانو ته مخ واړاوه او ویې ویل: "د پلار خونبها له بیت المال څخه واخلئ."

ځوانانو وویل: "موږ د الله جل جلاله د رضا لپاره هغه ته د خپل پلار وینه وبښله او له هغه تېر شوو. د دنیا د مال تمه نه لرو!"

د متن لنډیز:

ښه اوښیک اخلاق د انسان ګاڼه ده. په انسان کې داسې یو لړ صفتونه شته چې انساني جوهر یې بولي. صداقت، رښتینولي، پر وعده وفا، دروغ نه ویل، مېړانه، پت ساتل، له خیانت ځان لیرې ساتل، ښکه اوخوږه وینا او په سلګونه داسې نور هغه صفتونه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له انسانه انسان جوړوي. دروغ ویل په ټولنې کې د انسان وقار راټیټوي. که یو ځل څوک په دروغو مشهور شو، نو بیا یې پر رښتیاوو هم څوک باور نه کوي. یو شمېر اخلاق فردي دي، زیان او ګټه یې یوازې یو فرد ته رسیږي؛ خو یو شمېر نور بیا ټولنیز اړخ لري؛ د ټولنې بنسټ جوړوي او له ټولنیزو ارزښتونو څخه ګڼل کېږي. وګورئ، په پورته کیسه کې پر ژمنې د یو ځوان وفا څومره ښیګڼې رامنځ ته کړې، هم یې ځوان له هرو مرو مرګ څخه وژغوره او هم یې انساني جوهر په ګوته کړ. که چېرته له لومړي هغې یې اوږې خالي شوی وای او پرې عمل نه وای شوی، نو د مېړانې او احسان په څېر ټولنیزو ارزښتونو ته یې زیان رساوه.

فعالیتونه

۱ـ د پورته کیسې پیغام څه شی دی؟ درې تنه زده کوونکي دې هغه د ټولګي په وړاندې روښانه کړي.

۲ـ درې تنه زده کوونکي دې یوځای د ټولګي مخې ته راشي. هر یو دې په وار له هغو دریو دلیلونو وفا، مېړانې او احسان څخه د یو په اړه خپل معلومات وړاندې کړي چې له مرګ څخه د هغه ځوان د بچېدو لامل شول.

۳ـ دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او په خپله ژبه دې پورته کیسه ووایي. بیا دې د هغې روزنیز اړخ ته وګوري او نورو ته دې روښانه کړي.

٤ـ په یوې ټولنه کې دې د ښو اخلاقو په اړه څو تنه زده کوونکي خپل نظر روښانه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر وعدې وفا څه ګټه لري؟ په ټولنې کې د انسان اعتبار او شخصیت ته څومره ارزښت لري؟ د کومو کارونو په اړه ژمنه کولای شو؟ په دې اړه یوه مقاله ولیکئ او په بله ورځ یې نورو ته واوروئ.

زده کوونکي دې داکیسه ولولي اوپند دې ترې واخلي:

"وایي په یوې لویې، بې سره او سامانه دښتې کې یو سری د اس پر سپرلی تېرېده. څه ګوري چې له ودانۍ او کلو بانډو لېرې د بې اوبو او سوځوونکې دښتې په منځ کې یو ړوند ځوان په لاره روان دی. د آس والا پرې زړه سوځي او آس ورته دروي. له ځان سره یې پر اس سپروي او درومي. په یو ځای کې ړوند ځوان له اس والا څخه غواړي چې یوازې دی پر آس پاتې شي، ځکه د هغه پر وینا کله پر آس سپور شوی نه و او ستړې شوی و. زړه سواند سړی یې هم ورسره مني او له آس څخه کوزېږي. د زړه سواند سړي له کښته کېدو سره سم ړوند ځوان اس پر متروکه وهي او په چټکۍ ځغلي. اس والا پرې غږ کوي او ورته وایي: ((ځوانه، پام کوه داکیسه په ودانۍ او ښار کې چاته ونه کړې، که نه نو بیا به خوك له چا سره ښیګڼه او زړه سوی نه کوي!))

په دښتې کې ولې د اس څښتن هغه ځوان ته وویل چې د اس د تښتولو کیسه چاته ونه کړي؟ زده کوونکي دې په خپل وار پرې خبرې وکړي.

ابن سینا وایي:

د خپل نفس معلم او د خپل وجدان شاګرد واوسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو لیکنښو سمه کارونه

په هره ژبه کې د خبرو په مهال انسان کله دمه کوي او درېږي؛ کله تعجب خرگندوي؛ کله پوښتنه کوي او یا هم کله کومه خبره په ډېر ټینگار سره کوي. دا مسایل د لیکنښو سمې کارونې ته گوته نیسي. د لیکدود د سموالي لپاره دغو نښو ته پام لازمي او ضروري دی . لیکنښې له موږ سره د جملو په لوستلو او د کلمو د سمې معنا په پوهېدو کې مرسته کوي. همدارنگه له موږ سره مرسته کوي، جملې هغسې رواني ولولو، لکه: خبرې چې کوو. هڅه کوو له دې لوست وروسته د لیکنښو په ارزښت او کارونې وپوهیږئ.

د لیکنښو په اړه څه پوهیږئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا لاندې دوه ليکنې وګورئ:

غواړم ستاسو په شرکت کې کار وکړم. د دوو کلونو لپاره مې په سپين زر شرکت کې کار کړی دی. داسې کوم شی مې نه دی پلورلی چې افتخار مې نه دی په برخه شوی. که له تاسو سره کار وکړم، نو ډاډه يم چې همداسې به وي.

غواړم ستاسو په شرکت کې کار وکړم د دوو کلونو لپاره. په سپين زر شرکت کې مې کار کړی دی. داسې کوم شی مې نه دی پلورلی. افتخار مې نه دی په برخه شوی. که له تاسو سره کار وکړم، نوداډه يم چې همداسې به وي.

ليکنښې په لاندې ډول دي.

۱ـ ټکی: Period (.): ټکی د يوې بشپړې بياني جملې په پای کې راوړل کېږي. د ټکي او د هغه د مخکينۍ کلمې تر منځ واټن نشته او بايد ورسره جوخت کېښودل شي. له ټکي وروسته د يوه توري ځای سپين پرېښودل کېږي او بيا بله جمله پيليږي.

لکه: دکلتور اصطلاح پخوانی لرغونې ريښه لري. د دې کلمې ريښه د لاتينې ژبې دکلتورا کلمې ته رسيږي.

په انټرنيټ کې ورته "ټکی" يا "Dot" وايي.

همدارنګه ټکی په مخففو تورو پسې هم ليکل کېږي. لکه م. م. (ملګري ملتونه)، يا هـ. ش. (هجري شمسي)

تر سرليک، بغلي (څنګيزو) سرليکونو، په ستونونو کې د فقرو ترمنځ او داسې ورته نورو ځايونو کې ټکی مه کاروئ.

د پوښتنې له نښې او ندايي وروسته ټکی مه ږدئ.

که جمله په لينده کيو کې راتله، نو ټکی په لينده کيو کې دننه کېږدئ. لکه (د هغه وخت دود داسې و.)

د نېټې په ليکلو کې هم کارول کېږي، لکه: ۲۹. ۱۲. ۱۳۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲_ چپه پېښ ، ترونی یا کامه، Comma (،): دا نښه په یوې بشپړې جملې کې د یو لنډ ځنډ لپاره کارول کېږي.
همدارنګه، د نیمګړو خبرو او د کوچنیو ترکیبونو تر منځ د عطف لپاره راځي.
لکه: رحمان بابا لوی شاعر، ستر ادیب او پوخ متفکر و.
د یوې موضوع د بېلو بېلو ډولونو تر منځ د توپیر لپاره راځي.
لکه: نوم، ضمیر، فعل، قید او ... د کلمې ډولونه دي.
په یوې مرکبې جملې کې د معترضه جملو د بېلولو لپاره کارول کېږي.
لکه: زلمي د احمد موټر چې په نهه سوه زره افغانۍ یې پېرودلی و، ټکر کړ.
په جمله کې د بېلو بېلو شیانو تر منځ کارول کېږي.
لکه: کاغذ، قلم، مشواڼۍ او رنګ راواخله او راځه.
د پوښتنې په ځواب کې تر "هو" یا "نه" وروسته راځي.
یادونه: په پام کې دې وي چې د کامې نښه له مخکینۍ کلمې سره جوخته راځي او واټن ورسره نه لري. له کامې وروسته دې یو توری فاصله ورکړ شي. همدراز له خو، بلکې، مګر څخه د مخه کارول کېږي، خو هېڅکله دې له "او" څخه د مخه نه راوړل کېږي.
۳_ ټکی او کامه یا ځنډنی Simicolon(؛): دغې نښې ته مفرزه ، ممیزه او سیمې کولن هم وایي. دا نښه د زیاتې وقفې لپاره په کارېږي، مګر د کلمو تر منځ نه راځي، بلکې د هغو مرکبو جملو په منځ کې راوړل کېږي چې په معنا کې یو له بله سره تړلې وي. لکه: له هغه علم څخه چې اخلاق ور سره نه وي؛ ناپوهي غوره ده. همدارنګه د دلیل او علت د بیانولو له لومړنیو کلمو څخه د مخه هم دغه نښه لیکل کېږي، لکه: مورږ د خپلو ښوونکو درناوی کوو؛ ځکه هغوی موږ ته پوهنه رازده کوي.
پر دې نښې جمله په دوو یا زیاتو برخو وېشل کېږي.
کله چې د ځینو لفظونو تر منځ وېر ګل وي، تر وروستي لفظ وروسته د اوږدې وقفې لپاره ځنډ نښه راځي، لکه: ننګرهار، لغمان، کونړ، نورستان؛ په ختیځ زون پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په علمي او څېړنيزو ليکنو کې چې کله د يو مطلب په هکله څو ماخذونه ذکر کېږي، د هر يو د بيلولو لپاره هم ځنډ نښه کارول کېږي، لکه: کابل مجله پرله پسې ۳۱مه گڼه؛ هيله مجله ۸ مه گڼه؛ الينگار مجله ٤مه گڼه؛ زما د خوښې مطلبونه لري.

٤_ څرگندنی ، شارحه يا د بيان علامه Colen (:): دا نښه د يوې کلمې د سپړنې او د بيان نښه ده؛ يعنې د هغې کلمې يا جملې په پای کې ليکل کېږي چې وروسته ورپسې بيان او شرحه راځي، لکه: د ژوندانه او کاميابۍ ستنې دا دي: پوهه ، روغتيا او زيار.

د يو شي د اجزاوو د ښودلو لپاره راځي، لکه: ليک نښې دا دي: ټکی، ځنډ نښه، لينده کې او نور.

د يوه شي د څرگندولو او تفصيل پر مهال: روژه يو شمېر گټې لري: د الله‌ﷻ د رضا د حاصلولو ذريعه ده؛ د گناهونو د ښنلو لامل او د جسماني روغتيا لپاره گټوره ده.

٥_ د پوښتنې نښه، د استفهام علامه يا سواليه، Question Mark (؟): دا نښه د پوښتنې په وخت کې راوړل کېږي او د هر ډول سواليه جملو په پای کې راځي، لکه: ستاسو د ښتو ښوونکی څه نوميږي؟

٦_ بلن نښه، غږ نښه يا ندايه، Exclamation Mark (!): دا نښه د غږ او ندا په وخت کې کاريږي، لکه: ای هلکه! دلته راشه. په اصل کې د خبرداری او تنبيه نښه ده او له دې امله د مخاطب امر په برخو کې راځي. لکه: ورونو! د وطن ناموس وساتئ.

دغه نښه د تعجب، شاباس او افسوس په ځای کې هم راوړل کېږي؛ خو د زيات تعجب، استهزاء او زياتې خبردارۍ په وخت کې دوه ځله، بلکې درې ځله هم ليکل کېږي. لکه،

غلبېل کوزې ته وايي چې سورۍ!!

آفرين ستا په دې غيرت او مېړانه!!!

په ليکونو، مکتوبونو او غوښتنليکونو کې دې له لقب څخه وروسته نه راځي، بلکې پر ځای يې "کامه" ليکل کېږي، لکه:

زما گرانه وروره،

ښاغلی مدير صاحب،

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې مه لیکئ:

ګرانه وروره!

ښاغلی مدیر صاحب!

۷ـ دش، بیان نښه یا بېلنی (Dash) (ـ) : دا نښه د یوې جملې د بېلونې لپاره لیکل کېږي، په تېره په سوال او ځواب کې د هرې جملې په سر کې راځي. سوال او ځواب سره بېلوي، لکه

ـ څنګه راغلې؟

ـ ستا د لیدو لپاره.

ـ ما نه غوښتل چې په دې وخت کې تا وګورم.

دا نښه د دوو کلمو د بېلونې لپاره هم په داسې وخت کې راځي چې د هرې کلمې خپلواکي او ځانله والی مقصد وي، لکه: صرف ـ نحو ـ بدیع ـ بیان ـ معاني ـ عروض ـ وزن ـ قافیه ټول ژبني علمونه دي.

۸ـ وړه کرښه، یا هایفن (ـ): وړه کرښه (Hyphen) د دش د اوږ دوالي په نیمایي ده. دا نښه هغه وخت کارول کېږي چې یوه لویه یا مرکبه کلمه د پاڼې د یوې لیکې (کرښې) په وروستی برخه کې راشي، نیمه کلمه ځای شي او د پاتې نورې لپاره ځای نه وي، نو له نیمې کلمې وروسته د کرښې په پای کې دغه نښه راځي او د کلمې پاتې برخه د بلې کرښې په سر کې لیکل کېږي. تر شمېرو وروسته هم لیکل کېږي، لکه: ۱- ۲- ۳

۹ـ ولاړه کرښه، سلش یا بار (/): دغې نښې ته بېلوونکې یا ممیزه هم وایي. په انګرېزی کې (Slash) ورته وایي. دا نښه پر دفترې لیکنو سربېره د هجري لمریز، سپوږمیز او میلادي کلونو د بېلولو لپاره کارول کېږي.

ـ د (یا) پر ځای ایښودل کېږي، لکه: استنباط / استخراج ؛ هلکك / نجلی.

ـ د ورځې میاشتې او کال د نېټو د آسانه ښودلو لپاره هم استعمالېږي، لکه: دا ګرامر په ۱۳۸۸/۸/۲۸ لیکل شوی.

۱۰ـ لیندی ( ) (Parentheses) : لیندۍ یا قوسین د هغو اضافي کلمو لپاره کارول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي چې په عبارت او کلام کې مقصد نه وي، لکه: شاه شجاع (د تیمورشاه زوی) د پلار په څېرعلم پالونکی نه و.

د ځانگړو نومونو، د پاملرنې وړ شیانو او په منځ کې د راولېدلو جملو د ښودلو لپاره لیکل کېږي، لکه: (سمسور) په اتم ټولگي کې دی، خو (میرویس) او (روښان) په لومړي ټولگي کې دي او (نسیم) لا تر اوسه کوچنی دی.

همدا راز په ژباړه کې د څرگندتیا لپاره په متن پورې نا اړونده برخه په قوسینو کې لیکل کېږي.

۱۱ـ غبرگې لېندی، نقل قول (" ") (Quotation Mark): په دې نښه کې د بل چا وینا په مستقیم ډول ایښودل کېږي، لکه، حدیث شریف دی: "عمل په نیت اړه لري."

د بل چا نظریه یا د یوه کتاب عبارت او د زیاتې توجه وړ اشنا کلمه راوړل کېږي، لکه: په دې ورځو کې د "آزاد بازار" خبرې ډېرې کېږي. کله نا کله ځینې اصطلاحگانې هم د غبرگو لېندیو په منځ کې لیکي چې له عام عبارت څخه بېلې شي.

۱۲ـ قوسین [ ] (Brackets): دغه نښه د اقتباسونو په دننه کې د هغو وضاحتي جملو او تعلیقاتو د اضافه کولو پر مهال کارول کېږي او لېږ دوونکی یې له خپل لوري لیکي چې د اقتباس شوي کلام او د لېږ دوونکي د وضاحتي الفاظو ترمنځ توپیر وشي، لکه: "په دې یادښت کې د جنرال جیکسن له زحمته [د جگړې په لومړۍ ورځ د چانسلرس ویل په جبهه کې] یادونه ونه شوه؛ خو له جنرال لي څخه د سترې فتحې په مناسبت ستاینه شوې ده." دغه نښه د کمپیوټر په کمپوز کې د قرآن کریم د آیتونو د حوالې ورکولو لپاره هم استعمالېږي.

۱۳ـ درې ټکي یا د حذف نښه (...) (Ellipsis): کله چې یو لیکوال د یو نامه یا یوې خبرې څرگندول نه غواړي، نو پر ځای یې درې ټکي ږدي او ورځنې تېرېږي، لکه: "د ... رئیس ډېر ظالم سړی دی، له هر چانه رشوت اخلي." که دا لیکنه د جملې په پای کې وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو درېڅ ټکي خوا په خوا او څلورم ټکی (د جملې د پای ټکی) د یو توري په واټن وړاندې لیکل کېږي، لکه: په افغانستان کې د ډرامې دا لیکوال د یادولو وړ دي: ف. فضلي، عبدالمنان ملګری او... .

۱۴ ــ درې ستوري (***): دا نښې د یوې رسالې یا یوې مقالې د یوې برخې د سرته رسېدو او د بلې برخې د پیل کېدو په منځ کې راوړل کېږي. همدارنګه د یوې کیسې له یوې برخې یا صحنې نه بلې ته د تلو په منځ کې د بېلوالي لپاره هم کارول کېږي.

۱۵ــ تر جملې لاندې کرښه: (Underline): که چېرې یونوم یا جمله په ځانګړې ډول د پاملرنې وړ وي، نو لاندې ترې یوه اوږده کرښه را کښل کېږي، لکه: ښاغلو! دلته دریدل منع دي.

۲۰ــ "اټ" نښه (@): دا نښه په انګلیسي لیکنو کې کارېدله، خو د انټرنېټ له عامېدو وروسته یې د انټرنېټي ویب پاڼو، مؤسسواو اشخاصو د پتو د ښودلو او لیکلو لپاره په پښتوکې ځای نیولی او په پښتولیکنه کې راځي، لکه: curriculum@moe.gov.af او نور.

یادونه: باید په یاد مو وي چې ټولې لیک نښې له (نښو) سره جوختې اونښلولې راځي او هېڅ راز فاصله یې باید تر منځ نه وي. که نه، لیکل نیمګړې بلل کېږي.

د متن لنډیز:

لیکنښې د یو چا ښو او لاسونو ته پاتې کېږي. د لاس یا ښو نه لرل او یا د هغوی نیمګړتیا د انسان پر فزیکي حالت مستقیم اغېز لري. لیکنښې هم همداسې درواخلئ. که یوه لیکنه لیکنښې ونه لري یا یو لیکوال د نښو په کارولو پوه نشي، لیکنه یې څرګند پیغام نشي لېږدولای. پورته مو ولیدل چې د لیک نښو کارونه څومره ارزښت لري او د هغوی ناسمه کارونه یوه موضوع څومره اړولای شي.

له دې امله په یوې لیکنې کې لیکنښې ډېر ارزښت لري او سمه کارونه یې د لیک لوستل او پر مفهوم یې پوهېدل اسانوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ ټول زده کوونکي دې پورته متن په غور وګوري، د لیک نښو ښېلا ښېلو ډولونو ته دې پام وکړي او د هغوی د کارونې ځایونه دې زده کړي.

۲ ـ هر یو زده کوونکی دې په ټولګي کې داسې یوه موضوع ولیکي چې پورته ټولې لیکنښې پکې کارول شوې وي. بیا دې په وار د ټولګي مخې ته راشي او خپله لیکنه او د لیکنښو کارونه دې نورو ته روښانه کړي.

۳ ـ له لیک نښو پرته نور کوم نحوي بدلونونه د یوې جملې مطلب بدلولای شي؟ درې تنه زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې د یو بل په مرسته هغه پیدا او په توره تخته دې ولیکي او له نورو زده کوونکو سره دې پرې خبرې وکړي.

٤ـ معترضه جمله څه ته وایي او څنګه په جمله کې پېژندل کېږي؟ یو تن زده کوونکی دې یې له بېلګو سره یوځای د ټولګي په وړاندې ولولي.

٥ـ په کومو وختونو کې له ندایي سره د پوښتنې نښه کارول کېږي؟ یو تن زده کوونکی دې هغه له بېلګې سره یوځای د ټولګي په وړاندې بیان کړي. نور زده کوونکي دې ښه ورته ځیر شي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کورونو کې د ښوونې او روزنې د ارزښت په اړه یوه مقاله ولیکي او لیکنښې دې پکې په سم ډول په پام کې ونیسي. یاده دې وي چې هره لیکنښه په وروستي توري پسې له واټن پرته لیکل کېږي. وربسې لیکنه د یو توري له سپینې فاصلې وروسته پیلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیام الدین خادم

د افغانستان د ادبي تاریخ په غیږه کې زیات شمېر لیکوال او شاعران روزل شوي او پالل شوي دي. هغوی هر یو په خپلو لیکنو او خبرنو کې د خپل مهال حالات او شرایط انځور کړي او تر موږ یې رارسولي دي. نوي نسل ته د هغوی د لیکنو لوستل او د هغه مهال له شرایطو څخه د ځان خبرول له ګټې خالي نه دي.موږ په تېرو لوستونو کې یو شمېر پښتنانه پوهان، لیکوال او شاعران پېژندلي او د هغوی د لیکنو او د فکر له لارو سره آشنا شوي یو. دلته د پښتو یو وتلی او نومیالی متفکر، لیکوال او شاعر درپېژنو. هغه قیام الدین خادم دی.

آیا تاسو تر اوسه د خادم صاحب کوم شعر یا لیکنه لوستې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیام الدین خادم په ۱۳۲۵ هجري قمري کال (۱۹۰۷ میلادي) کې د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ د زرشوی په کلي کې زیږېدلی دی. پلار یې ملاحسام الدین او نیکه یې ملا علي ګل هم د خپل وخت دیني عالمان وو. اروانباد خادم د مورني نسب لړۍ په فقیرصاحب مشهورعبدالرحمن سیلاني ته رسیږي. عبدالرحمن سیلاني د خپل وخت ستر دیني عالم تېر شوی دی او د مراد علي (رح) پلار و. اروانباد خادم لومړنۍ زده کړې په خپل کور کې له خپلو والدینو څخه ترسره کړې دي. خادم صاحب د اسلامي علوموګڼ شمیر کتابونه لوستي دي. هغه صرف، نحوه، منطق، حکمت، فقه، حدیث، تفسیر او د نورو دودیزو علومو زده کړې ترلاسه کړې وې. هغه د دیني پوهې د ترلاسه کولو لپاره ۱۵ کاله په هېواد کې دننه او له هېواد نه دباندې سفرونه کړي وو.

قیام الدین خادم په بېلابېلو دولتي دندو ګومارل شوی او د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې یې دندې ترسره کړې دي. نوموړي خپله لومړنۍ دنده د ښوونکي په توګه پیل کړه، بیا د کندهار د پښتو ادبي انجمن او د زیري، اتحاد مشرقي، د کندهار د طلوع افغان، هېواد او اصلاح د ورځپاڼو د مسوول مدیر په توګه خپلې چارې پرمخ بیولي دي. استاد خادم د منظومو او منثورو آثارو ډېر په زړه پورې کتابونه لیکلي او زیات شمېر ځانګړي اثار یې چاپ شوي دي چې یو شمیر یې دا دي:

د کوچنیانو اخلاقي پالنه، روهي ګلونه، د مرغلرو امیل، نوی ژوندون، مکارم اخلاق، پښتونولي، بایزید روښان، خیالي دنیا، د شریف سرګذشت، نبوغ او عبقریت (فلسفي اثر)، نوې رڼا، د پښتو ننني لیکوال، د پښتنو د تاریخ یوه سرپاڼه، د خوشحال او د رحمان موازنه، څاروان، د څلورم ټولګي لپاره د پښتو قرائت، پښتو کلي (په ٦ ټوکونو کې)، معلم پښتو، پښتانه شعراء (لومړی ټوک)، پارتیان څوک وو، په تذکرة الاولیا تبصره،کوشانیان څوک وو، د بابا نصیحت، د پښتو پټې، د پښتو نثر، تاریخي تصورات، لوی سهاک، ادبي قصې، لوی اصحابان (اصحاب کرام)، نشنلیزم او انټرنشنلیزم، افغاني حکومت، معیاري پښتو، بلکا، د پښتنو سټه او څانګې، نصوص الحکم، د مور مینه، لرغوني پښتانه قومونه، ټولنپال افغان مانوفیسټ (د مولانا قیام الدین خادم سیاسي افکار) لیکلي او چاپ شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نوموړي ګڼ شمېر نور آثار لا تر اوسه نه دي خپاره شوي. مرحوم خادم په اردو او عربي ژبو هم بلد و. د همدغو ژبو په مرسته هغه د يوه کنجکاو او پلټونکي انسان په توګه هڅه کوله او د ډېرو شيانو په راز يې ځان پوه کړي و. کېدای شي د هغه د بريالیتوبونو له رازونو څخه يو هم همدا ویولو.

د هېواد په سیاسي ډګر کې قیام الدين خادم فعاله ونډه درلوده. اروانښاد خادم د حقيقت له څرګندولو سره مينه لرله. تل يې هر څه بربنډ ويل. خادم په زيات شمير ادبي او علمي غونډو کې برخه اخيستې ده او کله، کله د دولت اړونده ارګانونو له خوا په ستاينليکونو او ډاليو سره نازول شوی او ستاينه يې شوې ده. مرحوم خادم د فلسفي اند او علمي شخصيت څښتن و. هغه په رښتيا له خپل ولس سره مينه درلوده او د هغه خدمت يې په ډېره خوښۍ سره کاوه. هغه د هر ډول مشکلاتو او سختيو په مقابل کې د مقاومت، صبر او حوصلې لاربنوونه کوله. استاد خادم د معاصرو ادبياتو له هغو پنځو ستورو څخه و چې پښتو ادب او کلتور يې ځلولی او د يوه داسې ويښ زلمي په احساس يې د پښتو ادب چوپړ کړی چې د نن زلميان يې درناوی کوي.

د اروانښاد خادم د "شه بيدار پښتونه" په نامه لومړنی شعر په اتحاد مشرقي کې خپور شوی دی. په نثر کې د استاد خادم تر ټولو خواږه او خوندور اثرونه د "نوي ژوند" او "خيالي دنيا" په نامه دي. دا دواړه ادبي شهکارونه ګڼل کېږي. د استاد خادم په ليکنو کې د پښتو او پښتونولۍ مينه ډېره پياوړې ده. په دې برخه کې د يوې پخې عقيدې خاوند دی. سربېره پر دې استاد خادم ليکنې ادبي، انتقادي، ټولنيز، سياسي او روزنيز رنګ لري. خادم په خپلو ليکنواو شعرونو کې د ظالم له مخ څخه پرده پورته کړې او رسوا کړی يې دی. هغه ولس يووالي اواتفاق ته رابللی دی، نامنلي زاړه دودونه يې غندلي دي، په خپلو لوستونکو کې يې د زړورتيا او ازادۍ احساس پياوړی کړی. استاد خادم د خپلو ليکنو له لارې د ټولنې هره تياره رڼا کړې او ولس ته يې څرګند پيغام ورکړی دی.

د افغانستان دا لوی مفکر، ژورنالست، اديب، ليکوال، د فلسفي افکارو خاوند، د ټولنې طبيب، سياستپوه او ټولنيز شخصيت د ۱۳۵۸ هـ. ش. کال د وږي د مياشتې په ۵مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نېټه د ۷٤ کلونو په عمر له نړۍ څخه سترګې پټې او د کامې ولسوالۍ د زرشوی په کلي کې په خپله پلرنۍ هدیره کې په ډېر درنښت خاورو ته وسپارل شو.

خادم چې په اخلاص شي څوک د ملك او د ملت
وطـن یـې پـس لـه مرګـه پـه مدفـن فخـر کوي

قیام الدین خادم په "اوسني لیکوال" کې خپل ژوندلیك خپور کړی دی، هغه په یوه برخه کې د "زما پر حیات انتقادات" تر سرلیك لاندې یو لړ مطالب لیکلي چې موږ یې د هغه د نثر د بېلګې په توګه راخلو:

"...دا د خلکو قصور دی اوکه زما عیب؟ استادان به هم زما پوښتنو ته اریان وو.

زه پخپله هم په دې قانع یم چې بحث مې خوښ دی، مګر په اساسي او اصولي خبرو، نه مطلق بحث... . وايي سرشوخه دی، مګر دوستان مې وايي ادبي شجاعت لري. په ورکوټوالي کې راته خلکو ویل چې کلانکار دی، ولې په آزادۍ خو زه په خپله هم قایل یم او دا ځکه چې دا طبیعي بار زما په ورمېږ نشته. هو، په دې یوه ګناه زه پخپله هم قانع یم چې هغه د حقیقت مینه باید وبولم. په ژوندانه کې هېڅوك له انتقاده نه دی خلاص. هغه انتقادونه چې په ما یې خلك کوي دادي:

وايي نه منونکی سړی دی. دا انتقاد په ما باندې زما والدې هم هر وخت کاوه. مګر زما جواب داو چې که زه منونکی وای، خوزه به هم د نورو خلکو غوندې وای.

په ورکوټوالي به مې د مور سره تل په دې جنګ و. دې به ویل: خلك داسې کوي اوته داسې. مابه ویل چې: خلك راته مه یادوه خلك خو هر څه کوي. وايي ډېر بحث کوي اونه قانع کېږي ... دا خبره نشم فیصله کولای. خلك په امورو کې د نورو نورو ملاحظاتومراعات کوي، مګر زه په حقیقت او واقعیت پېښې نشم اېښودای. ما خپل دغه عادت په هغه نظم کې چې د شاعر مسلك یې نوم دی، ښه تصویر کړی دی. زه دا ټولې خبرې اورم مګر د ځان سره وایم: ډېرې خولې ډېرې خبرې."

لکه پورته چې ورته اشاره وشوه، اروابناد قیام الدین خادم د "شاعر مسلك" تر نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې یو شعر لیکلی دی. په دې شعر کې شاعر خپل مسلک ته څرګندې اشارې کړې او له هېواد، ژبې او ولس سره مینه یې پکې غبرګه کړې ده. نوموړی شعر په دې ډول دی:

د شاعر مسلک

صحیح لاره به ښایم؛ که وم وم که نه وم نه وم
رښتیا رښتیا به وایم؛ که وم وم که نه وم نه وم
د حق د پیروۍ نه مې بل څه په زړه کې نشته
چې څه یمه همدا یم؛ که وم وم که نه وم نه وم
آزاد یم زېږېدلی بنده ګي کولی نشم
بنده د خپل مولا یم؛ که وم وم که نه وم نه وم
په بلهو خوشامندو مې ځان خوښ نه دی چې غټ شم
که غټ یمه خو دا یم؛ که وم وم که نه وم نه وم
چې څوک غواړي څه سپکه مې د قام له څه جهته
دښمن د هغه چا یم؛ که وم وم که نه وم نه وم
خدمت د خپلې ژبې، قام، وطن زما مسلک دی
په دې مینه به پایم؛ که وم وم که نه وم نه وم
کرم ښکلي تخمونه چې ګلزار شي پښتنو ته
په دغه تمنا یم؛ که وم وم که نه وم نه وم
په ماته کښتۍ ناست یم توپانونه دي په مخ کې
په دې لاره یې بیایم؛ که وم وم که نه وم نه وم
د ناز په خوب ویدې غونچې به ورو ورو ویښومه
خادم باد سبا یم؛ که وم وم که نه وم نه وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

قيام الدين خادم د ننګرهار په کامه کې نړۍ ته سترګې پرانيستې دي. لومړنۍ زده کړې يې په خپل کاله کې له خپل پلار او نورو زده کړې يې د هېواد دننه او بهر سرته رسولي دي. خادم په بېلابېلو لوړو دولتي څوکيو کې کار کړی او د ډېرو ادبي، ټولنيزو او سياسي ليکنو ليکوال و. هغه يو افغان سياستپوه، د مشرانو د جرګې سناتور، د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي استاد، ژورناليست، پياوړی ليکوال، وينېن شاعر، اديب او د فلسفي اندونو يو پوه عالم و. نوموړی په پښتو ادب کې يو ځانګړی ځای لري او په همدې سبب هغه د پښتو ژبې او ادب له پنځو ځلاندو ستورو څخه يو ستوری ګڼل کېږي. هغه د پښتو ژبې او ادب په باب په زرهٔ پورې منظوم او منثور آثار ليکلي. د ادبي هلو ځلو تر څنګ نوموړي په سياست کې هم ښکاره ونډه درلوده.

فعاليتونه

۱ــ زده کوونکي دې داسې يوه غونډه تمثيل کړي چې د قيام الدين خادم د ژوند، زده کړې، ليکنو، دندو او د هغه د ليکنو نثري او شعري بېلګې وړاندې کړي. يو تن دې د غونډې وياند (انانسر) وي. يو زده کوونکی دې د غونډې منشي وي. پنځه تنه دې د پورته يادو شوو موضوع ګانو په اړه لنډې خبرې وکړي او معلومات دې وړاندې کړي. په پای کې دې يو تن زده کوونکی د غونډې بهير وارزوي. د هغې ښه ټکي او نيمګړتياوې دې په ګوته کړي. د دې غونډې د تنظيم لپاره دې د مخه لس دقيقې چمتووالی ونيول شي.

۲ــ دوه تنه زده کوونکي دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي او د قيام الدين خادم د شعر او نثر بېلګې دې په خواږه اومنلي غږ واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳_ زده کوونکي دې سوچ وکړي د يوه ليکوال او شاعر له شعرونو او ليکنو څخه څنګه د يوې ټولنې د هغه مهال وضع او حالت څرګندېدای شو چې ليکوال په کې ژوند کاوه. بيا دې خو تنه په وار د ټولګي په وړاندې د هغې په اړه خبرې وکړي.

٤_ زده کوونکي دې په مناسبو ډلو کې تنظيم شي او د ژبې په ودې او پاينښت کې دې د ليکوالو ارزښت وڅېړي. همدا راز دې په ټولنيز پرمختګ او له ظلم او ناخوالو څخه د ټولنې د افرادو د ژغورلو په لاره کې د شاعر او ليکوال اهميت څرګند کړي. په پای کې دې د ډلې استازي راغونډ شوي موضوعات نورو ته واوروي او آزادې خبرې اترې دې پرې وکړي.

٥_ زده کوونکي دې په خپلو سيمو کې د يو يا دوو شاعرانو يا ليکوالو او د هغوی د شعر او ليک په اړه معلومات وړاندې کړي. کېدای شي ټول زده کوونکي په خپله خوښه په دې فعاليت کې برخه واخلي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د "شاعر مسلک" تحليل او وڅېړي. خپله ليکنه دې په بله ورځ نورو ته واوروي.

> د هر ليکوال د فکر ډول د هغه له ليکنو او د هر هنرمند د هغه له هنر څخه پېژندلای شو.
>
> ((مايکل انژ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې نثري ټېلګه ولولئ او خوند ترې واخلئ:

خوندور خوب

مازيګر لمر په غرغړه دی. د انګړ په منځ کې، د ګلانو د کياريو په غاړه، وړوکی ماشوم په لوبو بوخت دی، په لمن کې خاورې اخلي له يوه ځايه يې بل ته وړي او هلته يې غونډوي.

مور د کاله په کار اخته ده. په ډېره بېړه لګيا ده، کالي کونډې سنبالوي؛ ځکه چې ماښام دی او وخت ناوخته دی. د کار په منځ کې يې چې پام شي نو غږ کړي چې: "زړګيه! څه کوې راځه ناوخته دی، هله ځار دې شم!" ماشوم په خپله نيمګې او خوږه ژبه وايي: "ډوډو پکه کم." مور: "څه کوې؟!"

ماشوم: "ډوډو پکه کم" يعني "ډوډۍ پخوم." مور د کاله په کارو بوخته او ماشوم په خپلو لوبو. وړې وړې مرغۍ چې په کياريو کې يې ټوپونه وهل خوشحاله او جلتې جلتې ګرځېدې. يوه يوه والوته او ټولې خپلو بچيو او ځالو ته لاړې. وخت تېرېږي، نمر ولوېد، له ښکې تياره راپورته او د ځمکې په مخ راخوره شوه. د آسمان په شنه او نامحدوده فضا کې ځای پر ځای ستوري راښکاره شول.

مور چې د کار له بېړې نه خلاصه شوه له ځانه سره يې وويل: "آه! ماښام دی، تېر غونې شوه، بچی مې هلته لوبې کوي، آه زما هېر شوی دی!"

ورغله څه ګوري، ماشوم د خاورو نه وړې وړې او پلنې پلنې ډوېکنۍ جوړې کړې دي. خړ پړ پروت دی چې ستړی شوی دی، په خاورو کې يې سر ايښی دی او د خوب د قاصدانو لاس ته يې ځان سپارلی دی. د ماښام په خړه تياره کې مور د خپل ماشوم سرته ولاړه ده. زړه يې د يو عالم ترحم او رقت نه ډک دی او چرت وړې ده.

"هو! د ژوندانه مثال همدا دی. موږ په خپل ژوند کې همدغسې په خاورو لوبې کوو. په دغه لوبو اخته او سوچه د مرګ دروند خوب په موږ خپل چپاو راوړي او بل عالم ته مو بوځي. مګر آه! څومره خوږې دي دا لوبې او څومره خوندور دی دا خوب چې په خپله خوښه او آزادۍ سره وي." (قيام الدين خادم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو ادبي سبکونه

پښتو خورا بډایه ژبه ده. اوږد ادبي تاریخ لري. په لاس کې د شتو لاسوندو له مخې یې د شعر مخنیه دویمې هجري پېړۍ ته رسیږي. لومړی موندل شوی شعر یې په ۱۳۹ هجري کې د امیرکروړ دی. په مخکنیو ټولګیو کې مو د پښتو د نظم، نثر، ولسي ادبیاتو او لیکلي ادبیاتو په اړه لازم معلومات ترلاسه کړل. دلته د نورو معلوماتو تر څنګ ادبي سبک درپېژنو.

تاسو هرومرو د سبک نوم اورېدلی دی. ستاسو په اند به څه معنا ولري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبک د نظم او نثر یو خاص ډول بلل شوی دی. هر شاعر او لیکوال د لیکلو او شعر ویلو ځانګړې لاره لري. هغه ځانګړتیاوې چې په ادبي او هنري اثارو کې د بیان او تخلیق د ډول، بڼې او محتوا له مخې یو اثر له بل څخه بېلوي، سبک نومېږي. سبک خپلې ښکېنې، لارې او طریقې لري. سبک ډېره لرغونې کلمه ده او په ادبیاتو کې په بېلا بېلو معناوو څرګنده شوې ده. د ادبي سبک کلمه هنري ادبیاتو، انځورګرۍ، معمارۍ، موسیقۍ، مجسمې جوړونې، خطاطۍ او نورو ته هم کارول کېږي. په منځنیو پېړیو کې د سبک له مفهوم څخه داسې انګېرل کېدل چې تراژیدي او کمیډي ژانرونه په کومو الفاظو ولیکي. څکه کمیډي ژانرونه به په عامیانه ژبه؛ یعنې د خلکو په ژبه او تراژیدي به د هغې برعکس د هغه وخت په ادبي ژبې لیکل کېدل. په معاصره دوره کې د سبک معنا روښانه شوه. په دې دورې کې پر سبک باندې د لیکوال د لیکوالۍ طرز، د فکر لارې او د لغاتو د کارونې معنا پیدا کړه. تر هغه ځایه چې د سبک کلمه د یو ټاکلي لیکوال او هنرمند په اثارو پورې اړه لري او د هغه آثار د خصوصیاتو له مخې یو له بله بېلېږي، دا د سبک لومړۍ معنا بلل کېږي. کله چې له یوې ټاکلې موضوع او مفکورې څخه د لیکوالو یا هنرمندانو یوه ډله دفاع کوي، نو دلته سبک د مکتب معنا پیدا کوي. په دې معنا چې په یوې ټاکلې تاریخي دورې کې د څو لیکوالو د لیکوالۍ ډول، د فکر لارې او نورې ورته ځانګړتیاوې د هغوی له لیکنو څخه رااېستل کېږي. ادبي سبک په یوې محدودې معنا کې د یوه لیکوال او هنرمند په ټولو اثارو کې هغه نښې نښانې دي چې له لارې یې د لیکوال او هنرمند د فکر ډول څرګندېږي. د یوه لیکوال سبکي یووالی له هرڅه د مخه د څو آثارو په هنري او ادبي ژبه کې ترټولو ښه احساس کېدای شي. د یوه لیکوال او هنرمند د لیکوالۍ او هنري آثارو ځانګړتیاوو ته سبک ویل کېږي. که څوک د یوه لیکوال له سبک سره آشنا وي، نو کولای شي د هغه د سبک له مخې د هغه نور آثار وپېژني. ادبي سبک د یوه لیکوال او هنرمند ټول اثار او د هغوی پراختیا څېړي.

ادبي مکتب یا ادبي جریان په یوې ټاکلې تاریخي دورې کې د یوې ادبي ډلې لیکوالو له خوا د یوې ځانګړې لارې او د یو ځانګړي سبک خپلول او پر مخ وړل دي. دا حرکت د ادبي جریان په نامه یادېږي. د یادونې وړ ده چې په دغه ټاکلې دوره کې د لیکوالو او شاعرانو له خوا لیکل شوي او ویل شوي اثار یو ځانګړي ادبي مکتب ته منسوبېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو ادبیاتو کې دا لاندې ادبي مکتبونه مشهور دي:

- د روښاني دورې تصوفي او ادبي مکتب،
- د خوشحال خان خټک ملي، حماسي او ادبي مکتب،
- د عبدالرحمن بابا تصوفي او ادبي مکتب،
- د حمید مومند هندي ادبي مکتب،

۱ـ د روښان په تصوفي مکتب کې اخلاقي، تولنیز، دیني او نور مطلبونه ځای شوي دي. دې موضوعګانو د روښان د تعلیم او ښوونې په اثر په پښتو ژبه کې ځان ښکاره کړی دی. تر ده وروسته د ده مریدانو او اولادونو پر دې لار ګامونه ایښي دي. اخون درویزه د خپلو لیکنو لامل د میا روښان لیکنې بللې دي. د روښان لارویانو د ده مسلک چلولی دی. د روښان په ادبي مکتب کې ډېر خلک د پښتو ادب له کاروان سره ملګري شول. ډېرو خلکو قلم په لاس کې واخیست او ددغه پېر غوښتنې یې په ډله ییزه توګه په ښه شان انځور کړې. د بایزید روښان او د ده د مخالف، اخون درویزه د مخزن الاسلام له لیکنو څخه څرګندېږي چې دغه لیکنې په مسجع نثر لیکل شوې دي. مسجع نثر د عربي او فارسي له لارې پښتو ته رانوتی او په پښتو کې د نوي نثر موسس بایزید روښان دی. دغه سبک د دیني او مذهبي کتابونو د لیکلو دودیز او ځانګړی سبک و.

د کلاسیکي دورې د لومړۍ برخې له ادبي مکتب څخه وروسته بل ډېر مشهور او غوره ادبي مکتب د پښتو په ټولو مکتبونو کې وتلی، د خوشحال خټک مکتب دی. دا مکتب د ادبي فنونو په ګاڼه سمبال شوی مکتب دی. اشعار یې ډېر خواږه دي. دې مکتب ډېر لیکوال او شاعران وپالل او وروزل. له پخوا څخه زیات پښتو ته حماسي اشعار رانوتل. د پښتو لمن له اخلاقي، ټولنیزو، تصوفي، دیني او ملي مسایلو څخه ډکه شوه. نثر هم پراختیا ومونده او مخ په ساده ګۍ روان شو.

په دې دوره کې د پخواني نظم او نثر نیمګړی سبک پیاوړی شو. نثر خوږوالی وموند، له نیم منظوم مسجع نثر څخه خلاص شو او د خبرو اترو بڼه یې ومونده. پښتو شعر د بڼې له مخې هم پراختیا ومونده او نوښتونه رامنځته شول. د موضوع له پلوه هم په دې مکتب کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندانه ټول اړخونه رابرسېره شول. په دې وخت کې ډېر آثار ليکل شوي دي او د پښتو ادب نړۍ يې رنګينه کړې ده. په دې مکتب کې د پښتو او پښتونوالي روزنه هم شته. اوږدې، اوږدې قصيدې په کې ويل شوي چې هره يوه يې ځانته بېل بېل ټولنيز، تبليغي او تاريخي مضمونونه لري. د حماسي احساساتو بنسټ خوشحال خان کېښود او لارويانو يې پيروي وکړه. د مغولو زور زياتى پکې په جوته څرګند شوى دى. د ادبي ارزښت له پلوه دا مکتب تر ټولو جامع دى. په دې معنا چې د معنا له خوا غښتلى او ادبي او شعري اړخ يې پوخ دى. په تخيل کې دا مکتب ډېر پياوړى دى. ډېر لوړ او شاعرانه تخيلات پکې شته. دا مکتب د پښتو تر دريم ادبي مکتب پورې په ډېر قوت او زور چلېدلى دى. په دې مکتب کې په نظم او نثر ډېر اثار ليکل شوي او ډېر پياوړي کسان پکې روزل شوي دي. په شعر کې اشرف خان هجري، عبدالقادر خټک، صدر خان خټک، سکندر خان، ګوهر خان او نور، په ساده نثر کې خوشحال خټک، افضل خان، قادر خان، او نور پيدا شول او د يوه مکتب پيروي يې وکړه.

د رحمن بابا ادبي او تصوفي مکتب د خوشحال خټک له ادبي مکتب څخه وروسته پيل شوى او ډېر ادبي او تصوفي شاعران يې روزلي دي، لکه: پيرمحمد کاکړ، محمد يونس خيبرى، احمدشاه بابا، شمس الدين کاکړ، نجيب، عبدالعظيم رانيي زى، بېدل اشنغرى، مطيع الله، رحمت داوى، حسين او نور. ددوى په اثارو کې د ژوندانه زياتره مسايل راغلي دي. د رحمان بابا په اشعارو کې اخلاقي، ټولنيز، عشقي او انتقادي درسونه نغښتي دي. د دې مکتب د پيروانو سبک روان دى. د شعرونو مضمونونه يې عموما عشقي، اخلاقي، ديني، ټولنيز او تصوفي اړخونه لري.

له رحمن بابا او خوشحال خان څخه وروسته په پښتو ادب کې يو بل لوى شاعر پيدا شو او د نازک خيالۍ يو نوى ادبي مکتب يې جوړ او نور شاعران يې خپلې پيروۍ ته راوبلل. دا شاعر حميد مومند و چې د پښتو ادب ګلبڼ يې رنګين او بډاى کړى دى. حميد ډېر په زړه پورې ادبي آثار پرېښي دي او پښتو ادب يې له يوې بلې لارې بشپړ کړى دى. هندي سبک چې د ده په وخت کې پراختيا موندلې وه او لوړو پوړيو ته رسيدلى و، ښه يې و سپړه او بيا په خپله پکې شامل شو. د پښتو شعر يې په هندي سبک واړاوه. د هندي سبک ځانګړتياوې يې پکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوستي چې له همدې امله د حمید مومند سبک ته د پښتو هندي سبک ویلای شو. د نازک خیالی په دې مکتب کې د سوز، ګداز، مینې او محبت کلمې ډېرې دي. د فورم له پلوه په دې مکتب کې د شعرونو زیاتره ډولونه، لکه: غزل، قصیده، مثنوي، ترکیب بند، قطعه، مخمس، رباعي او نور شته. د غزل برخه پکې درنه وه.

لکه د مخه چې مو ویل حمید په خپله د هندي سبک پیرو و، خو د دې سبک د نورو شاعرانو پر خلاف د ده کلام لږ څه ساده او هر څوک پرې پوهېدای شو. د حمید د وینا بله ځانګړتیا د پښتو ژبې د خوږو محاورو په کارولو کې نغښتې ده. له یوې خوا یې د وینا نازک خیالي او لطافت ساتلی او له بلې خوا د عامو پښتنو د پوهې کچې ته نژدې و. د دې سبک بله ځانګړتیا داده چې حمید د نورو شاعرانو پر خلاف مبتذلې تشبیه ګانې نه کاروي او ډېرې نوې او ابتکاري تشبیه ګانې یې پیدا کړي دي. علي خان، کامګار ختټک، کاظم خان شیدا، محمدي صاحبزاده، عبدالله، ملا محمد، اکرم، قلندراپریدی، نجیب، ببدل، میرزا حنان کندهاری او نور د دې سبک پیروان دي.

د متن لنډیز:

پښتو بډایه ژبه ده. شعر او ادب یې ډېر لرغونی دی. تر ډېرې کچې یې خپل اصل ساتلی دی. هېواد ته د اسلام دین له راتګ وروسته د عربي او فارسي ادب تر اغېز لاندې راغله. عربي ژبه دیني ژبه وه او فارسي ژبې له هغې څخه زیاتې موضوع ګانې ژباړلې یا لیکلې وې. پښتانه اړ وو د اسلام دین او مذهب ته د درناوی له امله د هغوی تر اغېز لاندې راشي. له بلې خوا په سیمه کې یو لړ ټولنیزو ناخوالو او سیاسي خوځښتونو یو شمېر پښتانه شخصیتونه دې ته هڅولي وو چې د دین له لارې خپل ټولنیز او سیاسي اهداف مخکې یوسي. بېلا بېل نامتو لیکوالان، شاعران او مشران رامنځ ته شول. هغوی هر یو خپل، خپل پیروان درلودل چې پیروانو به یې د یو واحد شعري قالب په ساتلو خپل مطالب بیانول. په دې توګه په پښتو کې ادبي مکتبونه او ځانګړې سبکونه رامنځ ته شول اوتر ډېره وچلیدل. د روښانیانو، خوشحال ختټک، رحمن بابا او عبدالحمید مومند سبکونه یادولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ ټولګی دې پر څلورو ډلو وویشل شي. هره ډله دې د سبک په اړه خپل معلومات راټول کړي او په ترتیب سره دې د روښان، خوشحال خان ختټک، رحمن بابا او حمید مومند پر ادبي سبکونو باندې رڼا واچوي. د ډلو استازي دې د خپلو ډلو لیکنې ولیکي او ټولو زده کوونکو ته دې یې واوروي. د یادونې وړ ده چې هر زده کوونکی باید په وار سره د ډلې استازیتوب وکړي. دا کار ډېر اړین او د پام وړ دی.

۲ ـ ادبي سبک څنګه ځانګړی کېږي؟ دوه تنه زده کوونکي دې پرې خبرې وکړي.

۳ ـ په پښتو ادبیاتو کې د سبک او مکتب مفکوره څه وخت منځ ته راغله؟ یو زده کوونکی دې پرې رڼا واچوي.

٤ـ مسجع نثر لیکنه د کومو لیکوالو له خوا پیل شوه؟ له ساده نثر سره د مسجع نثر توپیر څه شی دی؟ یو تن زده کوونکی دې د نورو په وړاندې دې پرې خبرې وکړي.

٥ـ د حمید سبک څه ځانګړتیاوې لري؟ دوه تنه زده کوونکي دې د شعرونو او بېلګو په وړاندې کولو هغه بیان کړي.

کورنی دنده

د خوشحال خان د ادبي سبک په اړه معلومات راټول کړئ او په یوې لیکنې کې یې ځای کړئ. په بله ورځ یې په ټولګي کې نورو ته بیان کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لور ته د چارلي چاپلين ليک



چارلي سپنسر چاپلين د سينما د ډګر يوه وتلې څېره وه. چاپلين په داسې وخت کې له اونا اونيل سره واده وکړ چې د برياليتوب پوړۍ ته رسيدلی و. چارلي د ۱۸۸۹ م کال د اپريل په ۱٦ په لندن کې زېږېدلی او د ۱۹۷۷ م. کال د دسمبر په ۲۷ په سويسزرلنډ کې مړ شوی دی. نوموړي اووه اولادونه درلودل. په دوی کې يوازې جرالډينه وه چې د سينمايي لوبغاړيتوب دنده ورته له پلار څخه په ميراث پاتې وه. ځوکاله د سينما په ډګر کې په کار بوخته وه. د پلار په څېر د شهرت پوړيو ته رسيدلې او په هنري غونډو کې يې نوم يادېده. کله چې جرالډينې غوښتل نوې د هنر ډګر ته ننوزي، پلار يې، چارلي ورته يو ليک ولېږه. دا ليک د نړۍ د ښکلو او زړه راکښونکو ليکونو په کتار کې راځي. دا ليک هر لوستونکی او اورېدونکی فکر کولو ته هڅوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته نوموړی لیک په یو څه لنډون راوړو:

"ګراني لورې، جرالډینې،

دلته شپه ده، د نویل یوه شپه. زموږ په کوچني کور کې ټول خلک ویده شوي دي. ورور دې، خور دې، آن مور دې ویده دي. پرته له دې چې دا ویدې مرغۍ راویښې کړم، ځان مې دې نیمې تیارې کوټې ته چې د مرګ د انتظار کوټې ته ورته ده، راورساوه. زه له تا څخه ډېر لرې یم... خو سترګې مې دې ړندې شي، که به مې یوه شېبه ستا انځور له سترګو اوړي. ستا انځور هلته د مېز پر سر پروت دی، خو ته پخپله په ښکلي پاریس کې د هغه پرتمین تیاتر پر سټېژ. په دې پوهېږم او همداسې ده چې ګوندې د شپې په دې چوپه چوپتیا کې ستا د پښو اوازونه اورم او د ژمي په دې تروږمۍ کې ستا د سترګو برېښنا ګورم.

اورېدلي مې دي د هغه شهزۍ (شهزادګۍ) په رول کې کار کوې چې د تاتار د خان اسیره شوې ده. شهزۍ اوسه او ناڅه! ستوری شه او ځلېږه! خو که د نندارچیانو له خندا ډک شاباسي او د سوغات شوو ګلونو په زړه پورې بوی درته د هوښیارۍ کومه شېبه درکړه، په یو ګوښه ځای کې کښېنه، زما لیک ولوله او د پلار خبرو ته غوږ شه.

زما جرالډینې، زه ستا پلار یم، چارلي چاپلین. کله چې ته کوچنۍ وې، شپې شپې ستا سرته ناست وم او کیسې مې درته کولې؛ په ځنګل کې د یو خوب وړي خوندوره کیسه، په دښته کې د ویښ ښامار کیسه،... کله چې به مې زړو سترګو ته خوب راغی، نو په پېغور به مې ورته ویل: څه! زه مې د لور په خوبونو کې ډوب یم.

خوب مې لیده جرالډینې، خوب... . ستا د سبا خوبونه، ستا د نن ورځې خوبونه، د صحنې پر سر مې یوه نجلۍ لیدله، په آسمان کې مې یوه پرښته لیدله چې نخل یې او نندارچیانو ویل: هغه نجلۍ ګورئ! دا د هماغه زاړه سړي لور ده... .

نوم یې پېژنې؟ چارلي! هو، زه چارلي یم. زه یو زوړ سړی یم. نن ستا وار دی. وناڅه! زه په هغه ټوټې، ټوټې او شکېدلي پتلون کې نڅېدم او ته د شهزیو په وربښمینو جامو کې ناڅې. دا نڅاوې او تر هغو زیات د نندارچیانو د لاسونو پړکا به تا کله اسمانونو ته یوسي. څه! هلته لاړه شه! خو کله ځمکې ته هم راځه او د خلکو د ژوند ننداره کوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تیارو کوڅو د هغو ډمو ژوند وګوره چې په وچ نس او وچو لینګیو ناځي.

زه د هغوی په ډلې کې وم. په هغو شپو کې، ستا د ماشومتوب په افسانوي شپو کې چې ته زما په آللو ویده کېدې او زه بیا هم ویښ پاتې کېدم، ستا مخ او خبرې ته مې کتل او د زړه درزهار مې دې شمېره. له ځانه مې پوښتل: چارلي، آیا دا کوچنۍ نجلۍ به تا وپېژني؟

ته ما نه پېژنې، جرالډینې. هغه پخوانۍ شپې، هو... تاته مې کیسې کولې، خو هېڅکله مې تاته خپله کیسه ونه کړه. دا کیسه په اورېدو ارزي ... د هغه وږي انسان کیسه چې د لندن په ډېرو ټيټو او سپکو کوڅو کې به یې سندرې ویلې، نڅېده به او خیرات به یې ټولاوه. دا زما کیسه ده.

ما د لوږې مزه څکلې ده. ما د بې کورۍ درد ګاللی او ترهغې زیات ما د هغه انسان رنځ احساس کړی چې له غروره یې سمندر په زړه کې څپې وهلې، خو د لاروي د خیرات یوې سکې د هغه غرور په اوبو لاهو کاوه.

له دې ټولو سره سره زه بیاهم ژوندی یم او له مرګه مخکې په ژوندیو پسې باید څه ونه ویل شي. زما کیسه ستا نه پکارېږي. ستا خبرې به وکړو. ستا په نوم پسې زما نوم راځي، چاپلین. په همدې نامه مې د ځمکې پر مخ له څلوېښتو کلونو څخه زیات خلک وخندول او هرڅومره چې هغوی وخندل ترهغوی ما پخپله ډېر وژړل!

جرالډینې، په کومې نړۍ کې چې ته اوسېږې، هلته یوازې نڅا او موسیقي نه ده.

د نیمې شپې پر مهال چې د تیاتر له پرتمین سالون څخه راوځې، هغه شتمن له یوې مخې هېر کړه چې لاسونه درته پرکوي او ستایي دې. د هغه ټکسي چلوونکي د حال پوښتنه وکړه چې تا کور ته رسوي. د هغه د مېرمنې پوښتنه وکړه. که مېرمنه یې امیدواره وي او د راتلونکي ماشوم د جامو پیسې نه لري، د پیسو چیک را وباسه او په پټه یې د هغې د مېړه په جیب کې کېږده. ما په پاریس کې خپل د بانک استازي ته سپارښتنه کړې چې ستا دا راز لګښتونه په پټو سترګوومني، خو د نورو لګښتونو اړتیا باید بیان کړې.

کله کله په سرویس یا میترو کې په ښار کې وګرځه. خلکو ته وګوره او لږ ترلږه د ورځې یو ځلې ځانته ووایه چې: "زه هم د هغوی له ډلې څخه یوه یم." ګرانې لورې، ته د هغوی له ډلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه یوه یې، نه له هغو ښځه زیاته. مخکې تر دې چې هنر چاته د الوتلو وزرې ورکړي، زیاتره ترې غبرګې پښې هم اخلي.

که کله هغه ځای ته ورسېدې چې یوه شېبه د خپلې نڅا له نندارچیانو ښځه ځان پورته وګڼي، هماغه مهال صحنه پرېږده اوځان ژر پاریس ته ورسوه. ماته هغه ځای ښه معلوم دی. هغه ځای د پېړیو پېړیو د مخه د کولیانو پسرلنی ځانګو وه. هلته به د ځان په څېر نڅاګرې وګورې چې له تا ښځه ښکلې دي، چالاکه دي او له تانه ډېرې مغرورې دي. هلته د "شانزلیزه" ړندوونکې شغلې نشته.

د کولې نڅاګرو شغلې یوازې د سپوږمۍ رڼا ده. ښه ورته وګوره ایا هغه تر تا ښې نه ناڅي؟ ګرانې لورې، اعتراف وکړه. تل داسې یو څوک شته چې تر تا غوره ناڅي. تل داسې څوک شته چې تر تا ښکلې وي.

په دې پوهه شه د چارلي په کورنۍ کې هېڅکله څوک داسې بې ادبه نه و چې کوم بېوزلي ته ناوړه خبره وکړي.

ښایي زه ومرم او ته ژوندۍ واوسې. زما هیله داده چې هېڅکله بې وزله ژوند ونه کړې. له دې لیک سره مل یوسپین چک درلېږم. هرڅومره پیسې چې غواړې پکې ویې لیکه او وایې اخله. خو هرکله چې دوه فرانکه لګوې، ځانته ووایه چې دویم فرانک زما برخه نه ده. هغه د یو نوموړکي برخه ده چې نن شپه ورته اړتیا لري.

د پیسو او شتو په اړه له دې امله درسره خبرې کوم چې زه د هغې بدوالی ښه پېژنم. ما ډېره موده په سرکس کې تېره کړې. تل د هغه چا په اړه اندېښمن وم چې په یو نري پړي تلل، خو، لورې، دا حقیقت تاته وایم چې د نري پړي په پرتله خلک د ځمکې پر مخ زیات لوېږي.

ښایي چې کله د نړۍ ډېر ښکلی الماس تا وغولوي. هغه شپه به دا الماس تا ته د سرکس د پړي په څېر وي او تا به هرو مرو وغورځوي.

په زرو او ګاڼو زړه مه تړه، ځکه د دې نړۍ تر ټولو ستر الماس لمر دی. له نېکه مرغه دا الماس د هرچا پر غاړه ځلیږي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو که کومه ورځ دې د یوچا د خبرې په لمر زړه بایلود، پاکه او له هغه سره یو زړه اوسه. مور ته مې دې ویلي چې په دې اړه درته لیک ولیکي. هغه مینه ترما ښه پېژني. هغه د یو زړه توب د پېژندنې لپاره ترما غوره ده. پوهېږم چې ستا کار ډېر ستونزمن دی.

پر ستېژ باندې له نریو وریښمینو جامو څخه پرته بل څه ستا بدن نه پټوي. د هنر لپاره انسان د ستیژ سرته لوڅ لغړ راتلای شي، خو بېرته باید له مخکې څخه هم پاك او سوچه راکښته شي. په دې نړۍ کې داسې هېڅ غوره شی نشته چې یوه نجلۍ دې د هغه لپاره خپل یو نوک هم چاته ښکاره کړي.

لوڅوالی زموږ د زمانې ناروغتیا ده. زه زوړ سړی یم، ښايي خبرې مې خندنۍ اوسي، خو زما په ګومان ستا لوڅ بدن باید د هغه چا برخه وي چې تاته يې لوڅ روح ګران دی. بده نه ده، که په دې اړه ستا فکر لس کاله د مخه وي، د ستر (حجاب) له مهاله مه ډارېږه! دا لس کاله تا نشي زړولای!!!"....

د متن لنډیز:

چارلي چاپلین د نړۍ د سینما تکړه لوبغاړی و. هغه په خپل تمثیل بې شمېره خلک خندولي او ژړولي دي. نوموړي په ټولنې کې شته ناخوالې ډېرې ښې انځور کړې او په ډېره ورتیا يې ننداري ته وړاندې کړې دي.

لور ته د چارلي چاپلین په لیک کې د هغه مفکوره ډېره ښه غبرګه شوې. انساني جوهر يې درک کړی او هغه يې خپلې لور ته پوره څرګند کړی دی. چارلي انساني دریځ ته په ارزښت د هغه په ساتنې ډېر ټینګار کړی دی. لور ته د چارلي چاپلین په لیک کې په حقیقت کې ټولې نړۍ ته د چارلي پیغام نغښتی دی. هغه په ډېر جرات له هغو کړنو پرده پورته کړې چې سرته رسول يې بشر ته په ټولیز ډول د شرم او رسوايی خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې په مناسبو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې پورته لیک له ځانه سره ولولي. د لیک له متن څخه دې اصلي پیغامونه راوباسي، ودې لیکي او د هرې ډلې استازی دې هغه نورو ته وړاندې کړي. ټول زده کوونکي کولای شي په موضوع آزادې خبرې اترې وکړي او خپل نظرونه بیان کړي.

۲ـ پنځه تنه زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې راشي او هر یو دې په خپل وار پورته لیک په خپله ژبه ووایي. نور زده کوونکي دې غوږ ورته ونیسي.

۳ـ ټول زده کوونکي دې د پورته لیک د متن له مخې د چارلي چاپلین د شخصیت په اړه فکر وکړي او بیا دې څو تنه هغه د نورو په استازیتوب په وار سره بیان کړي.

٤ـ چارلي چاپلین په سینماکې کمیډي او تراژیدي صحنې لوبولې. زده کوونکي دې فکر وکړي چې کمیډي او تراژیدي څه ته وایي او آیا موخه یې یوازې د خلکو خندول او ژړول دي او که بل څه؟ په دې اړه دې څو تنه زده کوونکي خپل نظرونه له بېلګو سره نورو ته وړاندې کړي.

٥ـ د زده کوونکو له ډلې څخه دې څلور تنه (کېدای شي تر څلورو زیات وي) د ټولګي په وړاندې په عملي توګه یوه، یوه کمیډي او تراژیدي ننداره نورو ته وړاندې کړي. نور زده کوونکي دې د هغو اصلي پیغام په ګوته او له خپل نظر سره دې وړاندې کړي.

کورنۍ دنده

هر زده کوونکی دې د نورو له مرستې پرته یوه لنډه کمیډي یا تراژیدي ټوټه ولیکي. د خپلې ټولنې یا ولس موجود حالت دې پکې تمثیل کړي او په بله ورځ دې نورو ټولګیوالو ته واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشه يي توکي (هيرويين)

د زلميتوب دوره په رواني لحاظ ډېره حساسه دوره ده. که يو څوک په دې دوره کې بې لارې شو، نو پايله به يې د ډاډ وړ نه وي. په دې دوره کې ځوانان ډېر زيات تر تقليد او د بل د پېښو تر اغېز لاندې راځي. که په دې پېر کې هغوی ته پوره پام ونشي، ښايي په غير شعوري توګه په ډېرو بدو لارو روان او تر څو چې ورته د لويانو پام کېږي، کېدای شي خپل ځان او ټولنه له يو لړ ستونزو سره مخامخ کړي. د نشه يي توکو کارونه او پر هغې باندې روږدي کېدل هم زياتره له همدې مهاله پيل کېږي.

- تاسو به په خپل ګاونډ کې په نشې کوم روږدی سړی ليدلی وي، د هغه ژوند درته څنګه معلوميږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نشه يي توکو د کاروني پر بنسټ په ټولنې کې رنګارنګ اخلاقي او جنايي جرمونه رامنځ ته کېږي. په نشه يي توکو روږدي کېدل نه يوازې د سړي شتمني له منځه وړي، بلکې ټوله کورنۍ او آن ټولنه له خطر سره مخامخ کوي. دا توکي زياتره په کورنيو کې د ښځې او مېړه د جلا کېدو او د کورنۍ د ټوټه کيدو لامل کېږي. پر نشه يي توکو او الکولو روږدي کېدل د سړي جسمي، ذهني او اخلاقي روغتيا له منځه وړي او سړی په يو بيکاره او لټ موجود بدلوي. هغه نه يوازې دا چې د مسووليت احساس نه کوي، بلکې د خپلې کورنۍ حيثيت هم له ګواښ سره مخامخ کوي. په ټولنه کې د يو شمېر شرايطو د چمتو کېدو له امله انسان د يو شمېر نشه يي توکو په کارولو اخته کېږي چې ځرګند جرم ګڼل کېږي. د دې توکو د کاروني مخه بايد ونيول شي. پر نشه يي توکو او الکولو باندې د يوه غړي روږدي کېدل کولای شي په مستقيم ډول د ځوانانو او کوچنيانو په چال چلند اغېز وکړي او له نشه يي توکو سره د هغوی د مينې لامل شي. که د روږدي کيدا لامل يې نشي، خو بيا هم د کورنۍ پر اخلاقي وضعې باندې ناوړه اغېز کوي. روږدې مور يا پلار يوازې د خپلې نشې په سوچ کې وي او د خپلو اولادونو په نسبت د مسووليت احساس نه کوي.

هيروين يو ډېر قوي او مرګوني نشه يي توکي دي. د مورفينو پنځه برابره مسموموونکی زور لري او ډېر ژر پرې سړی روږدی کېږي. له اپينو څخه لاس ته راځي. په ۱۸۷٤ م کال کې يو انګليسي پوه کشف کړ. په ۱۸۹۰م. کال کې يو شمېر جرمني پوهانو پرې نوې څېړنې وکړې او دا توکی يې پر نري رنځ او تنفسي ناروغيو اخته کسانو او همدارنګه پر مورفينو روږدو کسانو ته تجويز کړ. په ۱۹۹۰م. کال کې عملاً پر مورفينو باندې د روږدو کسانو لپاره وکارول شو. دا يو ډېر قوي نشه يي توکی دی.

لکه د مخه چې مو وويل د مورفينو پنځه برابره مسموموونکی دی، نو د يو روغتيايي توکي په توګه وپېژندل شو؛ ځکه کله چې به پر مورفينو باندې روږدو کسانوته ورکول کېده، د مورفينو اغېز به يې ډېر ژر ليرې کاوه، خو وروسته د ډاکټرانو پام دې ټکي ته واوښت چې دا توکي تر نورو توکو څو څو وارې خطرناک او مرګوني دي. له مورفينو څخه يې د روږدي کېدو ځواک زيات دی؛ ځکه ٦۰ ميلي ګرامه ورځنۍ لګښت يې سړی په دوو اوونيو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بشپړ ډول روږدی کوي. په روږدي سړي کې له ۸ څخه تر ۱۲ ساعتونو وروسته بېرته د هغې کارونې ته زیاته لېوالتیا پیدا کېږي. له هیروینو څخه د لومړي ځل لپاره په ۱۸۹۸ م کال کې د سپین رنګه پوډرو په توګه کار واخیستل شو او ورو، ورو ورسره د اخیستونکو جسمي او رواني تړاو پیدا شو. د دې توکي په نه تر لاسه کېدو روږدي شخص ته کانګې، د ځان خوږ، سربدالي، د بدن د دفاعي سیستم کمزورتیا، خپګان، مړاویتوب او غلی والی، د کمزورۍ احساس، سخته لړزه، د اوښکو او پوزې بهېدل، جنسي کمزوري او د حافظې کمزوري، د سټړیا او ستومانۍ احساس او نس ناستی پیدا کېږي. که پر هیروینو باندې روږدي شخص ته تر ۳۶ ساعتونو پورې هیروین ورنه کړای شي، لاس او پښې یې سختې ربیږي، خوب نه ورځي او له ارادې پرته کوکارې وهي. سټړیا او بېحالي پرې غلبه مومي او آن تر دې چې له ځایه سر نشي پورته کولای. که دا کار لږ دوام ومومي، نو د مرګ خطر یې شته دی.

د شمېرنو له مخې د نړۍ د اپینو زیاته برخه په افغانستان کې تولیدیږي. له همدې امله د روږدو کسانو شمېر هم په افغانستان کې زیات او له یوې ورځې نه بلې ته لاپسې ډېرېږي. د شمېرنو له مخې پر هیروینو باندې زیاتره روږدي اشخاص ځوانان دي چې له ۱۸ – ۳۰ کلونو پورې عمر لري. پر نشه یي توکو باندې د اخته کسانو د مړینې شمېر په هغو ځایونو کې ډېر زیات دی چې هلته د کوکنارو کرکیله کېږي او اپین تولیدیږي.

نن دې مرګونو توکو ښوونځیو او د ځوانانو مرکزونو ته لاره پیدا کړې او زموږ د زړه ټوټې ماشومان او تنکي ځوانان پرې اخته کېږي. پدې برخه کې د میندو، پلرونو او ښوونکو دنده ډېره مهمه ده. هغوی باید پرې نه ږدي چې د زړونو ټوټې او د سترګو کسې یې د دې چټلو توکو په کارونې اخته شي. باید د هغوی له مرګوني او خطرناکو پایلو څخه یې خبر کړي. د اسلام د سپېڅلي دین احکام، ټولنیز او اقتصادي او د طبابت له مخې د هغوی بدني او روحي زیانونه ورته بیان کړي. د هغو خلکو حالت دې ورته په خپلو سترګو وروښیي چې عملاً یې ټولنیز، اقتصادي او روغتیایي زیانونه لیدلي دي او د کورنۍ او ټولنې د شرم لامل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوږو بار يې ګرځېدلی دی. په همدې توګه ګران زده کوونکي دې د خپلې ټولنې او کورنۍ غړي، خپلوان، ملګري او انډيوالان د دې توکو له روغتيايي، اقتصادي او ټولنيزو زيانونو او په تېره بيا د اسلام د سپېڅلي دين له مخې د نشه يي توکو د راکړې ورکړې، کارونې او پېر او پلور له ناروا والي څخه خبر کړي. د احساس لرونکو ځوانانو په توګه دې هغه پيغامونه د تبليغ، خبرو اترو، ليکنو او نورو له لارې د خپلو هېوادوالو غوږونو ته ورورسوي چې د سګرټو، نسوارو، چلم، اپين، هيرويين، مورفين او نورو نشه يي توکو په اړه يې په ښوونځي کې زده کړي دي.

د متن لنډيز:
هغه څوک چې نشه يي توکي کاروي او له هغې پرته ژوند نشي کولای، د روږدي يا معتاد په نامه يادېږي. له بده مرغه په افغانستان کې د معتادينو شمېر ورځ په ورځ زياتيږي. زياتره دا هغه ځوانان دي چې عمرونه يې له ۱۸ څخه تر ۳۵ کلونو پورې دي. خلک هغوی د هيروييني يا پوډري په نامه يادوي. پوډريان له ټولنې څخه وتلي خلک دي. خلک ورڅخه کرکه کوي او د يو مجرم سړي په سترګه ورته ګوري. هغوی د خپل ځان دښمنان او د ټولنې د اوږو بار دي. په حقيقت کې روږدي کسان هغه څوک دي چې رواني ستونزې لري؛ د نشه يي توکو له زيانونو څخه خبر نه دي؛ له ناسمو خلکو سره ناسته ولاړه لري؛ ټولنيز او اقتصادي محروميت لري؛ د کورنيو ستونزو له کبله او سره لاس او ګرېوان وي؛ ميندې او پلرونه يې په همېشني تاوتريخوالي کې ژوند کوي او په غير ارادي توګه د نشه يي توکو په دام کې نښتي وي. د ټولنې د ټولو افرادو، دولتي او نا دولتي موسسو ګډه مسؤوليت دی، يو له بل سره په ګډه له روږدو کسانو سره مرسته وکړي چې له دې مرګوني رنځ څخه ځانونه راوباسي. همدا شان هڅه وکړي په هېواد کې د کوکنارو د کرکېلې مخه ونيسي چې د دې مرګونو توکو زېږوونکې ده. ځوانانو او وزګارو خلکو ته د کار لازم فرصتونه چمتو کړي؛ په ټولنې کې پر نشه يي توکو د روږدو کسانو لپاره د درملنې لارې چارې برابرې کړي چې د تل لپاره له دغه رنځ څخه خپله ټولنه وژغوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ د زده کوونکو له ډلې څخه دې څو تنه په وار پر بېلا بېلو نشو باندې د اخته کسانو ژوند او حرکتونه تمثیل کړي.

۲ـ په ټولنې کې پر نشو باندې د اخته کسانو شخصیت او د هغوی ټولنیز دریځ څنګه وي؟ څو تنه دې په خپله خوښه د نورو په وړاندې د هغې په اړه خبرې وکړي.

۳ـ زده کوونکي دې په ټولګي کې یوه غونډه جوړه کړي. د غونډې مشر، د مشر مرستیال، منشي او ویاند دې د رایو له مخې وټاکي. پنځه تنه ویناوال دې د بېلابېلو نشه یي توکو په اړه خبرې وکړي. د غونډې په پای کې د نشه یي توکو د کر کیلې، تجارت، لېږد او پر هغې باندې د روږدي کېدا په اړه دې یو پرېکړه لیک غونډې ته وړاندې کړي. کېدای شي د زده کوونکو له ډلې څخه یو تن د غونډې بهیر وارزوي او رغنده وړاندیزونه وکړي.

٤ـ که ستاسو په چم او ګاونډ کې پر نشې کوم اخته سړی اوسیږي، تاسو له هغه سره څنګه چلند کوئ او خپلو ملګرو او کلیوالو ته له هغه سره د چلند په اړه څه لارښوونه کوئ؟ درې تنه زده کوونکي دې د نورو ټولګیوالو نظرونه واوري او هغه دې توحید او نورو ته دې وړاندې کړي.

۵ـ پر نشې روږدی یا معتاد چاته ویل کېږي؟ پر نشې باندې د روږدي کېدو لاملونه کوم دي؟ زموږ هېواد څومره له دې ستونزې سره لاس او ګرېوان دی؟ د زده کوونکو درې ډلې دې پر دې موضوعاتو بحث وکړي او خپل نظرونه دې ټول ټولګي ته وړاندې کړي.

> د بریالیتوب شرط د پیاوړې ارادې لرل دي. تصمیم د بري لومړی شرط دی.
>
> ((د ورځې یوه خبره))

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده کوونکي دې د کوکنارو د کرکیلې د مخنیوي او بزګرانو ته د قناعت ورکولو په اړه خپل نظر په یوې مقالې کې ولیکي او په بله ورځ دې نورو ټولګیوالو ته واوروي.

لاندې شعر ولولئ او خوند ترې واخلئ:

سیم و زر په ملک کې نه لرم نادار یم | په دولت د زړه تر حده دنیا دار یم
وظیفه د حق له دره رارسیږي | کله سپي غوندې طامع د بل د یار یم
د مخ آب مې په سوال سره توی نشو | پوښېده په صدف در غوندې آبدار یم
قناعت له نا اهلانو بې پرواکړم | په دې ګنج سره سرخروی لکه انار یم
دار مدار د هیڅ ظالم کولای نشم | څکه تل د هر خودبین د سترګو خار یم
تر همای بلند نظر یم که باور کړې | کرګس نه یم چې جیفې ته هوادار یم
نه مګس یم چې پر غوړه کاسه مبتلم | نه دعوت وته د چا په انتظار یم
نه پرځان باندې منت د هر نامرد ږدم | نه یم خر چې د ګازر په جامو بار یم
مملکت د نومیدۍ مې رب نصیب کړ | په معنا کې په راحت تر شهریار یم
د اغیار په صورت اوریم چې لګیږم | لکه ګل تر و تازه په لاس د یار یم
بنده ګي د بل صاحب راڅخه نشي | خاص بنده زه پیر محمد د کردګار یم

پیر محمد کاکړ

د نورو په عیبونو سترګې پټې کړئ، پر ځای یې خپلو عیبونو ته پام وکړئ. هغه فرصت چې د نورو د عیبونو په سپړلو کې تېروئ، په هغې کې خپل عیبونه اصلاح کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درواغجنه ونه

هره انساني ټولنه د اخلاقو یوه ټولګه لري. دا اخلاق د هغې ټولنې بنسټيز ارزښتونه جوړوي؛ د ټولنې د غړو په ورځنیو فعالیتونو کې راڅرګندیږي او بشري بنسټ پیاوړی کوي. اخلاق دوه اړخه لري: نېک او بد. نېک اخلاق په هر ځای او هره ټولنه کې منلي وي. بد اخلاق د هیچا نه خوښیږي او کرکه ترې کوي. د ټولنیزو فرهنګونو له مخې کېدای شي په یوه ټولنه کې یو کار د منفي اخلاقو په لیکه کې وشمېرل شي، خو بیا همدا کار په نورو فرهنګونو کې د هغې ټولنې د معیارونو له مخې ناوړه نه بریښي. له دې سره سره داسې اخلاق شته چې په ټولو ټولنو او فرهنګونو کې ورته په یوه سترګه کتل کېږي. رښتینولي، صداقت، ښښنه، مېرانه او دې ته ورته نور د غوره اخلاقو داسې بېلګې دي چې هر شخص، هرې ټولنې او هر فرهنګ ته منلي دي. له بلې خوا دروغ، منافقت، په وعده نه وفا، غلا، غیبت او نور داسې کړنې دي چې د نړۍ په ټولو ولسونو کې ناوړه بلل کېږي. دلته د خیانت او دروغو د زیان په اړه د "کلیله او دمنه" له کتاب څخه یوه کیسه راوړل کېږي.وایي ترهغه چې بدي شته، نیکې پاتې کېږي او تر هغه چې تورتم وي، رڼا خپل رنګ له لاسه نه ورکوي.

تاسو پوهېږئ چې د دروغو یا منافقت پایله څه شی ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوړي ګرمي وه. کريم او جمال په يوې دښتې کې روان وو. چېرته کلی، کور او وداني نه ليدل کېده. کريم تر جمال لږ څه ډنګر او ساده و. هغه مخکې او جمال ورپسې روان و. کريم شاته وکتل، ډېره لار يې وهلې وه. د دښتې په شګو کې يې د خپلو پښو پلونه وليدل چې د ميرېانو د لارې په څېر يې يوه نرۍ لاره جوړه کړې وه. کلو او بانډو ته لږه لار پاتې وه. څو دقيقې وروسته هلته رسېدل. ښار کلو ته نژدې پروت و. کريم ودرېد او جمال ته يې وويل: "لږه لار پاتې ده. کلو ته چې ورسېدو، لږه دمه به وکړو، بيا به خپلو کورونو ته لاړ شو. د سخت باد او توپان له امله مو اوښان ورک شول. نه پوهيږو اوس به چېرته وي. ژوندي به وي که کوم ځناور به خوړلي وي؟" جمال چې له ستړيا يې سا تنګه، تنګه کېده، وويل: "زمونږ ټوله شتمني هماغه اوښان وو، نور څه نه لرو. نه پوهيږم څه وکړو. کاشکې پيدا کړي مو وای."

کريم وويل: "چېرته دې لټول؟ ته څه پوهېږې چې هغه چېرته تللي دي؟" جمال په نهيلۍ وويل: "نه پوهېږم، خو زړه مې په اوښانو پسې سوځي."

لږ وروسته کلي ته ورسېدل. هلته يې يوه چينه وليده. د چينې د پاسه يوه لويه ونه ولاړه وه. څانګې او ښاخونه يې هرې خواته غځېدلي وو. يخ سوری و. تر ونې لاندې يخه چينه وه. چينې ته لاړل، د دښتې تودوخې ډېر تږي کړي وو. لومړی يې مخ او لاسونه پرېمنځل بيا يې اوبه وڅښلې. کريم وويل: "خدايه، د اوبو په څېر ستر نعمت نشته!" جمال په ټوکو ورته وويل: "يو ورک شوی اوښ هم نه؟"

کريم په تريو تندي ورته وويل: "آه، د زړه پر ټپ مې مالګه مه دوروه!"

کريم او جمال دواړه ډېر ستړي شوي وو. خوب ورته ورغی. ويده شول. څو ساعته تېر شول. کريم سترګې وغړولې. ميده ميده باران ورېده. زړه يې نه کېده چې پاڅېږي، خو بايد خپلو کورونو ته يې ځانونه رسولي وای. ودرېد، ملا يې تاوه راتاوه کړه، ستړيا يې وايسته. مخامخ يې سترګې په يوې کڅوړې ولګېدې. ورغی او پورته يې کړه. کڅوړه درنه وه. ويې خندېدله، د سکو ترنګار يې واورېد. کڅوړه يې ببرته کړه. "او خدايه، سره زر!" باور يې نه کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کڅوړه له سرو زرو ډکه وه. د اوښانو غم يې له ياده ووت. په دې سرو زرو سلګونه اوښان کېدل. جمال ته ورغی او غږ يې ورته وکړ: "جماله، جماله، پاڅېږه!" جمال په ډډه واوښت، سترګې يې پرانيستې. کريم ته يې وکتل. بېرته يې سترګې پټې کړې. کريم بيا وخوځولو او ورته يې وويل: "پاڅېږه! وګوره چې څه شی مې موندلی، پاڅېږه!"

جمال سترګې وغړولې. د کريم په لاس کې يې کڅوړه وليده. کريم کڅوړه وخوځوله. د سکو ترنګار بيا پورته شو. جمال ټوپ کړ اوکڅوړې ته يې لاس کړ. خوب يې نه ليده، په رښتيا د سرو زرو کڅوړه وه. ويې پوښتل: "دا کڅوړه دې له کومه کړه؟ هغه چېرته وه؟"

د کريم خوله له خندا ډکه وه. ويې ويل: "تر هغې ډبرې لاندې. لومړی مې وانګېرل چې چا به ايښې وي، هاخوا دې خوا مې وکتل، هېڅوک مې ونه ليده. فکر مې وکړ چې خدایﷻ د اوښانو بدله راکړې ده."

جمال ته ځمکې ځای نه ورکاوه. ناکرار و. ويې ويل: "ته رښتيا وايې؟ اوس نو دا زموږه کڅوړه ده؟ ښه به دا وي چې په اړه يې سوچ وکړو!"

کريم ډېر ساده سړی او په ملګرتوب کې وفادار و. ځواب يې ورکړ: "سوچ ته اړتيا نشته. اوس يې په خپل منځ کې ويشو. نيمې يې ستا او نيمې يې زما."

جمال خپل ملګری ښه پېژانده او د هغه ساده ګي ورته ښه معلومه وه. فکر يې وکړ او ويې ويل: "ما ته يو چل راغی. که ټوله کڅوړه کور ته يوسو، ښايي خلک راباندې پوه شي او د غلا ګومان راباندې وکړي. اوس به لږې ترې واخلو او نورې به تردې ونې لاندې ښخې کړو. هر کله چې مو ورته اړتيا پيدا کوله، راځو به او لږې، لږې په ترې اخلو."

کريم ورسره ومنله. لږې سکې يې واخيستې او نوره کڅوړه يې تر هماغې غټې ونې لاندې په يو ځای کې ښخه کړه. ډبرې يې ورباندې کېښودې. د اوښانو د ورکېدو غم يې له ياده ووت. خوشحال، خوشحال کورونو ته رهي شول.

څو اونۍ تېرې شوې. جمال خپلې پيسې خلاصې کړې. نورو پيسو ته يې اړتيا پيدا کړه. د خپلې نقشې د پلي کېدو سوچ يې وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه ورځ د لمر لوېدو پر مهال له کوره ووت. هوا تياره شوې وه. چا نه ليده. يو ساعت وروسته هاغه ځای ته ورسېد. شاوخوا يې په ځير وکتل. څوك يې ونه ليد. زړه يې کېده په بيره کڅوړه راواخلي او ولاړ شي. په منډه ونې ته لاړ، ډبرې يې پورته کړې او کڅوړه يې راواخيسته. د کڅوړې پر ځای يې خاورې واچولې او ډبرې يې پرې بېرته هماغسې کېښودې. کڅوړه يې تر ملا وتړله او روان شو.

څو ورځې وروسته جمال د کريم کره لاړ. کريم ته يې وويل: "پيسې مې خلاصې شوې دي. راځه چې لاړ شو او لږې سکې راوړو."

کريم هم پيسو ته اړتيا درلوده. ورسره يې ومنله. دواړه پورته شول او د چينې پر لور رهي شول. جمال ورته په لاره وويل: "غوره داده چې د مخکې په څېر د اړتيا په اندازه سکې راواخلو او نورې بېرته ښخې کړو."

کريم ومنله. چينې ته ورسېدل. د ونې خواته لاړل، ډبرې يې پورته کړې. ځمکه يې وکنله، ډېرې خاورې يې ليرې کړې، خو کڅوړه نه وه. ځمکه يې بيا وکنله او خاورې يې هاخوا دې خوا ليرې کړې، خو کڅوړه يې ونه موندله. کريم په خپګان جمال ته کتل. جمال ډېر چالاك و. ښه تمثيل يې کاوه. څو شېبې وروسته يې وويل: "له ما او تا پرته د کڅوړې ځای بل چاته معلوم نه و. تا زما له باور څخه ناوړه ګټه اخيستې او کڅوړه دې له دې ځايه پټه کړې ده."

کريم هېڅ نه پوهېده. نهيلی و. په ډېر صداقت يې وويل: "ما دا کار نه دی کړی. باور وکړه، ما له تا سره هېڅکله خيانت نه دی کړی. کېدای شي هغه ورځ چا ليدلي واوسو چې دا کڅوړه مودلته ښخوله."

جمال حق په جانبه څېره نيولې وه، ويې ويل: "باور مې نه راځي. هغه ورځ تا هرې خواته ښه وکتل. هېڅوك هم نه و. اوس چې دې پيسې پټې کړې، غواړې ګناه د بل چا پر غاړه واچوې! زه ستا له لاسه قاضي ته ځم او شکايت کوم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریم او جمال دواړه تش لاسونه کورونو ته راغلل. کریم ډېر ناکراره و، خو د پیسو لپاره نه، بلکې د دې لپاره چې جمال یې په خبره باور نه کاوه. کریم ډېره هڅه وکړه چې جمال راضي کړي، خو نتیجه یې ورنه کړه. جمال د ښار قاضي ته لاړ او ټوله کیسه یې ورته وکړه.

قاضي پوه سړی و. ډېره تجربه یې لرله. د جمال خبرې یې اورېدې، خو کریم ته یې هم کتل. جمال ته یې مخ واړاوه او ویې پوښتل: "ډېر ښه! کڅوړه په خپل ځای نه وه. ته فکر کوې چې ملګري دې پټه کړې ده؟ آیا کوم شاهد هم لرې او که نه؟ "

جمال وویل: "هو، قاضي صاحبه، هغه ونه زموږ شاهده ده چې کڅوړه مو ورلاندې ښخه کړې وه."

جمال په خپله هم نه پوهید چې ولې یې داسې وویل. قاضي وموسکېد او ویې ویل: "ونه خو خبرې نشي کولای؟ تر اوسه مې د خبرې کوونکې ونې په اړه څه نه دي اورېدلي. سبا ټول هلته ځو او له ونې څخه به پوښتنه وکړم. اوس کورونو ته لاړ شئ."

هغه شپه جمال هیڅ خوب یو نه وړ. عجبه خبره یې کړې وه. آیا ونه هم خبرې کولای شي؟ سترګې یې د کوټې په چت کې ښخې کړې وې او په سوچ کې ډوب شوی و. له ځانه سره یې وویل: "سهار ته څو ساعته پاتې دي. باید یوه چاره وسنجوم. څه وکړم، ونه خو دروغ نشي ویلای. ولې مې دا دروغ وویل؟"

همداسې یې له ځان سره خبرې کولې. ناڅاپه یې یوې خبرې ته پام واوښت. له ځایه پورته شو او په منډه د خپل تره کور ته ورغی. تره یې ویده و، له خوبه یې ویښ کړ او ویې ویل: "کاکا، کاکا، ویده یې؟ ویښ شه!"

تره یې په وارخطایۍ وپوښتل: "څه چل دی؟ ولې په دې نیمه شپه کې راغلی یې؟"

جمال ورته وویل: "کاکاجانه، غواړم یو راز درته ووایم."

تره یې د راز د خبرې په اورېدو پورته شو او کښېناست. فکر یې وکړ کومه مهمه خبره ده. اندېښمن شوی و، ویې پوښتل: "څه چل دی؟ څه پېښ شوي؟"

وراره یې ټوله کیسه ورته وکړه. تره یې د جمال د خبرو له اورېدو وروسته وویل: "ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو اوس به ستا د دې ناوړه کار په وړاندې څه وکړم؟ لومړی دې غلا وکړه او بیا دې دروغ وویل!"

جمال د خپل تره خواته نژدې شو او په زاری یې پیل وکړ، ورته ویې ویل: "ما داسې فکر کړی چې ته راسره هغې ونې ته لاړ شې. ونه ډېره غټه ده. لویې څانګې او ښاخونه لري. په ډډ کې یې لوی غار دی. ته راسره لاړ شه او د ونې په هغه غار کې پټ شه. سبا چې قاضي راغی او له ونې څخه د غل په اړه پوښتنه وکړي، نو ته به ورته د کریم نوم واخلې."

تره یې لومړی نه منله، خو د جمال له عذر او زاری وروسته د شپې په تیاره کې هغه چینې ته لاړل. تره یې د ونې په ډډ کې پټ شو.

سهار کریم او قاضي هم چینې ته ورسېدل. جمال ډېر ترهیدلی و، خو ډېر ژر یې خپله ترهه او ډار پټ کړ. جمال قاضي ته هرکلی ووایه. قاضي ترې وپوښتل: "هغه ونه کومه ده چې شاهدي ووایي؟"

جمال وویل: "قاضي صاحب، هغه ونه دغه ده."

قاضي ونې ته نژدې شو او ویې ویل: "ای غټې ونې، آیا ویلای شې ووایې چې د سرو زرو کڅوړه چا پټه کړې؟"

یوه شېبه وروسته له ونې څخه یو عجیب غږ راووت: "هوکې، قاضي صاحب، غل همدلته دی او هغه کریم دی!"کریم ډېر ډاربدلی و. قاضي ته په منډه ورغی او ویې ویل: "په خدای سوګند خورم، دا ونه دروغ وایي. ما داکار نه دی کړی!" قاضي په موسکا ورته وویل: "پوهیږم. زاري مه کوه. لاړ شه او لږ خس راټول کړه."

کریم نه پوهېد چې قاضي څه غواړي. لاړ، لرګي یې راټول کړل او راغی. قاضي لرګي د ونې شاوخواته کېښودل او اور یې ورته کړ. له لرګو څخه لوګي پورته شول او د ونې شاوخوا یې ونیوله. د جمال بدن په رېږدا شو. د خپل تره په فکر کې شو. څو شېبې وروسته د جمال د تره کومی لوګو تریخ کړ. سترګې یې له اوښکو ډکې وې. په ټوخ، ټوخ د ونې له ډډ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راووت او ولوېد. جمال له شرمه خړ اوښتی و. تره ته يې ورمنډه کړه.

قاضي وويل: "د خيانت او دروغو سزا بې آبي ده. تا په خپل کار هم خپله آبرو واخيسته او هم د خپل تره! اوس دې تره په شاکړه او په موږ پسې راځه!"

جمال ښه پوهېده چې ځای يې زندان دی. ډېر پښېمانه و، خو کومه چاره يې نه لرله.

د متن لنډيز:

په دې کيسه کې ټول پيغام په خيانت او دروغو خرڅېږي. خيانت او دروغ د انسان حيثيت او وقار له منځه وړي. د خپلې کورنۍ او ولس په منځ کې يې سپکوي. انساني ارزښت له لاسه ورکوي. سبا په ټولنه کې ځای نه لري. ځوک ورسره راشه درشه نه کوي او د شرم شيې ورځې تېروي. انسان ته نه ښايي د بدو او ناوړو اخلاقو په لرلو ځان له انساني ليکي وباسي او خپل قدر اوعزت له لاسه ورکړي.

څرګندوني

د "کليله او دمنه" د کتاب نوم ښايي هرچا اورېدلی وي. نوموړی کتاب په اصل کې د سانسکريت (پخواني هند) په ژبه ليکل شوی او وروسته د پښتو ژبې په ګډون د نړۍ په بېلابېلو ژبو ژباړل شوی دی. هندي نوم يې "کرتکا ودمنه کا" دی. کليله و دمنه د ژوند يو کتاب دی او کيسې يې د ژوند موجود حقيقتونه څرګندوي. ټولې کيسې يې روزنيزې او ډېرې خوندورې دي. پورته کيسه په لږ څه بدلون او لنډيز نوې وژباړل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ درې تنه زده کوونکي دې په ټولنه کې د انساني شخصیت په پیاوړتیا کې د نېکو اخلاقو په اړه خبرې وکړي.

۲ـ د ناوړه اخلاقو زیانونه کوم دي؟ په ټولنې کې د یو دروغجن شخص دریځ څنګه وي؟ پنځه تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او د پورته پوښتنو ځوابونه دې نورو ته بیان کړي. په ترڅ کې که د زده کوونکو د دروغو په اړه کومه کیسه زده وي، نورو ته دې یې بیان کړي.

۳ـ دروغ له کومه ځایه پیلیږي، څنګه پراختیا کوي او څنګه یو انسان د هغې په اړه بې پروا کیږي؟ څو تنه زده کوونکي دې د څرګندو بېلګو په وړاندې کولو په دې اړه خبرې وکړي اوخپلې سپارښتنې دې واوروي.

٤ـ دوه مخي او دوه رنګي څه زیانونه لري؟ دوه تنه زده کوونکي دې د هغې په اړه څرګندونې وکړي.

۵ـ څه کول په کار دي چې له ځانه نیولې بیا د ټولنې تر هر غړي پورې نېک او ښه اخلاق تعمیم اوپراخه شي؟ زده کوونکي دې په دې اړه فکر وکړي او په پای کې دې هر یو خپل، خپل نظر نورو ته وړاندې کړي.

کورنی دنده

نېک اخلاق او د انسان د شخصیت په بشپړتیا کې د هغې پر ارزښت یوه مقاله ولیکئ.

کله چې هوس پر عقل بریالی شي، انسان کندې ته لویږي.
(حضرت علي کرم الله وجههُ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزاني خويشکی

په تېرو ټولګيو کې مو د هېواد د يو شمېر پوهانو، ليکوالو، شاعرانو او ملي مشرانو د ژوند په اړه معلومات لوستي دي. دلته غواړو د پښتو د يو بل شاعر او د روښاني غورځنګ د ليکوال د ژوند په اړه معلومات چمتو کړو. لکه څنګه چې د مخه ويل شوي، د پوهانو، ليکوالو او شاعرانو د ژوند او د هغوی د ليکنو لوستل موږ ته د هغه مهال د اوسېدونکو د نظر څرنګوالی او حال احوال بيانوي. ښه ده چې هغه په ځير ولولو او د خپل ژوند مشال يې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزاني په قوم خويشکی او د برهان زوی دی. د ده د نوم او تخلص په اړه زیاتې څېړنې شوې دي، خو تر اوسه د ده اصلي نوم او د زوکړې کره نېټه چا نه ده په ګوته کړې. څېړونکو يې د زېږېدو نېټه د ۹۲۹ هـ. ق (۱۵۲۳ م) شاوخوا بللې ده. ارزاني د پنجاب د قصور اوسيدونکی و. هغه د قصور له اولياوو څخه شمېرل شوی دی.

ارزاني يو عالم او فاضل سړی و. پر پښتو سربېره د عربي، فارسي او هندي ژبو عالم و. د هغه له کلياتو او د نثر له نمونو داسې بريښي چې نوموړی د اسلامي علومو، په تېره بيا د قرآن او حديثو علم تر لاسه کړی و. ارزاني د تصوف په علمي او باطني دواړو اړخونو ښه عالم او عارف سړی و. د ارزاني له کلياتو او د (بيان ګردش فلك) تر نامه لاندې له يو نظم څخه څرګندېږي چې هغه د نجوم او فلکياتو له پوهنې هم يو څه برخمن و. ارزاني وايي:

دا فـــلـــك دايـــــــم پـــه رقـــص
كـــلـــه ســـعـــد كـــلـــه نـــحـس
ســـعـــد نـــحـــس پـــه خـــپـــل بـــخـــت شـي
څـــــوك دي نـــه كـــا ســـره بـحث
د فـــلـــك ګـــرځـــبـــد پـــه پـــېـــچ دی
څـــوك يـــې هـــست شـــي څـــوك يـــې هـــيـــچ دی
دا بـــــرج ســـتـــوري انـــــــــدازه وي
د هـــرچـــا قـــدر پـــه خـــپـــل مـــېـــچ دی
د فـــلـــك چـــې ګـــــــردان نـــــوم دی
د ســـتـــارو بـــانـــدې هـــجـــوم دی
د فـــلـــك پـــه كـــار پـــوهـــېـــږي
چـــې يـــې لـــوســـتـــی خـــپـــل نـــجـــوم دی

د روښاني پير يو بل ليکوال او د روښاني غورځنګ مخالف، اخون درويزه، هم ارزاني د علم او فضل خاوند بللی دی. نوموړی د تصوف او معرفت له علومو سره آشنا و.

ارزاني خويشکی د پير روښان د خليفه ګانو په ډلې کې شامل و. پير روښان هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پادشاهانو او امیرانو پر ځای عام ولس ته د معرفت او د توحید د علم د ورښوولو لپاره هند ته لېږلی و. ارزاني خپل ټول عمر په هند کې تېر کړی دی. د وروستیو لاس ته راغلو معلوماتو له مخې د "پټنه" په ښار کې د هغه قبر او مشهور زیارت دی. د قبر پر ډبرې د هغه د مړینې نېټه ۱۰۲۸ هجري لیکل شوې ده.

ارزاني خویشکی پښتون او په قصور کې اوسېد. د پیر روښان د پیرۍ اوازه دومره خوره شوې وه چې د قصور له پښتنو پرته د هندوستان مېشت پښتانه هم ترې خبر شوي وو. کله چې ارزاني خبر شو، نو پښتونخوا ته راغی او د پیر روښان مرید شو. له مریدۍ او یوې مودې تېرېدو نه وروسته ارزاني د پیر روښان تر ټولو لومړنی صوفي او پوه ملګری او د روښاني تصوف تر ټولو لوی او ستر مبلغ شو.

د ارزاني ټوله شاعري د روښاني عرفان تشریح او توضیح ده او یو تبلیغي او دعوتي رنګ لري.

ارزاني وايي:

نن کامل لره وردرومه　　　　د خپله چارکړه سر انجامه
دی به درکړي خفي ذکر　　　　پرې مشغول اوسه مدامه

بل ځای وايي:

نن کـــامل لره وردرومه　　　　تابــه زر کاندي له مســه
که د پیر په امر چار کړې　　　　ته به بند کړې پنځه حسه

همدا راز وايي:

دغه لوی نفس به زبر کړې　　　　د کامـل پیـر لـه اثـره
د کامـــل په صحبت اوسه　　　　تـا به خلاص کا له اژدره
د　　　　حـــیـات　　　　اوبــه
بــه درکا　　　　د　　　　زنـده　　　　زره　　　　لـه　　　　کوثـره
کـــه دغه اوبه دې وڅښې　　　　تـه بـه والـوزې بـې پره
(نو بیا) حال به دې روزي شي　　　　د کاملـو لـه بصـره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د توحـــيد مـــيوه به وخورې — د دغ ونــې لــه ثمـره
تـــر مـــقصوده بـــه ور نــشي — بې کامــل پيــر او رهبره
چې کـــامل پير دې روزي شي — د تا چار به شـــينه بره ...
دې فــــقير غـــاړه اداکـــړه — و هرچا يــې ورکړه غوره
ارزاني پښــــتو صفــت کـا — کل لـه الله اکبـره

د روښانيانو په تصوفي او ادبي مکتب کې ارزاني د ستر احترام او درناوي خاوند و. د پير روښان په عالمانو او پوهو ملګروکې ارزاني د روښان تر ټولو ډېر ډاډمن شخصيت و. له دې امله ارزاني د پير ورښان د فکر او فلسفې تر ټولو زيات معتبر مفسر ګڼل کيږي.

ارزاني يوعالم او فاضل سړی او تېز فهمه او فصيح شاعر و. د روښاني ادبي مکتب يوه درنه علمي او ادبي ستنه وه.

د نورو ليکنو ترڅنګ نوموړی لاندې ليکنې لري:

۱ــ پښتوديوان: څه ناڅه ٦۰۰۰ بيتونه لري. د تصوف او سلوک موضوعات پکې راغلي دي.

۲ــ مرات المحققين: داکتاب په فارسي ژبه ليکل شوی او د پندونو په بڼه د تصوف اسرار او رموز بيانوي. داکتاب څه ناڅه ۲۱۳ مخونه لري.

۳ــ د نثر رساله: دا يوه کوچنۍ رساله ده چې ۲۲ مخونه لري. په دې رسالې کې په لنډه توګه د معرفت ذکر شوی دی.

٤ــ ارزاني پر پښتو سربېره پر فارسي، عربي او هندي ژبو هم شعرونه ويلي دي او په دې ژبو کې د شعرونو ديوانونه لري... .

ارزاني يو صوفي او مذهبي سړی و. هغه د نوروعالمانو او د خپل وخت د دوديزو علومو له کبله دې ته اړ و چې په عربي او فارسي ژبو ليکنه وکړي. په هندي هم د هغه لاس ښه بر و، خو بيا يې هم په شعوري توګه په پښتو ويل او ليکل خپله دنده بلله، لکه چې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزاني په پښتو ووې نن يې غاړه کړه ادا

د دې تر څنګ له نورو پښتنو څخه هم غوښتنه کوي چې پښتو سپکه ونه ګڼي او له پښتو ليکنو کرکه ونه کړي. وايي:

ارزاني پــښتو خـــبره ته يې مـــه ګـــڼه هــلکه
دا خـــبره کــــه پښتو ده ځوک دې نه کا ځنې کرکه

له خپلې ژبې سره ارزاني خپل د مينې يو بل دليل راوړې او وايي:

دې مــــولا لــه ډېره حبه رســـولان کــــړه لـه کتبه
هر رسول لـه کتاب راغی په خپل قـام د قام په ژبه

په بل ځای کې وايي:

که توفيق مې حق نصيب که زه به کـــښم د حـــق ثنـــا
يــو ديوان په پښـــتو ژبـــه پر دېرش حرف به کړم بنـــا
بل يادګار به مې شي پـــاتو دا پښـــتو رښـــتيا وينا

ارزاني خپل مذهبي او تصوفي دعوت په پښتو ژبه خپرولو. وګورئ:

کل صفت د خپل مــولا کا په پښتو په خو خو طرحه
مـــوافـــقه له قــــرآنه پښـــتو شـــوې ده عـجبه
دا خـــبره کـــه پښـــتو ده دا په نص حديث ده صحه

ارزاني په خپل ديوان کې د پښتو او پښتون کلمې زياتې کارولې دي. له دې امله موږ ويلای شو چې ارزاني له پښتو او پښتونوالۍ سره زياته مينه درلوده. ارزاني وايي:

دا پښتو خـــبره واوره لـــــه دې ارزاني افـغانه
ارزاني افــغان وکـښلې د خـــپل زړه لـــه تصوره
يو وينـــا به کــــړم اغازه په پښتو به يې کــــړم سازه
پر کاغذ به يې زه وکـښم لــه دې پښـــتـــنيه رازه

ارزاني د عمر په وروستيو شېبو کې د خپل ژوند موخه داسې بيانوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزاني ضعيف دی جسم　　　خدای دې دا وینا کړه قسم
په پـــښتو ژبه يې وکيښ　　　کل صـــفت د حـــق د اسم

د ارزاني له لاس ته راغلي پښتو نثر څخه جوتيږي چې نثر يې ډېر ساده او روان دی. د خيرالبيان په خلاف مسجع نه دی. د پام وړ خبره خو داده چې په ۶۱۲ هـ. ق. کال کې د سليمان ماکو نثر روان او بيا وروسته د پير روښان د "خيرالبيان" نثر مسجع بڼه لري، خو د ده په نثر کې د سجعې برخه هغومره درنه، نه ده.

دا لاندې بېلګه وګورئ:

"د سري اندامونه خدای کړي دي. د هر اندام بخره شته. سترګې خدای کتو لره کړي دي او خوله خدای خبرو له کړې ده. او پوزه خدای دم لره کړې ده او غوږ خدای اورېدلو لره کړی دی. او ښپې خدای يانه [يون، حرکت] لره کړي دي او زړه خدای ياد لره کړی دی."

د متن لنډيز:

ارزاني د پنجاب د قصور اوسيدونکی و. هغه د قصور له اولياوو څخه شمېرل شوی دی.

ارزاني يو عالم او فاضل سړی و. پر پښتو سربېره د عربي، فارسي او هندي ژبو عالم و. د هغه له کلياتو او د نثر له نمونو داسې برېښي چې نوموړی د اسلامي علومو، په تېره بيا د قرآن او حديثو علم تر لاسه کړی و. ارزاني د تصوف په علمي او باطني دواړو اړخونو ښه عالم او عارف سړی و. د روښاني د پېر يو بل ليکوال او د روښاني غورځنګ مخالف، اخون درويزه هم ارزاني د علم او فضل خاوند بللی دی. نوموړی د تصوف او معرفت له علومو سره آشنا و. ارزاني خويشکی د پير روښان د خليفه ګانو په ډلې کې شامل و. پير روښان هغه د پادشاهانو او اميرانو په ځای عام ولس ته د معرفت او د توحيد د علم د ورښوولو لپاره هند ته لېږلی و. ارزاني خپل ټول عمر په هند کې تېر کړی دی. د وروستيو لاس ته راغلو معلوماتو له مخې د "پټنه" په ښار کې د هغه قبر او مشهور زيارت دی. د قبر پر ډبرې د هغه د مړينې نېټه ۱۰۲۸ هجري ليکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې ده. د ارزاني ټوله شاعري د روښاني عرفان تشریح او توضیح ده او یو تبلیغي او دعوتي رنګ لري. د روښانیانو په تصوفي او ادبي مکتب کې ارزاني د ستر احترام او درناوي خاوند و. د پیر روښان په عالمانو او پوهو ملګرو کې ارزاني د روښان تر ټولو ډېر ږدامن شخصیت و. له دې امله ارزاني د پیر روښان د فکر او فلسفې تر ټولو زیات معتبر مفسر ګڼل کېږي او د روښاني ادبي مکتب یوه درنه علمي او ادبي ستنه وه.

فعالیتونه

۱ـ یو تن زده کوونکی دې د روښان د ادبي سبک او بل تن دې د روښاني دورې د لیکوالو او شاعرانو پر محتوا او موضوع باندې خبرې وکړي.

۲ ـ دوه تنه زده کوونکي دې د ارزاني پر شعري ځانګړتیاوو وغږېږي. بېلګې دې وړاندې کړي.

۳ـ له پښتو سره د ارزاني مینه د هغه له کومو شعرونو څخه ښکاره شي؟ زده کوونکي دې د متن له مخې د هغې ځواب ومومي او دوه تنه دې پرې رڼا واچوي.

٤ـ په عمومي توګه د پښتو ژبې لپاره د روښاني غورځنګ ارزښت څه دی؟ درې تنه زده کوونکي دې څرګند کړي.

٥ـ پیر روښان ارزاني ته کومه دنده او ولې سپارلې وه؟ یو زده کوونکی دې پرې رڼا واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوې لنډې مقالې کې د ارزانې، زېږېدنه، مړینه، ځای، شعري ځانګړتیاوې او د ژوند ځرنګوالی ولیکئ. په لیکنه کې د لیک پیل، منځ او پای په پام کې ونیسئ. د مقالې په پای کې د کارول شوي ماخذ یا ماخذونو نومونه ولیکئ.

لاندې نثر ولولئ او پر مفهوم یې ځانونه پوه کړئ:

ناکامي

د ژوندانه د ناکامیو څخه مه مایوس کېږه!

هغه ژوند کامیاب ژوند نه دی چې تل کامراني لري. هغه خوشحالي سرې نه خوشحالوي چې د درد او خوږ په بیه نه وي اخیستل شوې! د ورځې رڼایي د شپې له تیارې څخه ده!

د لیدو خوند د بېلتانه په غم کې او د ژوندانه فتحه د ژوند په ماتې کې ده.

هغه چې له خدایه ابدي راحت غواړي، هغه د یو داسې جنت آرزو لري چې هلته د لیدو لپاره سترګو پرانیتو او د خوړلو لپاره خولې بېرته کولو، او د اورېدو لپاره غوږ ایښودو ته اړه نه وي!.

تر څو چې ژوند ژوند دی، نو په دې کې برکت له حرکت څخه دی! ځکه: کامل سکون کټ مټ مرګ دی!

هغه چې وایي په دې دنیا کې بدي ولې شته، کمی ولې، او بندیزونه ولې؟ نو دی په حقیقت کې د نېکی د پرېمانی او آزادۍ قدر نه پېژني او د دې مرغلرو پوره قیمت ادا کول نه غواړي!

هر څومره چې یوه خوشحالي شانداره وي هغومره هغه لیارې هم سختې وي چې د هغې د حصول لپاره لنډېږي.

د ژوند ناکامي په حقیقت کې هغه کسان غواړي چې د کامیابی وړ وي.

ارواښاد خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د معلولیت عوامل

زموږ ټولنه د پرله پسې جګړو له امله له ډول ډول زیانونو سره مخامخ شوې ده. بې کوري، مرګ ژوبله، شل او شوټ کېدل او د دې ترخنګ نورو معلولیتونو یو شمېر وطنوال ځپلي او له تلپاتې کړاو سره یې لاس او ګرېوان کړي دي. معلولیت چې په هر ډول رامنځته شوی وي، پوره زړه سوي او مواظبت ته اړتیا لري. بنایي یو معلول انسان داسې ونه انګېري چې خدای ﷻ مه کړه د ټولنې د اوږو بار دی، بلکې خپل دریغ د خلکو په زړونو او سترګو کې وګوري او باور ترلاسه کړي چې له هغوی سره د یو بشپړ انساني موجود په توګه چال چلند کېږي.

فکر وکړئ چې له یو معلول سره څه مرسته کولای شئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلولیت څه ته وایي؟

معلولیت په بدني یا اروایي ځواک کې د نیمګړتیا موجودیت دی چې له امله یې د یو چا د عادي ژوند د ټولو یا ځینو فعالیتونو سرته رسول ستونزمن کېږي. کېدای شي معلولیت تر زېږېدو د مخه او یا له زېږېدو وروسته رامنځ ته شي. د معلولانو د حقونو لوظنامه، معلول د هغو کسانو په لیکه کې شمېري چې اوږد مهاله فزیکي او یا ذهني کمزوري ولري. په دې معنا چې د بېلا بېلو ستونزو درلودلو له امله د ټولنې د نورو وګړو په پرتله وروسته پاتې وي.

معلولیت دا لاندې بېلابېلې بڼې لري.

بدني، اروایي، ذهني (په زده کړې کې ځنډ او رواني ناروغي)، حسي (د لیدلو او اورېدلو ستونزه) او مرکب (په یوه وخت کې له یو څخه د زیات معلولیت درلودل.)

د معلولیت عوامل

کیدای شي د زیاتو لاملونو له مخې معلولیت رامنځته شي، خو عمده لاملونه یې په لاندې ډول دي.

۱_ اکتسابي معلولیت: ټکر، پېښې یا طبیعي ناورینونه، جګړې، اور، مسمومیتونه او اوږدې ناروغی.

۲_ مور ذاتي معلولیت: د مور ذاتي معلولیت لامل په دوو برخو وېشي.

الف: د امیندوارۍ د مهال معلولیت، لکه جینیتیکي عوامل، د مور خوارځواکي، د مور د عمر لوړوالی، د امیندوارۍ پرمهال د ځان پاک نه ساتل (د حفظ الصحې نه مراعتول)، د ایکس وړانګو ته ځان نیول، د درملو کارونه، د سګرټ څکول.

ب: د زېږېدنې د مهال لاملونه: ستونزمنه او په ځنډ زېږېدنه، په غیر صحي ډول زېږېدنه، د زېږېدو پرمهال پر ماشوم د فشار راتګ.

د مور ذاتي معلولیت د مخنیوي لارې چارې: د نژدې خپلوانو تر منځ د ودونو مخنیوی، د امیندوارۍ پرمهال د مور روغتیا پالنه، سم خوراک، له ۱۸ کلنۍ کښته او له ۳۵ کلنۍ پورته نه امیندواره کېدل، د امیندوارۍ پرمهال د درملو په خپل سر نه کارول، د امیندوارۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر مهال ایکس وړانګو ته نه مخامخ کېدل، په بشپړ روغتیایي چاپېریال کې د روزل شوي فرد (دایې) تر څارنې لاندې د اولاد زېږول.

همدارنګه د بدني معلولیت د مخنیوي لپاره باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

- تر پنځه کلنۍ پورې د مرګونو ناروغیو په وړاندې د نوو زېږېدلو ماشومانو واکسینول،
- پر خپل مهال د ناروغیو په وړاندې وقایه او درملنه،
- له ځمکنیو ماینونو، ناچاودلو توکو او له جګړې څخه له راپاتې شوو شیانو څخه ځانونه لیرې ساتل،
- ناپېژندل شوو توکو ته لاس نه وروړل،
- د نشه یي توکو نه کارول.

له معلول سره د کورنۍ او ټولنې چلند: ښایي معلول شخص له نورو افرادو سره توپیر ولري، خو د یو چا له ناتوانۍ ډېره کول، نه یوازې له هغوی سره مرسته نه کوي، بلکې د هغوی ستونزې زیاتوي. کېدای شي معلول اشخاص داسې ستونزې ولري چې د هغوی د ځینو فعالیتونو مخه ونیسي یا ښایي هغوی یو شمېر کارونه په بل ډول سرته ورسوي. زیاتره معلول افراد کولای شي له زده کړې او روزنې وروسته د ژوند ډېر فعالیتونه له ډېر لږ توپیر یا تر نورو ورو سرته ورسوي. معلول دې ته اړتیا لري چې د هغوی وړتیا ومنل شي او له دې لارې پرځان باور پیدا کړي، نه دا چې له ژوند نهیلی شي.

د بدني او خوځښتي معلولیت لاملونه:

یو شمېر وګړي د ملا د تیر د کړیو یا مغزو د ګوزڼ له امله پر معلولیت اخته دي. ناروغۍ، ټکرونه، له لوړه ځایه لوېدل په یو چا کې د خوځښتي معلولیت لامل کېږي. له معلول شخص سره د چلند پرمهال باید د هغه نورو وړتیاوو ته پام وشي او زیار دې وایستل شي چې د هغوی نیمګړتیاوې جبران شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ړندو وګړو سره د چلند پرمهال باید زیار وایستل شي چې د هغوی فردي ورتیاوې پیاوړې شي. د داسې وګړو د نورو حواسو پیاوړي کول هغوی د چاپېریال له عواملو سره د مخامخ کېدو په صورت کې غښتلي کوي. د ژوند ځرنګوالی او د کور دننه د کارونې ور توکي باید په داسې ځایونو کې کېښودل شي چې یو نابینا وګړی شي له مرستې پرته یې ومومي.

له کڼو وګړو سره د مخامخ کېدو په صورت کې باید له هغوی سره په داسې ډول خبرې وشي چې هغوی پرې پوه شي. د خبرو پرمهال باید ورته مخ واړول شي چې زموږ د شونډو له خوځښت څخه زموږ مطلب درک کړي. پر لوړ غږ باندې د خبرو له امله زموږ پر مطلب ښه نشي پوهېدای، ځکه زموږ د شونډو خوځښت نشي تعقیبولای.

ذهني وروسته پاتې اشخاص هغه خلک دي چې د ذهني فعالیتونو له مخې تر نورو همزولو وروسته پاتې وي. له دې امله د زده کړې ورتیاوو، له چاپېریال سره سمون، له تجربو څخه په ګټه اخیستنې، د مفهومونو په درک او په سم استدلال او قضاوت کې کمزوري وي.

د متن لنډیز:

معلول اشخاص د بشري ټولنې یوه برخه ده. له هغوی سره په ټولوحالاتو کې باید انساني چلند وشي. د هغوی معلولیت ورته په ګوته نشي. د ړانده، شل، شوټ او کاڼه او پر نورو ورته نومونو یاد نشي. له هغوی څخه د هغوی د وړتیا له مخې کار واخیستل شي. باید په دې پوه شي چې هغوی د ټولنې او نورو د اوږو بار نه دي، بلکې د بدني بیارغاونې او ښه چلند له لارې په ټولنې او کورنۍ کې خپل دریځ تر لاسه کولای شي. په ځان ویسا او ډاډ یې پیاوړی شي. هېڅکله دې ته پرې نه ښودل شي چې د نهیلی او یوازیتوب احساس وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ــ زموږ په هېواد کې کوم راز معلولیتونه زیات او لاملونه یې څه دي؟ ټول زده کوونکي دې په دې اړه فکر وکړي او بیا دې د هغوی له ډلې څخه څلور تنه هغه په ګوته کړي.

۲ــ له یو معلول سره څنګه چال چلند وشي؟ څه وشي چې هغه ځان د نورو د اوږو بار ونه ګڼي؟ په دې اړه دې زده کوونکي فکر وکړي او بیا دې یو څو تنه د نورو په استازیتوب پرې رڼا واچوي.

۳ــ آیا معلولیت په عمومي ډول، یوه تلپاتې ستونزه ده او که د لنډې مودې؟ څنګه کولای شو، د بېلابېلو معلولیتونو د رامنځته کېدو مخه ونیسو؟ پنځه تنه زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې دې پوښتنو ته ځوابونه ووایي. د نیمګړتیا په صورت کې دې نور زده کوونکي په وار خپل نظر ورزیات کړي.

٤ــ زموږ په هېواد کې د جګړو په کلونو کې زیات خلک معلول شوي. تاسو د هغوی عمده لامل څه شی ګڼئ او د مخنیوي لپاره یې څه سپارښتنې لرئ. څلور تنه زده کوونکي دې د نورو په استازیتوب په وار سره خبرې پرې وکړي.

۵ــ یوه امیندواره ښځه باید د امیندوارۍ پر مهال څه وکړي چې ماشوم یې معلول و نه زېږي؟ درې تنه دې پرې رڼا واچوي.

کورنۍ دنده

په جګړو کې د ځمکنیو ماینونو د اغېز او پرهغوی د بندیز په اړه یوه مقاله ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې شعر ولولئ او خوند ترې واخلئ:

ستا د عشق له وینو ډک شول ځیګرونه
ستا په لاره کې بایلي زلمي سرونه
تاته راشمه زړګی زما فارغ شي
بې له تامې اندېښنې د زړه مارونه
که هرڅو مې د دنیا ملکونه ډېر شي
زمابه هېر نشي دا ستا ښکلي باغونه
د ډهلي تخت هېرومه چې رایاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه
د رقیب د ژوند متاع به تار په تار کړم
چې په توره پښتانه کاګوزارونه
د فرید او د حمید دور به بیا شي
چې زه وکاندم په هر لوري تاختونه
که تمامه دنیا یوخوا ته بل خوا یې
زما خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه
احمدشاه به دغه ستا قدر هېر نه کا
که ونیسي د تمام جهان ملکونه
لوی احمدشاه بابا

ښايي د غلا او درغلۍ ځاله يوه ورځ ويجاړه شي، خو د رښتيا او امانت ماڼۍ ټينګه او پر خپل ځای ولاړه وي.

((حديث شريف))

(c) ketabton.com: The Digital Library

مراد علي صاحبزاده (رح)

د نړۍ ټول ولسونه د خپل تاريخ په پاڼو کې داسې ځېرې او شخصيتونه لري چې ياد يې د هغو هېوادونو د وياړ او افتخار لامل دی. زموږ ګران هېواد افغانستان هم په دې برخه کې د ياد وړ ځای او د درنښت او افتخار تلپاتې ځېرې لري.

دا هېواد د پېړيو په اوږدو کې د سترو نوابغو، پوهانو، ليکوالو، مفسرينو او سياستوالو د روزلو زانګو ده. بوعلي سينا، ابوريحان البيروني، مولانا جلال الدين بلخي، بايزيد روښان، خوشحال خټک، ميا فقيرالله جلال آبادي، سيد جمال الدين افغان او په سلګونو نور هغه شخصيتونه دي چې نه يوازې افغانستان، بلکې د خپلو علمي برياوو او فرهنګي خدمتونو له کبله د ټولې نړۍ د پوهو او ويښو خلکو په زړونو کې زانګړی ځای لري.

موږ په تېرو ټولګيو کې د دې راز نوميالیو له ځېرو څخه يو څو تنه وپېژندل. دلته د مرادعلي صاحبزاده (رح) په اړه لنډ معلومات وړاندې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د خپل خاص طبیعي او جغرافیایي جوړښت له مخې، لکه څنګه چې د آسیا زړه بلل شوی، همداسې د سیمې د پوهنتون حیثیت هم لري. د دې هېواد هره سیمه د پوهې او علم په روزلو کې ځانته برخه او بېلې ځانګړتیاوې لري او هرې یوې یې د یاد او افتخار وړ شخصیتونه په خپله غېږ کې روزلي دي.

لوی ننګرهار له دغو سیمو څخه یوه ده. ننګرهار، د علم او ادب دې زانګو، په خپلې غېږ کې داسې اشخاص روزلي چې نن یې په یاد د افغانستان ټول ولسونه ویاړي. سید جمال الدین افغان چې د ده له ترقۍ غوښتونکو عالمانه نظریاتو څخه ټول اسلامي او اروپایي هېوادونه برخمن شوي او د هغه په ویاړ کې ځان شریک بولي، له دغه سیمې څخه سر راپورته کړی دی. میافقرالله جلال آبادي په همدې ټاټوبي کې خاپوړې کړې او بایزید روښان د دې ځای د خلکو په مرسته د غلیمانو په وړاندې درېدلی دی. د دې ترڅنګ چې یو شمېر خلکو توره چلولې او غلیمان یې له خاورې شړلي، نورو قلم راخیستی او د پرګنو ذهنونه یې روښانه کړي. ځینو بیا د توري ترڅنګ قلم هم راخیستی او په خپل پلرني ټاټوبي کې یې د پوهې او ثقافت ډېوه روښانه ساتلې ده.

مراد علي صاحبزاده رحمة الله علیه له دغو اشخاصو څخه یو دی. دی د افغاني ټولنې د پوهانو، عالمانو، لیکوالو، مفسرینو او تلپاتې څېرو څخه یوه روښانه څېره ګڼل کېږي. هغه څه چې دی تر نورو زیات د خلکوزړونو ته نږدې کوي او قدر او ارزښت یې زیاتوي، هغه پر پښتو ژبه د آسماني کتاب، پاک قرآن، ژباړل او تفسیرول دي. له دې امله یې په خاصو او عامو پښتنو کې مقبولیت موندلی دی. سره له دې چې په دولسمې او دیارلسمې هجري پېړیوکې د پښتو تفسیرونو د لیکلو ډېرې هڅې شوې او لیکل شوي دي، خو یو یې هم هغومره مقبولیت نه دی موندلی، لکه د مرادعلي صاحب تفسیر چې موندلی دی.

مرادعلي صاحبزاده د ۱۲۲۳ هجري قمري کال په شاوخوا کې د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ په یوې علمي او روحاني پښتني کورنۍ کې زېږېدلی دی. د پلار نوم یې حضرت عبدالرحمن سیلاني دی چې په فقیر صاحب شهرت لري. د مراد علي صاحب کورنۍ په صاحبزادګانو یادیږي. هغه کلی چې دوی استوګنه پکې لري، د فقیر صاحب د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورثې په نامه مشهور دی. فقیر صاحب پر علم او پوهې سربېره د روحانیت او طریقت د درجې څښتن هم و. په خپله سیمه کې ورته خلک ډېر ارادت لري.

فقیر صاحب د امیر شېرعلي خان د پاچاهۍ په زمانه کې ژوند کاوه او ویل کېږي چې په لومړي سر کې یې اړیکې له امیر سره ښې نه وې، خو کله چې امیر ته د ده د روحانیت درجه څرګنده شوه، ده ته یې رجوع وکړه او د مرستې او د سلا مشورو غوښتنه یې ترې وکړه. ویل کېږي چې سیدجمال الدین افغان په کامه کې څو څو ځلې له فقیر صاحب او د ده له زامنو سره لیدلي کتلي او پښتو ژبې ته د توجه او د هغې په ترویج او پیاوړتیا کې د هلو ځلو په اړه سید جمال الدین افغان د دوی پیغام امیر ته رسولی دی.

مراد علي صاحب په یوه روښانه، په علم او پوهه مینه، روحاني او مذهبي کورنۍ کې زېږېدلی دی. دی د یو خاص نبوغ او استعداد خاوند و. له دې امله د پلار تر ځانګړې پاملرنې لاندې و. فقیر صاحب خپل زوی ته سپارښتنه وکړه چې د عربي ژبې په زده کړه کې ډېر زیار وباسي. په دې توګه په لږه موده کې مرادعلي صاحب د پلار له سپارښتنې سره سم عربي ژبه زده کړه او له عربي کتابونو څخه د زده کړې زمینه ورته برابره شوه.

مرادعلي صاحب له خپل پلار څخه پر زده کړې سربېره د سیمې له نورو متبحرو پوهانو، دیني عالمانو او متفکرینو څخه هم زده کړه ترلاسه کړه. ده په لږه موده کې د خپل وخت دودیز علوم، لکه: صرف، نحو، منطق، حکمت، فقهه، تفسیر، میراث، عروض، قافیه او بدیع زده کړل. مرادعلي صاحب پر خپلې مورنۍ ژبې، پښتو سربېره په دري او عربي پوهیده. د قرآن حافظ هم و. په پښتو، دري او عربي ژبو یې زیات کتابونه لیکلي او په زړه پورې خواږه اشعار یې ویلي دي.

مراد علي صاحب خپل ټول ژوند د علم زده کړې، تدریس او د اثارو لیکلو ته ځانګړې کړی او ډېر ارزښتناک کتابونه یې لیکلي دي. د مرادعلي صاحب له کورنۍ څخه تر لاسه شوو اسنادو له مخې د هغه د آثارو شمېر تر شپېرو، اوو زیات دی او په پښتو، عربۍ او دري ژبو لیکل شوي دي. یو شمېر یې دا دي:

۱ــ ارثیه او تراثیه: په اصل کې دوه کتابونه دي. یو یې اصل او بل یې شرح ده او د میراث

(c) ketabton.com: The Digital Library

د علم په اړه ليکل شوي، چاپ نه دي.

۲ـ رساله علم العروض: دا رساله په منظومه توګه ترتيب شوې ده.

۳ـ صلواتيه: په دې رساله کې ليکوال د لمونځ د عربي عبارتونو جوړښت او صيغې ښوولې او په پای کې يې د لمونځ ژباړه په پښتو او دري ژبو راوړې ده. دا کتاب په ۱۲۶۸ هجري کال په پېښور کې چاپ شوی دی.

٤ـ د عربي صرف او ابجد خوانی په نامه يوه رساله ده چې په نوې لار يې په پښتو ژبه تر صرف ميره په خورا آسانه او روانه ژبه ليکلې ده.

۵ـ خطبې: مختلفې خطبې او موعظې دي چې په پښتو نظم ليکل شوې دي. دا خطبې تر اوسه نه دي چاپ شوي.

٦ـ رساله اسماني متبرکه اصحاب بدر: په دري ژبه يوه منظومه رساله ده.

۷ـ تفسير يسير: د مرادعلي صاحبزاده تر ټولو ارزښتمن او مشهور کتاب تفسير يسير دی. مرادعلي صاحب د تفسير يسير په اړه په عربي، دري او پښتو يو نظم ليکلی دی چې پښتو برخه يې په لاندې ډول ده:

پاخبـره ای مـراده چې شـپېتم دې شـو دا کال
پنجې دې کـړه مضبوطې په تفسـير او په قرآن
ښـايي چـې دې دا سـعي کـه مقبوله کـردګار
خلعـت دې مغفـرت که در په غـاړه په رضوان
کوتـاه وايـه الفـاظ چې اسـان شـي پـه هر چا
تقريـر کـوه واضح چې بهـره مند شـي طالبان

دغه راز هغه يو شمېر نور آثار هم ليکلي دي.

د مرادعلي صاحب له اشعارو څخه څرګنديږي چې د تفسير يسير د لومړي ټوک د ليکلو کار په اتو کلونو او يوولسو مياشتو کې بشپړ شوی؛ يعنې د ۱۲۸۲ هجري کال د کوچني اختر په پنځم پيل او د ۱۲۹۱ هجري کال د روژې په پنځم پای ته رسېدلی دی. د تفسير يسير د دويم ټوک د ليکلو کار د ۱۲۹٦ هجري کال د محرم په پنځمه يعنې د هغه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وفات یو کال او دوه میاشتې د مخه شوی او د لومړي ټوک په پرتله یې لږ وخت نیولی دی.

د تفسیر یسیر ژبه خورا خوږه، ساده او روانه ده. اروا ښاد عبدالحی حبیبي د تفسیر یسیر په اړه وایي: "تفسیر یسیر په روانه او خوږه ژبه لیکل شوی. په ټولو پښتنو کې مقبول دی، د کندهار نارینه او ښځې له دې تفسیر سره زیاته مینه لري."

عبدالله بختانی خدمتگار وایي: "تفسیر یسیر په پښتني سیمو کې له حده زیات شهرت موندلی دی. دغه وجه ده چې ډېرو خلکو په پښتو کې د تفسیر یسیر په رقم د تفیسرونو د جوړولو کوښښ کړی دی، چاپ هم دي، مگر هغه شهرت او مقبولیت چې د تفسیر یسیر په نصیب شوی، د بل په نصیب نشو. مرادعلي صاحبزاده ړومبی پښتون دی چې په پښتو ژبه یې د ټول قران تفسیر لیکلی دی."

دا هم د تفسیر یسیر د نثر یوه بېلگه:

"چې هرکله به کفارو په رسول علیه السلام پورې سپکې مسخرې کولې چې دی که واقعي رسول وي، نو دا لوړې اوتندې به یې نه تېرولې او دولت او خزانه به وله راغلې وه چې هم یې په خپله ترې خوړې او هم یې خلقو له ورکولې. د بادشاهانو په شان او یا به ملک ورسره راغلي وو چې د ده تصدیق به یې کاوه. نو دی په دې حرف ډېر تنگ دل شو، ځکه چې ده به کلام د رب ورته لوسته او دوی به نه قبلاوه. بلکې خندل به یې ورپورې... ."

لکه د مخه چې مو یادونه وکړه د مرادعلي صاحب د تفسیر یسیر ژبه خورا خوږه، ساده او روانه ده او له ننۍ کره لیکنې پښتو سره زیات توپیر نه لري. ده دا سپارښتنه هم کړې وه چې د تفسیر یسیر په لیک او ژبه کې دې ځوک گوتې نه وهي او هغه دې لکه څنگه چې ده لیکلې هغسې پرېږدي. ښکاري چې داسې هم شوي وي او لیک او ژبه یې هماغسې سوچه پاتې شوي وي.

مرادعلي صاحبزاده د ۷٤ کلونو په عمر د ۱۲۹۷ هجري کال د لومړۍ خور په دولسمه وفات شو او په کامه کې د فقیر صاحب د ورثې په مړستون کې د پلار تر څنگ خاورو ته سپارل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مراد علي صاحب د غوره خدمتونو له امله د کامي په ولسوالۍ کې په ۱۳٤۳ هـ. ش. کال کې یو ښوونځی د هغه په نامه ونومول شو چې بیا وروسته لېسې ته لوړ شو او د مراد علي رح د لیسې په نامه یادیږي.

د متن لنډیز:
افغانان له ویاړه ډک تاریخ لري. په دوی کې د تاریخ په بېلا بېلو پوړیو کې لوړ علمي، ادبي او ټولنیز شخصیتونه تېر شوي دي. ننگرهار د افغانستان په ختیځ کې پروت یو ولایت دی. د علم او ادب د ځانگو حیثیت لري. په خپلې غېږ کې یې زیات شمېر غیرتمن او نومیالي افراد روزلي دي. نن یې یاد د افغانستان د ټولو ولسونو د ویاړ یوه برخه ده. سید جمال الدین افغان له دغه ځایه سر راپورته کړی چې نن یې په نامه ټول اسلامي او آن اروپایي هېوادونه ویاړي او د هغه په ویاړ کې ځان شریک بولي. میا فقیرالله جلال آبادي په همدې خاورې کې خاپوړې کړې دي.
که چېرته خپل تېر تاریخ ته نظر واچوو، نو دا به راته څرگنده شي چې زموږ گران هېواد په دغه بهیرکې تل د نیواکگرو ځواکونو د زور او زیاتي له امله په علمي، فرهنگي، اقتصادي، سیاسي او ټولنیز ژوندکې له ډول ډول کړاوونو او ستونزو سره لاس اوگرېوان و، خو له نېکه مرغه په بریالیتوب سره له دغو کړاوونو راوتلی او خپل فرهنگ، ژبه او دود یې ساتلی دی. که یو شمېر خلکو توره را ایستلې او غلیمان یې له هېواده شړلي، نورو قلم په لاس کې اخیستی او د پرگنو ذهن یې روښانه کړی دی. مرادعلي صاحبزاده د دغو علمي، فرهنگي او دیني شخصیتونو په منځ کې د بلې ډېوې حیثیت لري. پښتو او پښتون قام ته یې زیات خدمتونه کړي، د نورو گڼو تالیفاتو ترڅنگ یې د پاك قران تفسیر او ژباړه په پښتو لیکلې ده.
د مراد علي صاحب نوم د خپلو ادبي، فرهنگي او علمي خدمتونو له امله د افغانستان په ادبي او علمي تاریخ کې لوړ ځای لري او تل ځلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ زده کوونکي دې یوه غونډه جوړه کړي. د پخوا په څېر دې یو مشر، مرستیال، منشي او ویاند وټاکي. نور پنځه تنه دې د مراد علي صاحب د ژوند، لیکنو، د نثر د ځانګړتیاوو، پښتو شعرونو او همدارنګه د تفسیر یسیر د لیکنې د اړتیا په اړه خبرې وکړي. د غونډې منشي دې د ویناوو عمده برخې ولیکي. د غونډې مشر دې غونډه ارزیابي او د مراد علي صاحب د شخصیت په اړه دې هراړخیزې خبرې وکړي. پاتې زده کوونکي دې فعال اورېدونکي واوسي او د اړتیا پر مهال دې پوښتنې وکړي.

۲ـ د تفسیر یسیر د لیکنې پر اړتیا دې یو زده کوونکی وغږېږي.

۳ـ پر دې خبره دې یو تن زده کوونکی وغږېږي چې ولې هغه مهال تر پښتو په دري او عربي ژبو زیاتې لیکنې کېدې.

٤ـ دوه تنه زده کوونکي دې د ننګرهار د ادبي او فرهنګي مخینې په اړه وغږېږي او د څو تنو نومیالیو سیاسي شخصیتونو، پوهانو، لیکوالو، شاعرانو او دیني عالمانو نومونه دې واخلي.

۵ـ د مرادعلي صاحب تر ټولو مشهور تألیف څه نومیږي او د شهرت لامل یې څه دی؟ یو تن زده کوونکی دې په دې اړه معلومات ورکړي.

کورنۍ دنده

د مراد علي صاحب د علمي، ادبي او مذهبي شخصیت په اړه یوه مقاله ولیکئ او په بله ورځ یې په ټولګي کې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مراد علي (رح) د شعر دا لاندې بېلګه ولولئ او خوند ترې واخلئ:

لـه اولـه هېـڅ خیـز نـه و، خـاك اوبه نـه بـاد او نار
نـه دا ځمکې اسـمانونه، نـه لمر سـپوږمۍ لیل ونهار
نـه دا انـس و جن حیـوان نـه نباتات سـیندونه غرونه
مګـر ذات بـې جهـات و، تـل ثابـت پـه یـو قـرار
بیـا د رب اراده وشـوه چـې زه وپېژنـدای شـمه
نـو پیـدا د حضـرت نـور پـه محبـت کـړ کـردګار
نـاګاه نـور شـو پـه جنبـش تـرې مرغلـره شـوه پیدا
بیـا د قهـر نظـر وشـو نـو دوه ځایـه کـړه قهـار
لـه یـوې قطعـې یې سـاز کړ هغـه لوی عـرش مجید
بیـا یـې بـاد پسـې پیدا کـړ پـه قدرت پسـې بسـیار
پـه دویمـه قطـره بانـدې بیـا نظـر د قهـر وشـه
لـه هیبتـه یـې اوبـه شـوه او لـه خوفـه تـار پـه تـار
بیـا یـې عـرش پـه اوبـو کېښـود او اوبـه په شـا د باد
بیـا د ځمکـې اسـمانونو عـزم کـړ پـروردګار
بیـا اوبه شـولې پـه موج ځګ پـرې راغی ډېـر او تېز
رب ترې سـازه کړلـه ځمکه او هم غرونه او اشـجار
او پـه دغـه مـوج وهلـو ډېـر لوګـي ورځینـې ولاړه
نـو ترې جـوړ شـو اسـمانونه پکې سـتوري بېشـمار
مراد علي رح (تفسیر یسیر)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو ادب کې د مېرمنو برخه

افغاني ټولنه هغسې چې د مېړنيو زانګو ده، د ښځينه اتلو زانګو هم ده. د تاريخ په شاهدۍ افغاني مېرمنې د هر ډګر اتلې دي. دوی په هېواد مينې دي او د خپلواکۍ په ساتلو کې يې له خپلو نارينه ورونو سره اوږه په اوږه ولاړې دي. دوی له علم او پوهې سره ډېره مينه لري. زيات شمېر پښتنې مېرمنې د خپل وخت په دوديزو پوهو او شرعي علومو سمبالې دي. افغاني مېرمنې د ادب د اسمان ستورې هم دي. دوی په خپلو ليکنو او شعرونو کې د خپل وخت اوضاع او احوال غبرګ کړي او تر موږ يې رارسولې دي. دا مېرمنې د پښتنې ټولنې د افتخار شملې دي او پر ځای ده چې افغانان پرې وویاړي.

تاسو څو تنه پښتنې ليکوالې او شاعرانې پېژنئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغاني ټولنه کې د ښځو دندې تر نارینه وو درنې دي. هغوی د کور په کارونو سربېره له کوره بهر له نارینه وو سره اوږه پر اوږه د ژوند نور کارونه یوشان ترسره کوي. په کلو بانډو او غرنیزو سیمو کې ښځې تر نارینه وو بیخي زیات کار کوي.

د ادب په پراخ ډګر کې د خپلو احساساتو او باطني جذباتو د څرګندولو لپاره پښتنې مېرمنو له خپلې وسې څخه زیات کار کړی دی. د هغوی افکارو او ادبي نوښتونو موږ ته هغه مرغلرې رابښلي دي چې پښتو ژبه پرې هم ژوندۍ او هم وياړمنه ده. په ولسي ادب کې د مېرمنو برخه تر نارینه وو زیاته ده.

په لیکلي ادب کې پښتنې مېرمنې له لیک او قلم سره زیاتې نژدې پاتې شوې نه دي او یا هم د ټولنیزو محدودیتونو له مخې يې نه دي غوښتلي نوم يې واخیستل شي او ټولنې ته وروپېژندل شي. له دې امله د هغوی یو زیات شمېر، لکه غمي، په ایرو کې پټ پاتې دي. هغوی چې نومونه يې د تاریخ پاڼو تر موږه رارسولي، ډېرې لږې دي. دلته د هغوی له ډلې څخه یو څو مېرمنې چې په پښتو ادب کې يې نومونه ژوندي پاتې دي، لولو.

۱ـ زرغونه کاکړه

زرغونه د ملا دین محمد کاکړ لور وه. د کندهار په پنجوايي کې اوسېده. د وخت دودیز علوم يې له خپل پلار څخه لوستي وو. زرغونه کاکړه په پښتو ادبیاتو کې هغه لومړنۍ شاعره ده چې موږ ته يې نوم او د شعر بېلګه راپاتې ده. نوموړې پښتنې شاعرې د شیخ مصلح الدین سعدي "بوستان" په پښتو نظم اړولی و او نوم يې ورباندې "بوستان د پښتو" ایښی و. مېرمن زرغونې بوستان د پښتو په ۹۰۳ هجري کې پای ته رسولی دی. پر دې سر بېره يې نور اشعار او غزلونه هم ویل او د عالمانو په ډلې کې مشهوره وه. د زرغونې کاکړې په اړه ویل کېږي چې ډېره کمالداره مېرمن وه، ښکلی لیک يې درلود او نورو کاتبانو به يې له حسن خط څخه د خط ډولونه زده کول. د پټې خزانې لیکوال وايي، پلار يې په ۱۱۰۲ هجري کې د زرغونې کاکړې په لیک "بوستان د پښتو" لیدلی و چې خپل اشعار يې په خپل لیک ډېر ښکلي لیکلي وو. د نوموړې نظم بېلګه په لاندې ډول ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوربېدلې مې كيسه ده / چې له شاتو هم خوږه ده
د اختر په ورځ سهار / بايزيد چې و رويدار
له حمامه راوتلى / په كوڅه كې تېرېدلى
ايرې خاورې چا له بامه / راچپه كړلې ناپامه
مخ او سر يې سو ككړ / په ايرو په خاور خړ
بايزيد په شكر كښنو سو / د خپل مخ په پاكېدو سو
چې زه ور يم د بل اور / چې په اور كې سم نسكور
له ايرو به څه بد ورمه / يا به لر شكوه كومه
هو، پوهانو ځان ايرې كړ / له لويني يې ځان پرې كړ
څوك چې ځان ته ګوري تل / خداى ته نسي كړاى كتل
لويي تل په ګفتار نه ده / لو خبره په كار نه ده

تواضع به دې سر لوړ كا
تكبر به دې تل ځوړ كا

۲_ مېرمن رابعه

پټې خزانې د مېرمن رابعې نوم ياد كړى دى. هغې د ۹۲۰ هجري په شاوخوا كې ژوند كاوه. رابعه د بابرشاه هم عصرې وه او په كندهار كې اوسېده. وايي چې نوموړې زيات اشعار لرل او ديوان يې هم درلود. د هغې يوه رباعي زموږ ګوتو ته رارسېدلې ده:

آدم يې څمكې وته راستون كا / په اور د غم يې سوى لړمون كا
دوزخ يې جوړ كا په مخ د ځمكې / نوم يې د هغې دلته بېلتون كا

۳_ مېرمن نېكبخته

مېرمن نېكبخته د شيخ الله داد لور وه. نوموړې يوه عارفه او زاهده مېرمن وه. ديني علوم يې لوستي و. مېرمن نېكبختې د "ارشاد الفقراء" په نامه يو كتاب ليكلى دى چې د سرته رسولو نېټه يې ۹٦۹ هجري ښودل شوې ده. د كتاب موضوع پندونه او اخلاقيات دي.
لاندې شعر يې له پټې خزانې څخه نقل شوى دى:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زړه ښاد شې ای مؤمنه
پـه ظـاهـر پـه بـاطـن سپینه
ظاهر زهد په اخـلاص کړه
په زړه ټینګ شه له یقینه
شکر صبر په هر حال کړه
خـود نما مه شه خـود بینه
شپـه او ورځ بـه پـه ژړا یې
کـه خـبـر شې لـه سـجینه
سجـیـن ځـای د خودنـمایه
د بـېـنـمـازو او بـې دیـنـه
لـه هغه ځـای امـان راکـړې
یـا الله الـعـالـمـیـنـه

۴ - مېرمن سایره

مېرمن سایره د لغمان د سید زیورشاه لور وه. د زیږیدو نېټه یې ۱۲۹۷ هجري ښودل شوې ده. د وخت دودیز علوم یې له خپل پلار څخه کړي. په پښتو ادبیاتو کې یې د رحمن بابا شعرونه ډېر خوښ وو. مېرمن سایره پر پښتو سربېره پر دري ژبې هم پوهېده. نومورې پښتنه شاعره په خپلو شعرونو کې د پښتنو د پرمختګ لپاره ډېرې هیلې لري. د مېرمن سایرې شعرونه اخلاقي رنګ هم لري. په خپلو شعرونو کې یې انسان ته له چل او فریب نه د ځان د ژغورلو لارښوونه کړې ده. د مېرمن سایرې شعرونه د انساني زړه سوي اواسلامي ورورولی یوه په زړه پورې بېلګه ده. لاندې یې د شعر یوه بېلګه ولولئ:

توبه

د ریـا د دیـنـداری نـه مـې تـوبـه ده
مـسـلـمـان زړه ازاری نـه مـې تـوبـه ده
یو نیالګی د مینې ږدې بل یې بیخ کاږې
ددې پـټـې بـیـخ کـنـی نـه مـې تـوبـه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې تسبیح یې وي په لاس بغض یې په زړه کې
خدایه دا رنګې شیخی نه مې توبه ده
چې د بل چا بدنامی باندې خوښیږي
د کچه مسلمانی نه مې توبه ده
په خوله وياسي توبې په خوله تمبې وي
الله، داسې رهزنی نه مې توبه ده
سایره د ننګیالیو زلمو خور ده
د بې ننګو وررولی نه مې توبه ده

۵ - حاذقه هروي

د حاذقې نوم کشوره دی. نوموړې د محمد عثمان دراني لور او د هرات اوسېدونکې وه. پر ۱۳٤۰ هـ. ق. کال د محرم د میاشتې په ۲۵ په هرات کې زیږیدلې ده.د وخت زده‌کړې یې په خپل کور کې کړې دي. د عربی، فقهې، احادیثو او نور دیني کتابونه یې لوستي دي. مېرمن حاذقې په پښتو او دري دواړو کې شعرونه ویلي دي او نثر یې لیکلی دی. د اشعارو او نثر مجموعه یې د "آثار حاذقه هروي" په نامه یادیږي. حاذقه په پښتو ژبه او ولس مینه وه. د هغې دواړو پرمختګ یې د زړه له تله غوښت.

د حاذقې د نثر بېلګه:

"اما ښکاره خبره ده چې ژبه د یوه محیط په اجتماعي شئوناتو کې ژوره اغېزه لري. د هرې ژبې لهجه مخصوص اثرات لري چې د هغې د خبرو کوونکو ملي خصایص ځینې پوره څرګندیږي. نو ځکه د ځوانو لیکوالوله محترمې ډلې څخه هیله کېږي چې د خپلې ملي ژبې په ژوندی کولو کې تر خپل وس پورې زیار وکاږي او په دې خوږه ژبه خپل احساسات څرګند او نشر کړي. د دې لپاره چې خپل ملي شهامت په ځای او د ټولنې اخلاق د خپلو ملي عواطفو په قوت اصلاح کاندې، قومي او ولسي یووالی دې په صحیح ډول سره ژوندی کړي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا يې هم د شعر يوه بېلګه:

فـــــکـــر وکـــړه ای ملتـــه د پښـتون
ترقـي لـــه هـــرې خــوا ده روز افـزون
هلـه پاخـه نــن زحمـت واخلـه پـه ځـان
زيـار وکاږه پـه صنعـت او پـه عرفـان
کـه هـــــرځـای لـرې دعـوا د مليـت
خپـل ځـــان وګڼـه خـادم د مملکـت
ولـې نـه بـه کـړو بيـا فـــخرمسـرت
شـــــــو پيـدا د ملـي ژبـې اهميـت
زده کـول هـم د دې ژبـې لـوی کـمـال دی
پريښـودل يـې هـر پښـتون لـره ډېـر عـار دی
پـه وطـن کـې د ملـي ژبـې نوبـت دی
نـن جاري په هـره خوا کـې عـــــلميت دی
توريالـی زمـری پښـتونه ځـان بيدارکـړه
پـه عـــلومـو او فنونـو دې تلـوار کـړه
دا مـوږ ټـول د دې وطـن خدمتـګاران يـو
نـــــر او ښـځې يـو تـر بـل فـداکاران يـو
راځـئ ټـول چـې پـه ملـي ژبـه وينـا کـړو
پـه اصلـي صورت ښـکاره ځـان په دنيـا کړو
هـر پښـتون د ملـي ژبـې طرفـدار دی
که اديـب دی که کاسـب کـه زمـينـدار دی
حاذقـه شـعرونه وايـي خـواري کـانـدي
پـه ليکلـو د پښـتو کـې بـه شـي وړانـدې

۶ - مېرمن حميده

مېرمن حميده د سيدحضرت شاه لور وه. پر ۱۲۹۷ هـ. ش. کال په ننګرهار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیږېدلې ده. مېرمن حمیدې نه یوازې په شعر ویلو کې روانه طبعه درلوده، بلکې په نثر کې یې هم روان لیکل کول. مېرمن حمیدې له وړوکتوب څخه له شعر ویلو سره مینه درلوده. د مېرمن حمیدې اشعار ډېر اسان او خواږه دي. مېرمن حمیده پر ۱۳۳۹ هـ. ش. کال په حق رسېدلې ده.

دلته یې د نثر یوه بېلګه ولولئ:

د یوې پښتنې پېغلې ارمان

پېغله وایي: مورکۍ! زه چې ځان سره فکر وکړم، نو وایم ځار شم د وطن له تورو خاورو او تورو، تورو غرونو، تر هغو سپینو ماڼیو او لوړو، لوړو بنګلو نه چې واک یې د بل وي.

قربان شم د دې پاکې او ازادې هوا نه او سر مې لوګی شه د وطن د آزادۍ په لار کې.

مورې! ها بله ورځ تا راته چې د میوند د شهیدانو نکل کاوه، څومره ارمان مې کړی دی چې کاشکې زه هم هلته وای چې دغو د ازادۍ شهیدانو ته مې په خپل سر د اوبو منګې وړې وای؛ ډوډۍ مې ورسولې وای؛ کارتوس او ټوپک مې وروړې وای او ورسره اوږه په اوږه جنګېدلې وای!"

دا هم د مېرمن حمیدې د شعر نمونه:

زما کم نصیبه

ماویل زړه به مې خالي شي لږ له غمه
دواړه سترګې به مې وچې شي له نمه
د ښادمنو په ټولګي کې به شم یاده
زمانه به راسره ځي په لار سمه
همیشه به مې خندا وي غم به نه وي
نه به ځان سره ژړېږم لکه شمعه
په مراد به مې د زړه هره ارزو وي
بیګانه به یم د دنیا له لویه غمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نـور د صبـر پـه نغمـه بـه زړه لـلـو کـړم
زمـانـې نـه مـې د سـود نـشي څـه تمه
شپـه د هجـر شـوه اوږده د خـدای لپاره
ښکلی مخ دې راښکـاره کـړه صبح دمه
پـه نسیم د اسوېلـو بـه دې راویـښ کړم
ای زمـا پـه خـوب ویـده نـصیبه کمه

۷ – سیده حیات بیگم نسیم

سیده حیات بیگم نسیم د الحاج میا الطاف گل کاکاخېل لور ده، په ۱۹۳۸ م کال کې په چترال کې زېږېدلې ده. دواړو نیکونو یې د خپل وخت د علم او معرفت لوړ مقام درلود. سیدې خپلې دیني زده کړې له خپلې مور او نورې زده کړې له خپل پلار څخه وکړې او د پښتو یوه تکړه شاعره شوه. د سیدې اشعار ډېر پېچلي نه دي. شعر یې خوندور دی.لوړ خیالات، نرم احساسات او باریک تشبیهات په کې لیدل کېږي. د سیدې په اشعارو کې د پند او نصیحت مرغلرې موندل کېږي. هغې د خپلې زمانې ټولې نیمگړتیاوې په خپلو شعرونو کې غبرگې کړې او هڅه یې کړې چې د پښتنو پام خپلو کمزوریو ته واړوي. د وینا ټولگه یې "د نسیم وږمې" تر سرلیک لاندې په ۱۹۸۶ کال کې خپره شوې ده. دا یې هم د کلام نمونه:

گـرځـم زه د یـار پـه نـم تـازه تـازه
لـکـه گـل وي پـه شـبـنـم تـازه تـازه
زخمي زړه مـړاوی وجـود مې شي دلبره
د سـرو شـونـډو پـه ملـهـم تـازه تـازه

* * *

کاش چې زړه مې د آینې غوندې صفا شوای
پس په زړه کې مې یو مینه د الله شوای
زړه مې مـوړ شـوای د دنیا لـه کـاروبـاره
راسـره واړه فـکـرونـه د عقبی شـوای

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متن لنډيز:

پښتنې مېرمنې په فولکلوري ادب کې زياته ونډه لري. د پښتو ادب تر ټولو خوږ او په زړه پورې فولکلور ټپه، لنډۍ، سانده، ستاينه او نور دي چې دا بيا د پښتنو مېرمنو شتمنې ګڼل کېږي. پښتنې مېرمنې زياتره په فی البديهه شاعرۍ کې ډېرې وتلې دي. په هرکور، کلي او کېږدۍ کې يې بېلګې موجودې دي. د ادب په دې پراخه ډګر کې ځينې داسې نومونه شته چې د خپلو وينااوو او ليکنو له مخې تر موږه رارسېدلي دي. د دې پښتنومېرمنو ډېره لږه شمېره تر لاسه شوې او د پښتو ادب په تاريخ کې يې ځلند مقام خپل کړی دی. چې په ياد يې راوروسته نسل وياړي.

پښتنې مېرمنې د خپلو ورونو په څېر د ژوند په هر ډګر کې ډېرې بريالۍ دي. هغوی مخې ته د ژوند پراته ټول کړاوونه په ډېر زغم او تدبير ګالي. خپل اولادونه په ډېره مينه روزي او لويوي. د کور دننه او له کوره بهر کارونه سرته رسوي، د خپل ځان، اولادونو او مېړه لپاره له خوښۍ او خوشحالۍ نه ډک کورنۍ چاپېريال رامنځ ته کوي. لوست کوي او پوهه لاسته راوړي. لوست ورکوي او نور پوهوي. د خپلوناروغو، خويندو او ورونو درملنه کوي. په پوځي او نظامي چارو کې برخه اخلي. سياسي مشرۍ ته ځانونه چمتوکوي او ټولو هغو دندو ته لاس اچوي چې د هغوی ورونه يې سرته رسوي، خو له دې سره سره بيا هم د يو شمېر قومي او قبيلوي او سنتي دودونو په لومو کې ښکېلې دي. په يو شمېر ښارونو او زياترو لېرې پرتو سيمو، کلو او بانډو کې له تبعيض او تعصب سره مخامخ دي. د زړو او نامنلو دودونو ښکار دي. کله کله د ځارويو په څېر چلند ورسره کېږي او پېر او پلور ته وړاندې کېږي. دا ټول هغه څه دي چې روان مهال يې د منلو زغم نه لري. بايد د هغې په وړاندې غبرګون او مقاومت وښودل شي. البته دا غبرګون او مقاومت يوازې د نجونو او مېرمنو مسؤوليت نه دی. نارينه تر ښځو د مخه دنده لري چې لومړی هغوی ته په ټولنه کې د ځان په څېر په حق قايل شي؛ د يو بشري موجود په توګه يې ومني او وروسته په هغو سيمو او ځايونو کې چې ښځې د ناسم دود او دستور ښکار شوې او ښکار کېږي، مرسته وکړي او له دې رنځ او کړاو څخه يې وژغوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ــ لس تنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي او په افغانستان کې دې د ښځو په وړاندې پرتې ستونزې په ګوته کړي. هڅه دې وکړي چې يو د بل خبرې تکرار نه کړي. پاتې زده کوونکي دې هغه وليکي او توحيد دې کړي.

۲ــ زده کوونکي دې په خپل ټولګي کې يوه غونډه تمثيل کړي. پورته موندل شوې ستونزې دې وګوري او د هغې د حل د لارو چارو په اړه دې خبرې وکړي. په پای کې دې خپلې موندنې د يو وړانديز په توګه وليکي او له ځانونو سره دې يادداشت کړي.

۳ــ پنځه تنه زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې په ټولنه کې د ښځو په دريځ او د هغوی په ارزښت خبرې وکړي. نور زده کوونکي دې په خبرو اتروکې برخه واخلي.

٤ــ زده کوونکي دې د پنځو دقيقو لپاره فکر وکړي چې ځوانان او نجونې څنګه د هېواد د راتلونکي لپاره کارکولای شي. وروسته دې څو تنه په خپله خوښه خپلې نظريې د نورو په وړاندې ووايي، خبرې اترې دې پرې وکړي او غوره وړانديزونه دې راټول او وليکي.

۵ــ زده کوونکي دې په پښتو ادبياتو کې د مېرمنو د ونډې او د هغې د ارزښت په اړه خبرې وکړي.

کورنی دنده

په خپل ښار، کلي او چاپېريال کې د ښځواو نجونو په وړاندې د ناروا چلندونو د عملي بېلګو په اړه يو مخ ليکنه وکړئ.

يوازې د ښځو شتون دې ستونزمن ژوند ته قدر او منزلت ورکړی، که نه، نو ژوند به د زغم وړ نه و.

((اناتول فرانس))

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوهان ولفګانګ فون ګویته
(۱۷۴۹ - ۱۸۳۲)

په تېرو ټولګیو کې مو پر پوهانو، ملي مشرانو، لیکوالو او شاعرانو سربېره یو شمېر نړیوالې ادبي خبرې وپېژندلې. دلته د ګویته په نامه یو الماني شاعر درپېژنو. د دې شاعر او د هغه د ویناوو د بېلګو له لارې به لا نور هم د نړیوالو ادبیاتو په اړه معلومات لاس ته راوړئ. یو لویدیځ پوه ویلي دي: "موندل کوم مهم شی نه دی، مهمه داده چې باید هر نوی پیدا شوی شی زموږ په ذهن کې یو څه شی زیات کړي."موږ باید له نوي موندل شوي شي سره اړیکې ټینګې کړو او له دې لارې خپله معنوي پانګه زیاته کړو. د بېلابېلو لیکوالو لیکنې او د هغوی آثار لوستل د لوستونکي موجوده پوهه پراخه او بډایوي.

د نړیوالو لیکوالو او شاعرانو د آثارو لوستل څه ګټه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوهان ولفگانګ فون ګویته "Yohann Wolfgang von Goethe" د جرمني د فرانکفورت په ښار کې په یوې بډایې کورنۍ کې پر ۱۷٤۹ م کال زېږېدلی دی. پلار یې حقوقپوه او مدافع وکیل و؛ مور یې هم د جرمني د سهیل د حقوقپوهانو له کورنۍ څخه وه. ګویته په یو متمدن او با فرهنګه چاپېریال کې لوی شو او تر منظمې ښوونې او روزنې لاندې ونیول شو. په پنځلس کلنۍ کې د حقوقو د زده کړې لپاره د جرمني یو بل ښار، لایپزیک ته لاړ. هلته د زده کړې تر څنګ پر یوې نجلۍ مین شو. له هغې سره د تودې مینې له امله یې په شعر ویلو پیل وکړ. وروسته په ۱۷٦۷ م کال کې د ګویته د شعرونو لومړی دیوان چاپ شو. دا په عشقي او تغزلي شعرونو کې د ګویته لومړنۍ تجربه وه. په لایپزیک کې له درېو کلونو تېرولو وروسته بېرته فرانکفورت ته لاړ. په ۱۷٦۹ کال کې یې د "جرم د شریکانو" په نامه یوه منظومه کمیډي او د "لایپزیک د نغمو دېوان" کتابونه خپاره کړل چې د لایپزیک یادونه یې په کې غبرګه کړې وه. بیا په ۱۷۷۰ م کال کې د حقوقو د زده کړې د دوام لپاره شتراسبورګ ته لاړ. په شتراسبورګ کې ژوند د ګویته په فکر او هنر لویه اغېزه وکړه. هلته یې له یو شمېر شاعرانو او هنرمندانو سره پېژندګلوي پیدا شوه. په دې ځای کې د ده پر ژوند بل اغېز د "فریدریکې بریون" په نامه له یوې نجلۍ سره د هغه آشنا کېدل و. دې آشنایی د ګویته پر ژوند ډېره اغېزه وکړه. د هغې لپاره یې شعرونه وویل چې وروسته یې د "شعر او حقیقت" په نامه یو دېوان کې چاپ کړ. ویل کېږي چې دا شعرونه د جرمني د نوي عصر د ادبیاتو په تاریخ کې لومړني شعرونه بلل کېږي. دا دېوان څلور برخې لري او شخصي ژوند پکې نغښتی دی. په شتراسبورګ کې د ګویته تحصیلات په ۱۷۷۱م. کال کې بشپړ شول او بې له دې چې له فریدریکې سره د وروستي ځل لپاره دیدن وکړي، فرانکفورت ته ستون شو. هلته یې په نوي ژوند لاس پورې کړ. د مدافع وکیل له دندې سر بېره یې ارزښتمن آثار ولیکل چې د ده د لوېي او نبوغ ښکارندوي یې لرله.

ګویته د روسو په څېر له طبیعت سره مینه درلوده. هغه به د الزاس دښتو ته تلو او هلته به یې تر شین آسمان لاندې ډېر وخت تېرولو. له طبیعت سره مینې او عاطفې د ګویته په آثارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې غبرگون وموند. دا غبرگون په ۱۷۷۳م. کال کې څرګند شو. د دې دورې په ننداړو کې د "محمد نغمې" یادولی شو چې له ختیځ څخه د شاعر له پېژندګلوۍ وروسته ولیکل شوې. ګویته د پاک قران له لوستلو وروسته د یوې ننداري د لیکلو په فکر کې شو چې په هغې کې له یوې خوا د حضرت پیغمبر ﷺ د عظمت عناصر او له بلې خوا د هغه تاریخي وضعه او رسالت ځېړي.

ګویته د شعرونو په پورته دیوانونو سربېره د "المان معماري"، "د برلیسینګن خدایان"، "د ځوان ورتر کړاووته"، "پرومیتیوس"، "ایفیژیني"، "تاریویس"، "تورکواتو تاسو" او "اختیاري وصلت" او زیات شمېر نور آثار لیکلي چې ناولونه، ډرامې، د شعر ټولګې او علمي آثار پکې شامل دي.

ګویته په جرمني کې هماغسې درېځ درلود، لکه دانتې چې په ایټالیې او شکسپیر په انګلستان کې درلود. ګویته نژدې ۶۰ کاله پر هرځای خپل سیوری غوړولای و. ډېرو لږو کسانو به د ګویته په څېر د نړۍ په ادبیاتو کې ستر اغېز درلودلای وي. د هغه ارزښت د هغه په نبوغ او د فکر په پراخوالي کې و. ګویته نه یوازې د خپلې زمانې د ادبیاتو او تمدن بشپړ نابغه و، بلکې هغه خپله یو دایرة المعارف و چې د یوې بشپړې دورې تمدن اوفرهنګ پکې پروت و.

د متن لنډیز:

یوهان ولفګانګ فون ګویته په جرمني کې زېږېدلی دی. پلار یې حقوقپوه او مدافع وکیل و. ګویته په یو متمدن او با فرهنګه چاپېریال کې لوی شو او تر منظمې ښوونې او روزنې لاندې ونیول شو. په ینځلس کلنۍ کې یې په شعر ویلو پیل وکړ. په ۱۷۶۷م. کال کې یې د شعرونو لومړی دیوان چاپ شو. په ۱۷۶۹م. کال کې یې د "جرم د شریکانو" په نامه یوه منظومه کمیډي او د "لایپزیګ د نغمو دیوان" کتابونه خپاره کړل. په ۱۷۷۰م. کال کې شتراسبورګ ته لاړ. د دغه ځای ژوند د ګویته په فکر او هنر لویه اغېزه وکړه. هلته یې له یو شمېر شاعرانو او هنرمندانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره پېژندګلوي پیدا شوه. دلته یې د "شعر او حقیقت" په نامه یو دېوان کې چاپ کړ. ویل کېږي چې دا شعرونه د جرمني د نوي عصر د ادبیاتو په تاریخ کې لومړني شعرونه بلل کېږي. دا دیوان خلور برخې لري او شخصي ژوند پکې نغښتی دی. ګویته د روسو په څېر له طبیعت سره مینه درلوده. هغه به د الزاس دښتو ته تلو او هلته به یې تر شین اسمان لاندې ډېر وخت تېرولو. له طبیعت سره مینې او عاطفي د ګویته په اثارو کې غبرګون وموند. دا غبرګون په ۱۷۷۳م. کال کې څرګند شو. د دې دورې په ننداروکې د "محمد نغمې" یادولی شو چې له ختیځ څخه د شاعر له پېژندګلو وروسته ولیکل شوې. ګویته د پاک قران له لوستلو وروسته یوه ننداره ولیکله چې پکې له یوې خوا د حضرت پیغمبرﷺ د عظمت عناصر او له بلې خوا د هغه تاریخي وضعه او رسالت څیرې. ګویته د شعرونو په پورته دیوانونو سربېره د "المان معماري"،" د برلیسینګن خدایان"، "د ځوان ورتر کړاوونه"، "پرومیتیوس"، "ایفیژیني په تاوریس کې"، "تورکواتو تارسو" او "اختیاري وصلت" او شاوخوا ۱٤۳ شمېر کتابونه، شعرونه، ننداري، ناولونه او علمي آثار لیکلي دي. ګویته نژدې ٦۰ کاله د ادب په میدان کې نیلی ځغلولی و.

د ګویته د آثارو د یوې بېلګې په توګه د هغه «د ځوان ولتر کړاوونه» یوه برخه دلته لولو:

د ځوان ورتر کړاوونه

((د ځوان ورتر کړاوونه ــ ۱۷۷٤م)) د ګویته یو رومان دی چې په هغې کې یې د ژوند د خپلو کتنو، پېښو او د هغه وخت د ژوند له حالتونو څخه خبرې اترې کړې دي. ځوان ورتر ژور احساسات او لوړې غوښتنې لري. روح یې د طبیعت او هنر د اغېز د منلو لپاره ښه چمتو دی، خو باطن یې د ژوند له حقیقتونو سره سمون نه لري. په ټولنه کې له خلکو سره په راشه درشه (معاشرت) کې له خنډونو او محدودیتونو سره مخامخ کېږي. په پای کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهیلي او مینه یې ناکامیږي. دا کار هغه ځوروي او په پای کې یې ځان وژني ته هڅوي.

زموږ دا لیکنه د هغه د رومان وروستۍ برخه ده چې د لیکونو څېرونکی یې نقلوي. په دې برخې کې له خپلې معشوقې، ((لوته)) سره د هغه وروستنۍ لیدنه بیان شوې ده. لوته وروسته د البرت په نامه له یو بل شخص سره واده کړی. د ((ورتر)) په نامه د ګویته دې اثر له خپرېدا وروسته ډېر بریالیتوب تر لاسه کړ.

[هغه ورځ چې ورتر دوست ته خپل وروستی لیک ولیکه، یکشنبه وه او عیسوي اختر ته لا څو ورځې پاتې وې. ماښام ورتر د ((لوته)) کور ته لاړ. لوته یې ولیده چې خپلو کوچنیو ورونو او خویندو ته د نوي کال په مناسبت اخیستل شوي سوغاتونه تنظیموي. ورتر د هغه خوشحالۍ په اړه په فکر کې ډوب و چې کوچنیان به یې د دې سوغاتونو په لیدلو تر لاسه کړي. هغه سوچ کاوه، کله چې دروازه بېرته شي او کوچنیان دا سوغاتونه وویني او یا په څراغونو د سینګار شوې ونې ننداره وکړي، له خوشحالۍ نه به ټوپونه ووهي. په داسې حال کې چې لوتې خپله دننۍ اندېښنه په یوې موسکا پټوله، ویې ویل: ((که ته هم ومنې چې ښه واوسې، نو سوغات به تر لاسه کړې. یوه ښکلې ډېوه او ورسره مل نور شیان.))

ورتر په لوړ غږ وویل: ((ښه توب یعنې څه؟ باید څنګه واوسم او څنګه کولای شم واوسم، ګرانې لوتې؟))

لوته وویل: ((د پنجشنبې په ماښام عیسوي اختر (کریسمس) دی. کوچنیان راځي او کېدای شي پلار مې هم راشي. هغوی ټول به سوغاتونه تر لاسه کړي. تاسو هم هغه ورځ راشئ، خو دوخته مه راځئ.))

ورتر ډېره ولګوله او لوتې دوام ورکړ: ((زه له تاڅخه هیله کوم چې یوه پلا به داسې وي. بیا هم له تاسو څخه د کرارۍ هیله کوم. وضع به همداسې پاتې نشي.)) ورتر له هغې څخه سترګې واړولې، په داسې حال کې چې د کوټې له یو سر څخه بل سر ته تله، تر ژبې لاندې غړومبېده او ویل یې: ((وضع به همداسې پاتې نشي.))

کله چې لوتې دا حالت احساس کړ، د ګڼو پوښتنو له لارې یې وغوښتل د هغه فکر بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا ته واړوي، خوګټه يې ونه کړه.

ورتر په لوړ غږ وويل: ((نه، لوتې، بيا به هېڅکله تا ونه ګورم!)) لوتې وويل: ((ولې، ولې؟ بايد ومې ګورې، ته مجبور يې بيا مې هم وګورې! خو د اعتدال له مخې. اوه، ته ولې داسې چال چلن کوې چې له هر شي کړېږې او هغه ځانته د غره په څېر غټوې؟)) لوتې د ورتر لاس په خپل لاس کې ونيو او ويې ويل: ((هيله کوم، ميانه رو واوسې او خپل تعادل وساتې. د خپل ذهن، پوهې، ذکاوت او هغو ټولو شيانو په اړه سوچ وکړه چې تا خوشحالوي. دا غم له ځانه لېرې کړه او يو نارينه واوسه!))

ورتر په داسې حال کې چې خپل غاښونه يې چيچل، لوتې ته خړ، خړ وکتل. لوتې په داسې حال کې چې د ورتر لاس يې په لاس کې ټينګ نيولی، زياته کړه: ((ورتره، مازې يوه شېبه په کراره فکر وکړه. ته نه پوهېږې چې په دې کار ځان له پښو غورځوې او ځان پخپله له خاورو سره خاورې کوې! ولې ما؟ ورتره، څوک چې د بل چا وي؟ ولې؟ ډارېږم، ډارېږم. دا ناشونې هيله چې زه دې د بل چا واوسم او تاسو زما خاوند شئ؟ دا ناشونې ده! کېدای شي تا ته جالبه وي.))

ورتر په داسې حال کې چې هغې ته يې په نهيلۍ خړې خړې کتل، د هغې له لاس څخه يې خپل لاس کش کړ او چيغې يې کړې: ((عاقلانه، ډېره عاقلانه. کېدای شي البرت دا خبرې کړې وي... .))

لوتې ورزياته کړه: ((دا هرڅوک درک کولای شي. ايا په ټوله نړۍ کې به داسې يوه پېغله ونه موندل شي چې خپل د زړه ټولې هيلې يې پوره کړې وي؟ ته د ځان په اړه سوچ وکړه.... زما او ستا ترمنځ د محدوديت د پيدا کېدو له امله له اوږدې مودې راهيسې ډارېدم. د دې کار لامل هم پخپله ته يې. ته يو ځلې ازمېښت وکړه. که چېرته لاړ شې، کېدای شي فکر دې ارام شي، هڅه وکړه، هرو مرو د خپلې ارزښتمنې مينې موضوع موندلای شې. بيا بېرته راشه او پرېږده چې په ګډه له يوې حقيقي دوستۍ څخه په ګډه خوند واخلو!))

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱_ دوه تنه زده کوونکي دې د پورته متن په مرسته د گویته په اړه ټولگیوالو ته معلومات وړاندې کړي.

۲_ یو تن زده کوونکی دې ووایي چې د ختیځ اشنایی پر گویته څه اغېز وکړ او په پایله کې یې څه وشول؟

۳_ د گویته د شعرونو لومړی دېوان چېرته، کله او په څه نامه چاپ شو؟ یو تن زده کوونکی دې نورو ته معلومات ورکړي.

٤_ درې تنه زده کوونکي دې د ټولگي مخې ته راشي او ودې وایي چې پر نړیوالو ادبیاتو پوهېدل موږ ته څه گټه لري؟

۵_ دوه تنه زده کوونکي دې نورو ته ووایي چې کومې نړیوالې ادبي څېرې پېژني. نومونه دې یې ووایي او د یو شمېر آثارو نومونه دې واخلي.

کورنی دنده

د گویته د ژوند، اشعارو او لیکنو په اړه یوه معلوماتي مقاله ولیکئ.

> د بشر بدمرغي په دې کې ده چې د روح او روان پر ځای پر تن او بدن ډېره پاملرنه کېږي.
>
> ((گویته))

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې شعر ولولئ او خوند ترې واخلئ:

د وچکالۍ ګلان

دا سـوی سـتي وطن، پرېږدئ چې لړ وخاندي
دغـه غیرتـي وطن، پرېـږدئ چې لـړ وخاندي
دا د مرګ او وینو سین، دا د زړه چاودون محل
دا زخمي زخمي وطن، پرېږدئ چې لړ وخاندي
مـه وژنئ د شـپو په تېغ، رون د مسـتقبل خراغ
سـترې فریادي وطن، پرېږدئ چې لړ وخاندي
اوښــکې د پېغلوټــو مې، چیغــې د مظلوم یتیم
زوی د مورنــي وطن، پرېــږدئ چې لړ وخاندي
غاړه کې پرته شمله، پرې چې هسکه هسکه شي
دا زموږ ننګي وطــن، پرېږدئ چې لړ وخاندي
دا د وچکالــۍ ګلان، نـور نــو اوبیــدل غواړي
تږی د ســپرلي وطــن پرېږدئ چې لــړ وخاندي
اسحٰق ننګیال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بشري حقونو تاریخچه



بشر یا انسان له خپل موجودیت سره سم یو لړ حقونه لري. البته ځیني دا حقونه د بشر له خلقت راهیسې تل موجود وو او طبیعي حقونه بلل کېږي. خو د ژوند په دوران کې بشر نور حقونه هم تر لاسه کړل. کله که هم په یو ډول نه یو ډول انسان له یو یا زیاتو حقونو څخه بې برخې شي، نو د هغه بشري یا انساني دریځ ته زیان رسیږي. نن سبا ټولې پرمختللې ټولنې او هېوادونه زیار باسي چې انسان خپل حقونه ولري او په هېڅ ډول ورڅخه بې برخې نشي. کېدای شي په ځینو حالتونو، لکه د جګړې یا کورني تاوتریخوالي او یا د یو جرم د سرته رسولو په حالت کې، یو یا له یو څخه زیات حقونه وځنډول شي، خو په هېڅ توګه ترې انسان د تل لپاره نشي بې برخې کېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بشري حقونه يو بنسټ لري او هغه انسانيت دی. له دې امله په ټوله نړۍ کې يوشان دي.
د بشري حقونواوسنی اصطلاح او مفهوم د لويديځي نړۍ زيږنده او نسبتا اوږده سياسي او تاريخي مخينه لري.

د بشري حقونو زړی او هسته د اسلام د سپيڅلي دين له راتگ سره سم وکړل شوه. هغه انساني حقونه چې په اسلام کې بشر ته ورکړل شوي، په بل کوم سازمان او ټولنه کې ځای نه لري. په دې توگه اسلام د بشري حقونو تر ټولو لومړنی سرچينه ده.

بشري حقونه په اوسني مفهوم په اووه لسمې ميلادي پيړۍ کې د اروپا د سياسي نظرياتو بهير ته لاره وکړه. په دې لړ کې لومړنی موجود سند د جان لاک "د حکومت کولو دويم تړون" نومی اثر دی چې په ۱۶۸۸م. کال کې د برتانيې د لوی انقلاب په پيل کې چاپ شو.

د جان لاک په نظر حکومت د حاکمانو او رعيت تر منځ د يو ټولنيز تړون پر بنسټ ولاړ دی. رعيت تر هغې د اصولو او قوانينو په منلو مکلف دی چې حکومت د خلکو د بشري حقونو ساتنه کوي. حکومت تر هغه قانوني گڼل کېږي چې په منظمه توگه د خلکو د بشري حقونو ساتنه کوي.

په نړيوال ډگر کې د بشري حقونو د تثبيت او ساتنې په اړوند له جان لاک وروسته موجود مهم سند په اتلسمې پېړۍ کې د فرانسې د انقلاب د بشري حقونو اعلاميه ده. دا اعلاميه د ۱۷۹۸م. کال د آگست په ۲۶ نېټه تصويب شوه. دا اعلاميه هغه مهال تصويب شوه چې د فرانسې د ملت استازي په يوې لويې ملي جرگې يا غونډه کې سره راټول شول. په غونډه کې هغوی د دې اړتيا احساس کړه چې د بشر طبيعي اوټولنيزوحقونو ته نه پاملرنه يا هغوی ته په درنه سترگه نه کتل د ولس ژوند په ناوړه توگه اغېزمن او حکومتونه فاسدوي. د غونډې برخه والو وپتيله چې د يوې رسمي اعلاميې په ترڅ کې د بشر سپيڅلي او تلپاتې حقونه وړاندې او د ټولنيز ژوند بنسټ وگرځوي. دې لومړنی اعلاميې اووه لس مادې درلودې. په لومړۍ مادې کې د انسان د ازادۍ او برابرۍ مسئله، په دويمې کې د سياسي ټولنې موخه او د بشري تلپاتې حقونو ساتنه وه. په دريمې مادې کې د حاکميت مسئله وه چې په هر ملت کې شته او ملت د خپل سياسي او ټولنيز حاکميت تمثيل کوي. همدا راز دا موضوعگانې پکې شاملې وې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنې ته د زيانمن عمل مخنيوی، د قانون پېژندنه، بند او حبس، د جزا ټاکل او پلي کول، د فرد اصلي حالت، د سياسي عقېدې د ازادۍ تضمين، د بشري حقونو تضمين، د مالياتو ورکړه، د حساب اخيستل، د بشري ملکيت حق.

د نومورې اعلامیې په متن کې وخت په وخت تعديل راغلی او مواد او احکام يې د بشر په ګټه زيات توضيح او څرګند شوي دي.

د فرانسې له انقلاب څخه وروسته پوهانو د بشري حقونو د رښتينې کېدو هڅه کوله او د هغو د سرته رسولو لپاره يې ځانګړې موسسې او ټولنې جوړې کړې. د فرانسې بشرپالو د بشري حقونو د پلويانو يوه ډله جوړه کړه. دوی په دې خبره سلا شول چې په خپله ډله کې يوازې هغه اشخاص ومني چې د فکر سطحه يې لوړه او د نظر افق يې پراخه وي. د ۱۸۹٤م. کال د جون په څلورمه يې د موسسانو يو پلاوی جوړ کړ او هغوی بيا د ټولنې د کړنلارې اساسنامه تصويب کړه.

د بشري حقونو دې ډلې د ټولنې په سياسي ژوند کې خپل نقش او اغېز لاپسې زور کړ. په ۱۹۱۹م. کال کې د موسسانو ټولنې پراختيا وموندله او په ۱۹۳۳م. کال کې يې په ملي او نړيواله کچه زيات پلويان پيدا کړل. که کوم سياسي ناتار به د بشر آزادي او حقونه له خطر سره مخامخ کړل، دې ټولنې به سر راپورته او پر سرغړوونکي به يې د پړې او ملامتی غږ وکړ.

د بشر حقونو د تثبيت او تضمين لپاره د نړيوالو هلو ځلو زرين پړاو د دويمې نړيوالې جګړې له پای ته رسيدو وروسته پيل کېږي. د ملګرو ملتونو تر جوړېدا وروسته د بشري حقونو په ډګر کې د کاري پياوړتيا لپاره په ۱۹٤٦م. کال د بشر د حقونو کميسيون رامنځ ته شو. کميسيون دې ته وګومارل شو، د بشري حقونو يو داسې فهرست چمتو او جوړ کړي چې د نړۍ د ټولو هېوادونو لپاره د منلو وړ وي. دې کميسيون په پيل کې ٤۳ تنه غړي درلودل، خو په ۱۹۹٤ م کال کې يې د غړو شمېر ٥۳ تنو ته ورسېد.

په ۱۹٤۸م. کال کې د بشري حقونو يو فهرست د يوې اعلاميې په بڼه جوړ او د همدغه کال د دسمبر په لسمه نېټه د بشري حقونو د نړيوالې اعلاميې په نامه تصويب شو. دا اعلاميه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دېرش مادې لري چې د بشري حقونو بېلا بېل اړخونه پکې په ژوره توګه نغښتي او غبرګ شوي دي. په ۱۹۵۰م. کال کې د ملګرو ملتونو عمومي غونډې (اسامبلې) پرېکړه وکړه، د دسمبر لسمه نېټه چې د بشري حقونو د تصويب ورځ ده، د بشر د حقونو د نړيوالې ورځې په نامه ونومول شي او په ملي او نړيواله کچه ولمانځل شي. له هغې راوروسته هرکال دا ورځ د غونډو او کنفرانسونو په جوړولو په ملي او نړيواله کچه لمانځل کېږي.

د ۱۹۵۹م. کال د نومبر په شلمه د ماشوم د حقونو نړيواله اعلاميه تصويب شوه. دا اعلاميه په نهو اصلونو کې د ماشوم په حقونو پورې اړوند مسايل تشخيص او تضمينوي.

په ۱۹٦٥م. کال د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې له خوا د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو نړيوال تړون تصويب شو. دا تړون په درېو برخو او ۲۵ مادو کې د هر ډول تبعيض او توپير د له منځه وړلو تضمينونه اوسپارښتنې لري.

د ۱۹٦٦م. کال د دسمبر په ۱٦ نېټه د سياسي او مدني حقونو نړيوال تړون تصويب شو. دا تړون شپږ برخې لري چې په ۵۳ مادو کې د نړۍ په هېوادونو کې د افرادو په سياسي او مدني حقونو پورې اړوند مسايل، ژمنې او تضمينونه رانغاړي او د يو نړيوال تړون په توګه يې وړاندې کوي.

د ۱۹٦۷م. کال د نومبر په اوومه نېټه د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو اعلاميه تصويب شوه.

د ۱۹٦۸م. کال د اپريل له ۲۲ څخه د مې تر ۱۳ نېټې پورې په تهران کې د بشر د حقونو د اعلامېې له تصويب څخه وروسته په تېرو شلو کلونو کې د بشري حقونو په ډګر کې د ترسره شوو پرمختګونو د ارزولو او څېړنې په منظور غونډې وشوې او په ۱۹ مادو کې يو پرېکړه ليک تصويب شو چې د بشري حقونو په ډګر کې د تر لاسه شوو برياليتوبونو او د هغوی د ملي او نړيوالو تضمينونو په اړه يې ژمنې او سپارښتنې درلودې.

په ۱۹۷۹م. کال کې د ملګرو ملتونو عمومي غونډې د ښځو کنوانسيون تصويب کړ. د ښځو په وړاندې د تبعيض د له منځه وړلو اعلاميه يې په دېرشو مادو کې تصويب کړه. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹۹٤م. کال د نړۍ ۱۲۵ هېوادونو د ښځو کنوانسیون تصویب کړ چې افغانستان هم په دې ډله کې شامل دی.

د ۱۹۹۰م. کال د آګست په اوومه (د ۱۳٦۹ هـ. ش کال د زمري ۱۵) نېټه په قاهره کې د اسلامي کنفرانس سازمان د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په غونډه کې د بشر د حقونو اسلامي اعلامیه تصویب او اعلان شوه. په دې اعلامیه کې په ۲۵ مادو کې د اسلام د سپېڅلي دین له مخې د بشري حقونو په اړوند مسایل ښودل شوي او وړاندې شوي دي.

د متن لنډیز:

د بشري حقونو د تشخیص او تامین په اړه د نړیوالو هلو ځلو لړۍ ډېره خوره او اوږده ده. دا بهیر په ډېره چټکۍ پرمخ روان دی، د سیاسي او ټولنیزو مسایلو په سر کې ځای لري او زیات پام ورته کېږي. بشري حقونه د تل لپاره خوندي دي او هېڅکله یو انسان ترې نه بې برخې کېږي. کېدای شي یو شمېر یې د یو مهال لپاره وځنډول شي، لکه د جګړو، اړودوړ او کورني اخ و ډب پر مهال. د بشري حقونو بنسټ انسانیت دی او هر چېرته چې انسان دی، یو شان حقونه لري. اسلام لومړنی دین دی چې بشري حقونه یې تضمین کړي دي. وروسته بیا په لوېدیځې نړۍ کې د بشري حقونو اصطلاح وزیږېده. مخینه یې نسبتا اوږده ده. بشري حقونو په اوسني مفهوم په اووه لسمې میلادي پېړۍ کې د اروپا د سیاسي نظریاتو بهیر ته لاره وکړه. تر هغې راوروسته په یو شمېر غونډو کې یو لړ پرېکړې وشوې، بشري حقونه یې تنظیم او د هغې درناوی او حمایت یې د هر چا، په تېره د دولتونو دنده، وګڼله. د یو لړ سیاستوالو په اند حکومت د حاکمانو او رعیت تر منځ د یو ټولنیز تړون پر بنسټ ولاړ دی. رعیت تر هغې د اصولو او قوانینو په منلو مکلف دي چې حکومت د خلکو د بشري حقونو ساتنه کوي. حکومت تر هغه قانوني ګڼل کېږي چې په منظمه توګه د خلکو د بشري حقونو ساتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

۱ـ څو تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او نورو ته دې ووايي چې د هغوی په اند بشري حقونه څه شی دي. اسلام بشري حقونو ته په کومه سترګه کتلي؟

۲ـ د ټولګي زده کوونکي دې پر دريو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې په ترتيب د بشري حقونو، د ښځو د حقونو او ماشومانو د حقونو په اړه خپل معلومات وليکي او په پای کې دې يې نورو ته ووايي.

۳ـ بشري حقونو څه ډول پراختيا موندلې ده او تر اوسه يې کوم پړاوونه وهلي دي؟ څلور تنه زده کوونکي دې د متن پر بنسټ خپل معلومات نورو ته وړاندې کړي.

٤ـ زده کوونکي دې فکر وکړي چې کوم بشري حقونه په يوټاکلي حالت کې ځنډيږي. دوه تنه دې د نورو په وړاندې پرېې رڼا واچوي. ټول زده کوونکي کولای شي په خپل واربه دې اړه خپل نظر وړاندې کړي.

٥ـ په خپل هېواد کې بشري حقونو ته په کومه سترګه ګورئ؟ هغه څنګه ارزوئ؟ آيا په دې هکله په خپل هېواد کې کومو حدودو ته ځای ورکوئ؟ پنځه تنه زده کوونکي دې په دې اړه خبرې وکړي.

٦ـ زده کوونکي دې څو اصطلاح ګانې پيدا او له ترکيبونو سره دې يې پرتله کړي.

کورنی دنده

د بشري حقونو د اړتيا ا و ارزښت په اړه يوه مقاله وليکئ.

خومره چې هڅول اغيزمن واقع کيږي، تنبيه هغومره نه کيږي.

(آګا تاکريستي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبي معاصر نثر

نظم او نثر دواړه د مفکورو او مفاهیمو د لېږدولو وسیلې دي. نثر د نظم په پرتله ډېر کارول کېږي. لامل یې دادی چې نثر اسان دی، هر لیکونکی یې لیکلای شي او هر ډول موضوع پکې بیانولای شي.

نظم بیا د نثر په مقابل کې ستونزمن دی، ځکه وزن او قافیه پکې اړینه ده. نثر د معنا، لفظ او مهال له مخې ډېر ډولونه لري چې یو یې ادبي معاصر نثر دی. په دې لوست کې یې تاسې ته در پېژنو:

ـ که ورځنۍ خبرې په لیکنۍ بڼه وي، په څه نامه یادیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نثر عربي کلمه ده، د شیندلو او پاشلو معنا لري. په اصطلاحي معنا سره نثر هغه کلام دی چې وزن او قافیه و نه لري. ادب خیړونکي د ادبیاتو د اوسني تعبیر له مخې د یوې ژبې ټول لیکلي (تحریري) او نالیکلي (شفاهي) منظوم او منثور اثار چې هنري ارزښت ولري، ادبیات ګڼي.
دغه ادبي هنري اثر باید په داسې ژبه بیان شوی وي چې هم د ټولنیز ژوند هینداره وي او هم په لوستونکي او اوریدونکي کې یو عاطفي احساس پیدا کړي. په هنري او ادبي لیکنو کې د لیکوال ذوق، احساس او تمایلات د واقعیت او مطلب د افادې لپاره بنسټیز حیثیت لري.
لیکوال هغه څه چې لیدلي، اوریدلي، احساس کړي او یا یې په ذهن او خیال کې تېریږي، بیانوي، خو د تحقیقي او علمي لیکنو په څېر دلیل راوړلو ته هېڅ اړتیا نه لري. هنریت یا هنري ارزښت هغه ځانګړنه ده چې ادبي او غیر ادبي لیکنې سره بېلوي. په ادبي لیکنو کې د لیکوال په استعداد او فني مهارت پورې اړه لري چې انساني رواني حالات، د خلکو هیلې او غوښتنې، جذبات او احساسات او عواطف په الفاظو کې ښکاره انځور او راونغاړي؛ مقابل لوري (لوستونکي یا اوریدونکي) ته یې ولیږدوي او د هغه په عواطفو کې خوځښت راولي.
پښتو ژبه ډېر هنري ادبي اثار لري چې بېلګې یې په نا لیکلي او لیکلي ډول په نظم او نثر کې موجودې دي. په منثورو کې له مسجع نثر نه نیولې د نن ورځې تر روانو، ساده او د هنر او ښکلا په ګاڼه سمبال نثرونه هم شامل دي.
پښتو ادبي نثر له (۱۹۵۰) عیسوي کال نه وروسته وده او پراختیا موندلې ده. ادبي ټوټه، لنډه کیسه، ناول، داستان، رومان، ډرامه، طنز د نننې ادبي او هنري نثر بېلګې دي چې په لاندې ډول یې در پیژنو:

۱ـ ادبي ټوټه

د هنري ادبیاتو یو ځانګړی ډول دی چې د شکل په لحاظ له لنډو کیسو څخه وړه وي او مضمون په لحاظ هر ډول مطالب پکې راتلای شي.
په ادبي ټوټه کې شاعرانه تخیل کم وي، واقعي پیښې پکې څېړل کېږي او لوبغاړي یې هم واقعي خلک وي.
د معاصر هنري نثر دغه ډول، ځینو ادبپوهانو د (منثور شعر) په نوم هم یاد کړی دی.
ځکه اصلاً نثر دی، خو شعري کیفیت لري. د یو حقیقت او واقعیت په اړه په حکایوي بڼه په زړه پورې تشریح او توضیح کوي. دا توضیح او تشریح په داسې رنګینو الفاظو کې نغښتې وي چې په بشري احساس او عواطفو ژور اغېز کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ادبي ټوټې غوره بېلګې د پښتو ژبې د معاصر لیکوال او نثر لیکونکي ګل پاچا الفت په غوره نثرونو کې موندلای شو. لکه: دوه جنازې، دوه دهقانان او نور.

۲ـ لنډه کیسه

په لویدیځ ادب کې (Short Story) بلل کېږي. لنډه کیسه د نثري کیسو یو ډول دی، لنډه او له داسې عناصرو څخه جوړه وي چې یو له بله سره تړلي او یو د بل تر اغېز لاندې وي.

موضوع د خپلو حدودو په چوکاټ کې رانغاړي، بې ضرورته خبرې پکې ځای نه لري، د تاثر او اغېز یووالی پکې یوازینی شرط دی. بېلګه یې د امین افغانپور ((موسکا)) ده.

۳ـ ناول

ناول (Novel) د لاتیني ژبې کلمه ده. لغوي معنا یې نوی، تازه او عجیبه څېز دی.

په ادبي اصطلاح کې هغې ادبي نثري کیسې یا داستان ته وایي چې له لنډې کیسې څخه لوی او له رومان څخه لنډوي. په لیکني چوکات کې یې طرح، اصلي او فرعي کرکټرونه، مکالمې او د کیسې پیل، منځ او پای لري.

له لنډې کیسې سره یې توپیر په دې کې دی چې هم پکې پېښې په تفصیل سره بیانېږي او هم یې کرکټرونه زیات وي. د پښتو ناول بېلګه د برهان الدین کشکي ((پټه مینه)) ده.

٤ـ رومان

رومان فرانسوي کلمه ده، په ځینو فرهنګونو کې یې معنا خیالي داستانونه او په ځینو کې د مینې او محبت کیسې راغلي دي.

په ادبي اصطلاح کې هغې کیسې ته ویل کېږي چې له ناول څخه اوږده وي.

د ژوند ډېرې او بېلا بېلې خواوې پکې منعکس شوې وي او د بېلابېلو پېښو انځور په ادبي قالب کې ځایوي.

د جوړښت په لحاظ له ناول سره دومره توپیر نه لري، یوازې د موضوع په انتخاب او د واقعیتونو په څېړلو کې توپیر لري. هغه دا چې په ناول کې همیشه واقعیتونه د علمي اصولو له مخې څېړل کېږي، خو په رومان کې په خیالي ډول. یعنې کوښښ کېږي چې خیالي واقعات لوستونکي ته په ریښتیني بڼه وړاندې کړي.

۵ـ داستان

داستان د حماسي ادب یو ځانته فورم دی. د جوړښت په لحاظ تر ورې کیسې لوی او له ناول څخه وړوکی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه چې داستان حکايتي بڼه لري، نو د ناول په تناسب يې تخيلي جنبه زياته وي.
په داستان کې د هنري قهرمان پر ژوند پوره رڼا اچول کېږي او د ګډون کوونکو شمېر يې هم دوړې کيسې د ګډون کوونکو په پرتله زيات وي.

٦_ ډرامه

له يوناني کلمې (ډراو) نه مشتق شوې چې د عمل او کړنو معنا لري. (تفصيل ته يې اړتيا نشته، د مخه لوستل شوې ده.)

٧_ طنز

طنز عربي کلمه ده. فرهنګونو د طنز لغوي معنا ناز او کرشمه، پېغور او مسخره کول راوړي.
په ادبي اصطلاح کې د هنري ادبياتو يو ډول دی چې په ليکنه کې يې د ليکوال اصلي مقصد نيوکه (انتقاد) وي، خو انتقاد يې د شوخی په بڼه او يا په بله وينا د تمسخر په جامه کې نغښتی وي.
د وينا لمن او اندازه يې په زړه پورې او د ټوکو ټکالو په شکل وي. زياتره وخت پکې مسايل سرچپه (معکوس) مطرح کېږي.
طنز په واقعيت کې هغه ترخه خندا ده چې د ټولنې د خلکو پر ناوړه اعمالو، عاداتو، اخلاقو او افکارو باندې کېږي. بېلګه يې د عبدالمنان ملګري ((شريک بالاپوش)) ده.

٨_ ادبي راپورتاژ

د هنري ادبياتو يو ځانګړی ژانر دی. له عادي راپورتاژ سره يې اصلي توپير دادی چې په ادبي راپورتاژ کې د پېښې تعبير، تفسير او تحليل په ادبي او هنري ژبه شوي وي. د دې ډول راپورتاژ ليکونکی پېښو ته په دقيق نظر ګوري او له هغو څخه خپل برداشت د تخيل په ملتيا په خوږه هنري ژبه وړاندې کوي. بېلګه يې د محمد نواز طائر ((ناليدلی سوات)) ده.

٩_ سفرنامه

په سفرنامه کې سفر کوونکی خپلې خاطرې د قلم په ژبه او د ادب په ادا خوندي کوي او راتلونکو نسلونو ته يې د يادګار په شکل پرېږدي.
په نړيوال ادب کې سفرنامې اوږده مخينه لري. په سفرنامه کې د علمي تحقيقاتو لپاره په زړه پورې مواد پيدا کېږي. د پوهاند رښتين ((د هند سفر)) بېلګه ده.

١٠_ ادبي ليکونه

دا هغه ليکونه دي چې په ځانګړې ادبي او هنري بڼه ليکل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ادبي ليکونو کې يو لړ مهم انتقادي، سياسي، فلسفي او ادبي مسايل ليکل او د اديبانو تر منځ تبادله کېږي. د ليکنې ژبه يې هنري او د تخيل رنګ پرې غالب وي. له استعارو، کنايو، تشبيهاتو او نورو ادبي صنعتونو څخه پکې کار اخيستل شوی وي.

ژبه يې خوږه او د ليکنې طرز يې دومره په زړه پورې وي چې لوستونکي يې په لوستنه نه مړېږي. بېلګه يې د بېنوا ((د زړه خواله)) ده.

د متن لنډيز:

د اوسني تعبير په اساس د يوې ژبې ټولې ليکنې او ګړنې، منظوم او منثور آثار چې هنري ارزښت ولري، ادبيات ګڼل کېږي.

په هنري نثر کې ليکوال ټول مفاهيم د الفاظو په قالب کې په تخيلي ځواک سره ځايوي.

دغه تخيلي ځواک په بشري احساس او عواطفو ژور اغېز کوي او را پاروي يې.

هنريت يا هنري ارزښت هغه بنسټيزه ځانګړنه ده چې ادبي ليکنې له نورو غير ادبي ليکنو څخه بېلوي.

معاصرې ادبي هنري ليکنې د بڼې له مخې لاندې ډولونه لري:

ادبي ټوټه، لنډه کيسه، ناول، رومان، ډرامه، طنز، ادبي ليکونه، ادبي راپورتاژ ... .

فعاليتونه

۱ــ زده کوونکي دې متن په پټه خوله ولولي او مفهوم ته دې ځير شي.

۲ــ درې تنه زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، د متن اصلي مفهوم دې ووايي.

۳ــ څلورتنه زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي او د ادبي معاصر نثر په اړه دې يوه يوه دقيقه خبرې وکړي.

٤ــ د زده کوونکو د شمېر په پام کې نيولو سره دې ټولګی په دوو ډلو ووېشل شي. يوه ډله دې په خپل وار سره د حرکتونو له لارې تراژيدي او دويمه ډله دې يوه کميډي ننداره تمثيل کړي.

۵ــ زده کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د خپل شعر په اړوند يو راپور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترتیب کړي. د ډلې استازی دې د خپلې ډلې په استازیتوب د خپلې ډلې ترتیب شوی راپورتاژ نورو ته ووایي.

٦ـ زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایي:

- ادبي هنري نثر له نورو نثري لیکنو سره څه توپیر لري؟
- یوه لنډه کیسه له کومو توکو څخه جوړه وي؟
- د ناول او لنډې کیسې توپیر په څه کې دی؟
- ادبي راپورتاژ او ژورنالیستکي راپورتاژ څه توپیر لري؟
- طنز له ډرامې سره څه توپیر لري؟
- څو ډوله ډرامې پیژنئ؟
- ډرامه خپل پیغام څنګه لیدونکو ته وړاندې کوي؟

٧ـ دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې د هر ادبي هنري نثر په اړه په لنډیز درې درې دقیقې خبرې وکړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې د پښتو نثر د ودې په اړه یو مطلب ولیکي چې تر لس کرښو کم نه وي او د بلې ورځې د پښتو مضمون په ساعت کې دې ووایي.

د پښتو معاصر نثر لاندې بېلګه ولولئ او خوند ترې واخلئ.

شعر او ادب

"شعر او ادب" د استاد ګل پاچا الفت د غوره نثرونو یوه بېلګه ده. ګل پاچا الفت د پښتو ادبیاتو یوه وتلې څېره ده. نومورې ډېر خوندور شعرونه او نثرونه لیکلي دي. د هغه په هر شعر او نثري ټوټو کې ټولنیزې ناخوالې په ډېر سم او ښه شان انځور شوې. د وخت د ټولنې پر اوږو یې له سپرو کسانو څخه شکایتونه کړي دي. الفت د خپلو شعرونو او نثرونو له لارې ټولنې ته لارښوونې کړې او د ژوند د اصلي تګلارې په لور یې روان کړي دي.

دلته د هغه د نثري ځواک د لا روښانتیا په موخه مو دا لاندې بېلګه د هغه له غوره نثرونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټاکلې ده. هیله ده چې تنده به مو پرې ماته شي. باید یادونه وکړو دغه نثر سره له دې چې د شعر په اړه تحلیلي رنګ هم لري، خو ادبي رنګ یې د هغه د خواږه نثر ډېره ښه څرګندونه کولای شي.

"د انسان په وجود کې دوه شیان ډېر عزیز معلومېږي چې یوه ته زړه او بل ته دماغ وایي.
له دماغ نه علم او فلسفه پیدا شوه، له زړه نه شعر او ادب.
اروپایان زړه د عواطفو او نفسي احوالو ځای ګڼي، مسلمانان د ایمان او عقیدې ځای ته زړه وایي.
صبر، رحم، کرم، شجاعت د زړه کار دی. عشق او مینه په زړه کې وي. شعر له زړه نه الهام اخلي او له زړه سره کار لري. داروین وایي: (هغه لوی کمال چې د تحول او تکامل په لاره کې یوازې د انسان په برخه رسېدلی او نور ژوي ترېنه محروم دي، د انسان قلبي عواطف دي چې په رحم، مروت، کرم، شجاعت نوعه پرستۍ ترېنه تعبیر کېږي. که انسان غواړي چې له حیوانیت نه لرې وي باید دغه عواطف ښه وروزي).
د عواطفو روزل د شعر کار دی او شعر ته د عواطفو او احساساتو د ظهور او تجلیاتو کوه طور ویلی شو. څنګه چې د لمر وړانګې او پلوشې لومړی ځل د لوړو غرو په څوکو پرېوزي او وروستی وداع هم د غرو له څوکو سره کوي، دغسې د عواطفو او احساساتو پرتو هم د شاعر پر زړه له نورو نه زیات لوېږي او ځینې زړونه، لکه: د غرو سمڅې او غارونه دغه رڼا یا بیخي نهویني یا یې ډېره لږه ویني، همدغه عواطف او احساسات چې د شاعر له زړه نه الفاظو ته رانقل شي، شعر ترې جوړ شي او په زړونو اثر کوي.
هو! د شعر موضوع ښکلي خیالات، عالي احساسات، د زړه تاثرات، د غم او خوشحالۍ خوبونه، د روحي او جسمي ښکلا اغېزې او عشق و محبت دی. که دغه شیان په یوه ښکلي تعبیر او ښو الفاظو کې بیان شي چې د فصاحت او بلاغت مراعات پکې په ښه شان شوي وي، شعر ترېنه جوړ شي او ډېر ښه شعر هماغه دی چې په دغه معیار برابر وي.
څومره چې د یوه شاعر فکر او خیال آزاد وي او د محدودیت له قیودو راوتلی وي، هغومره یې شعر لوړ او عالي وي. که یو شاعر د نورو په شان هر چاته او هر شي ته سر ټیټوي او په فکر کې یې د بغاوت جذبه نه وي موجوده، له هغه نه د ښه شعر هیله نه شي کېدی. شاعر باید د فکري انقلاب علمبردار او بت شکن وي. شاعر ته نه ښایي چې د زاړه منطق درس د عقل له زاړه بوډا نه واخلي او په زړه لاره په زاړه فکر پسې لاړ شي. د شاعر خیال باید ډېر لوړ پرواز وکړي او له ډېر هسک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځایه دغه جهان ته وګوري. د شاعر نظر باید نورو غونډې نه وي او هر څه په بل شان وویني، د شعر او ادب ژوند د فکر په ابتکار کې دی او تقلید یا ابتذال د شاعر مرګ دی. د شعر او ادب دنیا په دلداری او دلبری ولاړه ده. شاعر باید په هر څه او په هر وخت کې زړه ته رجوع وکړي او ډېر حساس زړه ولري. هغه چې په زړونو کې هیجان، تاثر او حساسیت نه شي پیدا کولی او زړونه نه خوځوي، شاعر ورته نه شو ویلی.

که دا خبره رښتیا وي چې انسان په هر وخت او په هر حال کې د زړه په خوښې پسې روان دی او زړه په دماغ باندې حکومت لري؛ یعنې د عقل ادراک د قلبي تمایلاتو له تاثیر لاندې وي، نو ویلی شو چې د یوه ملت عقلي او ذهني سیر او حرکت هم د شعر او ادب تابع وي او شاعران په نفسیاتو او روحیاتو کې بدلون او تحول راوستلی شي. همدغه شعر دی چې په زړونو کې زلزلې او توپانونه پیدا کوي او کله پکې داسې صبر او سکون ږدي چې غرونه یې ثبات او استقامت ته حیران وي. که دا رښتیا وي چې د چرګانو په نارو ویده خلک له خوبه پاځېږي، نو دا باید ومنو چې د شاعرانو په نغمو د یوه ملت مړه احساسات او جذبات راویښېږي او په دې اسرافیلي شپېلۍ کې بل راز تاثیرات موجود دي.

کوم فیلسوف چې هر څه بدګڼي او زنده ګي توره په نظر ورغلې ده، هغه هم شعر ته ښه ګوري او شعر د انسان لپاره یوه ښه پناګاه بولي.

شوپنهاور وایي: ټولې بدبختۍ د انسان له نفس څخه نشات کوي او له ژوند سره ډېر مصیبتونه او غمونه ملګري دي. که څوک یوه داسې چاره لټوي چې له بدبختیو نه لرې غونډې په امن کې شي، باید په صنعت او هنر کې مستغرق شي او د ښکلا په مظاهرو کې ځان ورک کړي. په دغه حال کې سړی په ظاهره له خلکو سره وي، مګر په معنا کې یوازې وي او دنیا ورته لکه یو سراب معلومېږي چې د ده لمنه نه شي لمدولی. په همدغسې بېخودۍ کې انسان د دنیا له شر او شوره اسوده کېږي او د بې نیازۍ مقام ته نږدې کېږي چې غیر له حقایقو بل شي ته متوجه نه وي، دغه صنعت او هنر چې د شوپنهاور په نظر کې د ښکلا مظهر دی او دی ورته ښه پناګاه وایي، شعر دی.

که چېرې په دغه غم لړلي جهان کې د سعادت او نیکبختۍ پلوشو کله کوم کور رڼا کړی وي، هغه به د شعر کور (بیت) وي. د شاعر خیالي دنیا تر ډېره حده له غمونو او مصیبتونو نه پټه ده او هلته داسې بې درد سره بېخودي شته چې له سړي نه هر څه هېروي. تاسې شعر و ادب ته په عادي او معمولي نظر مه ګورئ، د شعر تومنه او قدسیت په نظر کې ونیسئ.

هغه څه چې په زړونو کې پیدا کېږي او په زړونو اثر کوي، هغه عادي او معمولي څیز نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د غم او خوشحالۍ ترانه د انسان په ژوندانه کې ډېره زياته اغېزه لري او انسان ترېنه هېڅکله نه شي بې نيازه کېدی. د يوه ملت ژبه، کلتور، اخلاق په شعر او ادب ساتل کېږي. د يوه ولس د ذوق او شعور، د فکر او خيال د احساساتو او عواطفو هنداره شعر او ادب دی. هر څومره چې د يوه ملت شعر او ادب عالي وي، هغومره يې اخلاق، نظر او روحيات لوړ وي او له لوړو ملکاتو او انساني فضايلو سره يې ارتباط او تعلق زيات وي.

شعر او ادب د بشر علايق له دين او مذهب سره ټينګوي او په هوښيارۍ کې بينايي او همدردي پيدا کوي. کله چې زړونه کلکېږي يا تورېږي، نو شعر پکې رقت او صفايي پيدا کولای شي. هغه څه چې انسان د ماديت له غلامۍ او بت پرستۍ نه ساتي، شعر دی.

عارفانه ذوق انساني عاطفه، حکيمانه شعور د شعر په نغمو وده کوي او د حسن نظر علايق همدغه شی ساتي. کوم ملت چې شاعر نه لري، زړه نه لري، سترګې نه لري، عواطف نه لري او د ذوق له خونده محروم دي.

شاعران دا کولای شي چې د انسان فرعوني غرور په تواضع بدل کړي او د دوهۍ ملنګ ته د شاه جهان خوی او مړې سترګې ورکړي. غم او سرور د شاعر هديه ده چې له زړونو څخه يې اخلي او زړونو ته يې ورکوي، نو کوم قدر او قيمت چې د انسان په بدن کې زړه لري، په يوه جامعه کې يې شعر او شاعر لري."

د کتاب او تعليمي کال د پای په بهانه يوڅو خبرې

ګرانو زده کوونکو!

تاسو د سږني تعليمي کال د پيل ورځې په ياد کړئ. وګورئ، هغه مهال مو د پوهې کچه څومره وه او اوس څومره ده؟ ستاسو په سلوک او چلن کې څه او څومره بدلون راغلی. آيا نړۍ درته هماغسې ښکاري، لکه د کال په پيل کې چې مو ليده؟ فکر او ذهن مو څومره بدل شوی دی؟ پوهه مو څومره زياته شوې؟ په ليکلو کې مو څومره ورتيا تر لاسه کړې؟ د موضوعګانو د تحليل او ارزونې ځواک مو څومره غښتلی شوی؟

که د دې ټولو په توپير وپوهېدئ، نو څرګنده ده چې زده کړه مو کړې ده او يو څه مو تر لاسه کړي دي. دلته هرڅه، يعني لوستونه، په ناڅاپي او اتفاقي توګه نه دي راغلی او نه دي ليکل شوي. د هر يو لوست د ټاکلو په اړه ډېر سوچ شوی. د هرمتن د ليکلو په اړه ډېر فکر شوی، کوم مطالب

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کومه ژبه له کوم پیغام سره ولیکل شي او تاسو هغه څنګه زده کړئ. د کتاب لیکوالو هڅه کړې، د پښتو ژبې او ادبیاتو په اړه تاسې ته داسې رنګارنګ پوهه اومعلومات چمتو کړي چې ستاسو په فکر، چلند او وړتیا کې د بدلون احساس رامنځ ته شي.

هیله ده دا هرڅه ستاسې پوهه، ستاسو ذهنیت او ستاسو وړتیا او د لید لوری لا پسې پراخه کړي او د خپل مسؤولیت پر درک او پېژندلو، د اسلامي ټولنې د یوه سالم او رغنده غړي په توګه ځان، کورنۍ او هېواد ته د خدمت جوګه شئ. و من الله توفیق

فعالیت

زده کوونکي دې د تعلیمي کال د پای په ورځو کې یوه ورځ د خپل ټولګي دننه یوه منظمه غونډه جوړه کړي. د غونډې جوړښت دې د مخکنیو غونډو په څېر تنظیم کړي. بیا دې هر زده کوونکی د تېر تعلیمي کال په اوږدو کې د خپلې پوهې په اړه مفصلې خبرې وکړي. که نیوکې لري، په ګوته دې یې کړي. که د نیمګړتیاوو په اړه سپارښتنې یا وړاندیزونه لري، له ډاره پرته دې په ښکاره دې ووایي. له ښوونځي، ښوونکي، درسي کتابونو او د دې کتابونو له لیکوالو څخه دې خپلې غوښتنې مطرح کړي. د غونډې مشر دې غونډه رهبري کړي. مرستیال دې مرسته ورسره وکړي. منشي دې د وینا والو نومونه د وار لپاره په لست کې ولیکي. د غونډې ویاند دې له لازمو تبصرو سره یوځای ویناوالو ته نوبت ورکړي. په پای کې دې د غونډې مشر غونډه واروزي او د پای وینا دې واوروي. غونډه دې د یو پرېکړه لیک په خپرولو پای ته ورسوي.

و من الله التوفیق

یو الماني متل دی، وایي:

((که د کار پای ښه و، هرڅه ښه دي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

((الف))

ابتذال: بې ارزښتي، ډېر تکراري

ابهام: پېچلتيا، ناخرګندتيا (بتهٔ ګوته)

اتل: قهرمان

اتلولي: قهرماني

اجل: د ژوند پای، د مرينې مهال، مرګ، د هر شي مهلت او وخت

احاطه: د يو شي شاوخوا، پر يو شي لاسبرى

احسان: نيکي کول، چاته يوشی ښښل، د يو چا د بدی په وړاندې نيکي کول

اخلاص: رښتينولي، د نيت خاصوالی

اخلاق: د ټولو خلکو له خوا د اصولو او ارزښتونو ټولګه (مجموعه) چې د يوې ټولنې د يوه فرد د چلند سموالی يا ناسموالی او ښه والی يا بدوالی ټاکي. چلن، خوی، منل شوي خويونه

ادب: د اخلاقي منل شوو اصولو په چوکاټ کې منل شوی چلند، د ژوند د سمو لارو چارو، دود او فرهنګ پېژندنه

ارادت: له درناوی سره يوځای مينه او علاقه، غوښتنه، قصد

ارزول: ارزيابي کول، تلل

اژدره: اژدها، ښامار

استعاره: د تشبيه له مخې يو مجازي بيان، پته او ناڅرګنده خبره

استمرار: پرله پسې والی

اسرار: پټ شيان

اعتراف: منل، خوله خوځول

اغېز: تاثير

افراط: ډېروالی

افق: د آسمان غاړه، هغه ليکه چې سرې انګيرې آسمان له ځمکې سره لګېدلی دی، ساحه، د ليد ساحه، د ليد افق

الحان: خواږه اوازونه چې انسان يا ځينې الوتونکي او يا موسيقي يې توليدوي

الله اکبر: خدای تر ټولو لوی دی

الهام: هغه فکر چې ناڅاپه په ذهن کې پيدا کېږي، د خدایﷻ له لوري د يو چا په زړه کې د يو امر رامنځ ته کېدل

امت: د يو پيغمبر او يو دين د پيروانو مجموعه

امين: هغه شخص چې امانت نه خيانتوي، د ډاډ وړ، رښتينی

اند: فکر

اندام: غړي

انقلاب: په اقتصادي، سياسي، ټولنيز يا فرهنګي نظام کې شديد او ناڅاپي بدلون، ناکراري، هيجان، اخ و ډب ...

انټرنيټ: نړيوال جال

انځورګري: رسامي، نقاشي

انګيرل: په پام کې نيول

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوج: لوړه پوړۍ
اوره: اوربشت
اوریځیو: وریځې
اوزان: وزنونه: عروضي وزنونه
اوکوب: برم، جلال
اوخار: روښانه، ځرګند
اوډون: اډانه: ترتیب، اوډل
ایاز: خوځنده سړه هوا، نسیم،
ایدیالوژي: ځانګړې لید او پوهه چې انسان یې
د ځان، ټولنیز دریځ، ملي وضعې په نسبت لري
او توجیه کوي یې
ایکولوژي: د ژوند د چاپېریال پېژندنه
اړ: محتاج
اړین: ضروري

((ب))

باتلی: بوتللی، وړی
بامي: د یو ګل نوم دی
بانډه: کلی، ګوښه او یوځای پراته څو کورونه
بخره: برخه
بدیع: نوی، تازه، ښکلی، ادبي پوهه چې په کې
د شعر او نثر د ښکلا په اړه بحث کېږي.
برائت: له جرم، نیمګړتیا، تور او داسې نورو
څخه خلاصوالی، بیزاري، تنفر، ...
برېنډ: لوڅ
برم: دبدبه
برهم: ویجاړ، خراب
بریا: بری، لاسته راوړنه
برید: پوله، سرحد
بریمن: بریالی
بصر: سترګه
بغض: کینه، دښمني
بقا: پایښت
بلاغت: له وینا سره سم د وړ کلمو او جملو
کارونه چې پوهې ته ډېر نژدې وي.
بلوسي: تېری، تجاوز
بلیغ: ویناوال، د ویناکولو وړتیالرونکی
بنا: وداني
بهیر: جریان
بوره: زوی مرې
بوډا: زوړ، سپین ږیری
بیعـت: د یو چا د امر او اطاعت د منلو ژمنه
چې معمولاً په لا س ورکولو سرته رسیږي، د
یو چا مشرتوب او رهبري منل
بډای: شتمن
بډې: رشوت
بڼه: شکل، صورت
بېلګه: مثال، نمونه

((پ))

پالل: روزل
پانګه: سرمایه
پاڼ: د شونډو د سره کولو پاڼه /کنده
پت: ناموس

(c) ketabton.com: The Digital Library

پته: آدرس

پدیده (ښکارنده): یو شی، یو توکی

پرتله: مقایسه

پرتم: دبدبه

پرتمین: شکوهمند

پرته: ببله

پرتو: شعاع، وړانګه

پرښته: ملایکه

پرګنه: ولس، خلك

پلازونه؛ پلاز: پایتخت

پلاوی: هیات

پلور: پلورل، خرخول

پلی: پیاده

پنځېدل: زېږېدل

پوله او برید: حد، اندازه

پوړکی: قشر

پوړی: درجه

پوښاك: جامه، لباس

پیلامه: پیل، لومړی برخه

پړه: ملامتي

پېر: پلا، وار

((ت))

تاړاك: برید

تتبع: څېړنه

تجویز: د یو کار جایز شمېرل

تدبیر: د یوې ستونزې یا یوې مسئلې د هوارۍ لپاره د یوې لارې سنجول، د یوې چارې په اړه فکر کول

ترار: پرېشان

تراژیکه یا تراژیدي: غم او خپګان

تربګني: دښمني

تروړمی: تپه تیاره

تصوف: په مسلمانانو کې د معرفت، خدای پېژندني او روزني لاره چې زیاتره د دنیوي اړیکو له شلولو سره یوځای وي.

تصویب: له یوې طرحې، وړاندیز، قانون، مقررې سره د چارواکو او واکمنانو موافقت

تعامل: یو پر بل اغېز، پېر و پلور

تعجب: په انسان کې د یو غیر منتظره شي له لیدلو، اورېدلو او یا چلند څخه راولاړ شوی حالت

تعدیل: اړول، بدلول

تعمیم: عامول

تفسیر: څرګند بیان

تقلید: پیښي

تقوی: ډار، له ګناه ځان ساتل

تکنالوژي: د صنعت په عملي کارونو کې له علم او پوهنې څخه ګټه اخیستنه؛ د ټول لارو چارو او فنونو مجموعه چې د دې کاروني لپاره پکاریږي.

توجیه: د یو کار یا یوې خبرې د سموالي لامل بیانول

توحید: یووالی، وحدانیت

تور نمری: تور + نمري، توري جامې، د غم

(c) ketabton.com: The Digital Library

جامي
توکي: ماده، عنصر
تـولا: تکل کول
تون: ځای
تونه: تويوي، تويول
تيره غونی: تياره، لړه تياره
تيری: تجاوز
تړاو: رابطه
تړون: موافقتنامه، قرارداد

((ټ))

ټبار: ټبر، قوم
ټکه: تندر
ټوکېدل: زرغونېدل
ټيکنه: عدالت

((ث))

ثنا: د خدای (ج) ستاينه
ثواب: د نېک عمل په وړاندې ورکړه او پاداش چې په اخرت کې ورکول کېږي، احسان، نېکي

((ج))

جاندم: دوزخ
جوپه: کاروان
جوت: څرګند
جوخت: پيوسته، نښتی
جونګی: د اوښې بچی
جوهر: د يو چا او يا يو شي ذاتي خصوصيت او ځانګړتيا چې هغه تر نورو بېلوي. حقيقت، د شي اصلي ماده او عنصر
جيفه: د غوښې ټوټه (باسي)
جېل: زندان

((چ))

چاپېريال: محيط
چار: کار
چم ګاونډ: ګاونډی، همسايه
چوپړ: خدمت
چيک: له بانک څخه د پيسو د اخيستلو چاپي پاڼه

((ښ))

ښاروان: د قافلې ښارونکی
ښرک: راښکاره کېدنه (لکه د لمر سترګه)، لاربښوونکی، نښه، درک، لټه، پته
ښرنګوالي: کيفيت
ښوار: دا کلمه اوس دود نه ده، کېدای شي د صبر او استقامت معنا و لري
ښومره والی: کميت

((ځ))

ځان تېرېدنه: سرښندنه، ايثار
ځبيښاک: استثمار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځغلا: ځغاستل

ځور: ازارول

((ح))

حاجت: اړتيا

حب: مينه

حجاب: پرده، چادري

حديث: وينا (د حضرت محمد (ص) وينا)

حلم: نرمي

حيثيت: درنښت، دريځ

حايل: پرده

((خ))

خرافاتي: پوچ، بې معنا

خس: لرګي، خاشاک

خفي: پټ

خلعت: هره جامه چې د ناوې کورنۍ يې زوم يا د هغه کورنۍ ته ورکوي، د لوبانو له خوا کشرانو ته هر ورکړ شوی سوغات

خول: تاج

خوله خوځول: اعتراف کول، وعده کول

خير: هغه شي يا کار چې د نيمګړتيا يا بريالیتوب لامل وي

((د))

دايرة المعارف: د علم، ادب، هنر، ورزش او هغوی ته ورته د نورو شيانو په اړه د بشپړو معلوماتو کتاب چې معمولاً د الفبې په سيستم پيليږي، انسايکلوپيډيا

در: مرغلره

دريځ: مقام

دعوت: بلنه

دمه: استراحت

دود: رواج

دوديز: رواجي

ديت: خونبها

((ډ))

ډال: سپر

ډالي: سوغات، بخشش، تحفه

((ذ))

ذقن: زنه

ذکر: د خدای يادول

ذهنيت: د تفکر، ليد يا قضاوت يو ډول،

((ر))

رېږه: ستونزه

رجوع: ورګرځېدل

رحمت: زړه سوی او مهرباني

رسالت: د خدای له لوري د پيغام راوړل، د چا پر اوږو د يوې دندې يا مسؤوليت اچول

رضوان: جنت

(c) ketabton.com: The Digital Library

رقت: زړه سوی

رعیت: د یوې خاورې ټول وګړي چې د یو حکومت تابع وي

رغنده: سم، روغ

رموز: د رمز جمع، پټ، راز،

روحاني: هغه څوک چې په مذهبي چارو بوخت وي، مذهبي شخصیت

روغی: روغتیا

رومان: نثري داستان چې پېښنو یې د انسان له ژوند څخه سرچینه اخیستې وي او معمولاً په کې زیات شمېر شخصیتونه او پېښې موجودې وي.

رونق: د کسب او کار غوښتل شوی او فعال بهیر

روهي: په روه پورې اړوند، روه د پښتنو سیمه

روږدی: معتاد، اموخته

ریا: د ظاهر او باطن نه یووالی، په ځانګړې توګه ځان پاک لمنی او نیک عمله معرفي کول

ریاضت: د روح د تزکیې لپاره د زیات عبادت او غریزو د پرېښودلو له لارې د ستونزو او سختیو ګالل

رېږدلو: رېږدېدلو

((ز))

زایل: له منځه تلونکی

زرغا: زرغون، شین والی

((ژ))

ژانر: (فرانسوي کلمه ده.) د ادبي او هنري اثرونو ځانګړې بڼه

ژست: د غړو د خوځولو ډول چې یوڅوک یې خپلو غړو او خبرې ته ورکوي

ژمنه: وعده

ژوبله: جګړه او ټپي کول

ژوبلور: جنګیالی

ژورنالیزم: د ورځپاڼې لیکنې علمي او فني لار

ژوي: ساکښان

((س))

ساوتګاه: سترې ستومانه

سایل: سوالګر

سار: ساری، بېلګه

سپار: د کرنې وسیله، سپاره

سترتوب: ریاست

ستي: سوی، ډېر سوی

ستړه: بېخ

سجع: په وزن او قافیې کې هماهنګي

سجین: دوزخ، د اور کنده

سخ: مرغ، بخت

سخا: ورکړه

سراب: د شیانو خیالي انځورونه چې په تودې هوا کې په دښتو یا واټونو کې د نور د وړانګو د انعکاس څخه رامنځته کېږي او د اوبو په څېر ښکاري.

سرغړوونکي: متجاوز

سرور: خوشالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سعد: نیک

سکنېي: سکڼل، سکښتل، پرې کول

سلاکار: سلا ورکوونکی، مشاور

سلوک: لاره، چلن، د روحي پړاوونو وهل چې یو سالک د هغې له لارې نفس تزکیه کوي. (پاکوي)

سما: سم، اصلاح

سنتي: له پخوا څخه دود شوی، پخوانی ریښه ولري.

سه، (ساه): اروا، نفس

سهیل یا سویل: جنوب

سوګوار: غمجن

سېلاني: سیل کوونکی، ګرځندوی

((ښ))

ښکارندوی: څرګند

ښکېلاک: استعمار

ښګېڼه: فایده،نېکي

ښکې: ښکته، کوز، لر

((ش))

شئونات: اړخونه، جنبې

شار: ښار

شخصیت: د ثابتو او پرله پسې صفتونو او ځانګړتیاوو منسجمه او واحده ټولګه چې یو فرد له بل څخه توپیروي؛ د یو شخص غوره صفتونه چې د نورو په وړاندې د یو چا د اعتبار او درناوی لامل کېږي.

شریعت: طریقه، لاره

شفاهي: په خوله کې، وینایي

شنار: شوم، نامبارک، ننګ او عار ...

شهامت: زړورتیا

شهزی: د پاچا لور

((ص))

صحه: تایید، لاسلیک

صلاح: وړ او مناسب، ګټور

((ط))

طریقت: لاره، د نفس د تزکیې له لارې د حقیقت د ترلاسه کولو سلوک، مسلک،

طنز: په شعر یا نثر د ادبي بیان لار چې پکې فردي او ټولنیز عیبونه او نیمګړتیاوې په خندوونکي ډول برسېره کېږي. موخه یې د بشري چلن سمول وي.

((ظ))

ظلمت: تیاره

((ع))

عار: شرم

عارف: هغه څوک چې د ریاضت، د نفس د تزکیې او تفکر له لارې خدای پېژني

عاصي: ګنهکار

عبقریت: پیاوړتیا، له هرې لارې بشپړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

عرفان: د خدای د معرفت لاسته راوړل د رياضت، د نفس د تزکيې او تامل له لار پلټنې.
عسس: څوکيدار، (په ځانګړې توګه د شپې له خوا)
عطف: ترونې

((غ))

غبرګ: ورتاوول
غبرګون: عکس العمل
غچ: بدله، انتقام
غرج: غرجستان
غرور: لويي
غندي: غندل، بد ويل

((ف))

فرهنګ: د دود او دستور، فکر، هنر او د ژوند د لارې پېچلې ټولګه (مجموعه) چې د ولسونو په تاريخي بهير کې تجربه شوې اونورو نسلونو ته د لېږدېدنې وړ وي.
فصاحت: د وينا رواني او څرګندتيا
فصيح: څرګند
فضل: په پوهې، اخلاقو او هنر کې غوره والی، لطف، پام
فطرت: ذاتي ځانګړتياوې، پيدايښت
فقه: اسلامي پوهه چې موضوع يې د شرعي احکامو د څانګو پېژندنه او د ژوند له ورځنيو چارو سره يې سمول وي.
فقير: بېوزلی، سالک
فلاح: خلاصي، بېغمي
فلک: اسمان، د اووه ګونو اسمانونو هره پوړۍ، په پخواني نجوم کې يې د سپوږمۍ (قمر)، عطارد، زهرې، لمر، مريخ، مشتري او زحل موقعيت له لومړې څخه تر اووم اسمانه پورې تصورول.
فن: هغه کار چې ورتيا، پوهې او تجربې ته اړتيا ولري.

((ق))

قدسيت: پاکي، سپېڅلتيا
قصور: لټي، نيمګړتيا، عيب، د هند په پنجاب کې د يو ځای نوم دی.

((ک))

کامل: هغه څوک يا شی چې ټولې لازمې ځانګړتياوې ولري او لړوالی، نيمګړتيا ونه لري.
کالي، کونډې: د کور لوښي (فرش و ظرف)
کاهل: لټ، تنبل
کراړ: سخت
کرم: لطف، احسان، ځواني
کرونولوجي: هغه پوهه چې د پېښو زماني پوړکي او مخينه ارزوي او څېړي.
کلانکار: متکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنایه: پټه خبره چې د ټاکلې او خاصې معنا لپاره کارول کېږي.
کهربا: کلک شوی پټکری، معمولاً ژیړ رنګ لري. شفافه او یا نیمه شفافه وي. ساکنه برېښنا لري، نوځکه بوس او واښه راکاږي. د سینګار (تزیین) لپاره کارول کېږي. په درملو کې استعمال لري.
کوثر: د جنت یوه چینه
کوکار: ناري سوري
کولیان: کولي؛ مسلي، هغه خلک چې په کال کې څو ځلې له یوځای یا یو ښار څخه بل ځای او ښار ته کوچیږي او د سندرو ویلو، فال کتلو او نورو دنده لري.
کومیکه: خندنۍ
کتهار: د زرکې ناري
کډوالي: مهاجرت، بل هېواد ته کوچېدل
کړاو: ستونزه، زحمت
کــرم: ټپي،زخمي
کرمن: له کړاوه ډک
کړونګی: ځروبی، آبشار
کیاری: کوراړې، د سبو او ترکاریو پټی

((ګ))

ګانه: پسول، زېور
ګایل: ټپي
ګداز. ویلي کېدل
ګردښت: ګرځېدل
ګواښ: تهدید
ګوزڼ: فلج
ګړنګ: کنده

((ل))

لا یمس: لاس پرې مه وهه
لاسوندی: سند، ثبوت
لامل: عامل
لاهو: د اوبو پرسر
لاښونو: لاښ
لرغونی: ډېر پخوانی
لویه ورځ: قیامت

((م))

مبعوث: ګومارل شوی، لېږل شوی
مترادف: د یو شان معنا لرل
مجاز: (د میم په پېښ) روا، جایز
مجاز: (د میم په زور) له خپل معنا پرته یوه کلمه پر بلې معنا کارول، غیرواقعي
مسا: موسکا
مستدلې: په دلیل او برهان ثابته شوې، منطقي
مراندې: د کېږدۍ پړې، (د زړه مراندې)
ملکه، ملکات: ځانګړنه

((ن))

ناتار: بد حالت
ناخوال: ناخواله: ناخوالې: ناغوښتل شوی شی یا کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

نامنلی: خراب، د نه منلو
نبوغ: زیاته پوهه او وړتیا
نتلی: ځېلی، خوار
نثار: قربان
نجوم: د ستورو پېژندل
نحس: بد
ندرت: کله ناکله
نشات: راولاړ شوی
نص: آیت
نصوص: آیتونه
نغاړي: تاووي، (نغښتل)
نغښتی: پېچلی
نمنځۍ چار: متقي، پرهیزګار
نهضت: غورځنګ
نهیلی: نا هیلی، نا امید، مایوس
نولیدل: غمګینیدل
نویل: عیسوي اختر
نیسان: د پسرلي فصل
نیواک: استعمار

((هـ))

هیبت: له درناوي سره ګډ ډار چي ځوک یې په چاکي پیدا کوي. ډار، پرتم

((و))

وجدان: د هرچا په باطن کي پټ ځواک یا حس چي د هغه/هغې د پوهې لامل شوی او د هغې له لارې د چال چلند ښه والی له بدوالي شخه بېلوي او تر قضاوت لاندې یې نیسي. د حق او ناحق په وړاندې د یو چا د غبرګون وړتیا
وراره: ورور مرې
ورتې: د اوښکو تویېدل
ورکړه: سخا
وسوس: اندېښنه
وقار: حیثیت، درنښت
ولولینه: پرېمنځي
ویاړمنه: سرلوړي
ویرژلي: غمجن
ویرمن: غمجن
ویرنه: غم، مرثیه

((ی))

یانه: یون، خوځښت، حرکت، تګ
یرغل: برید، حمله
یسیر: اسان
یقین: ډاډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخځلیکونه:

١ـ ادبي فنون، محمد اقا شېرزاد، د ښوونې او روزنې پوهنځی، ١٣٨٤ کال
٢ـ انترنیت، د تاند ویب پاڼه، د انټرنېټ نورې بېلابېلې پاڼې (سایټونه)
٣ـ په افغانستان کې د ډله ییزو اړیکو د وسایلو لنډ تاریخ، پوهاند محمد کاظم اهنگ ، د سید محی الدین هاشمي ژباړه، د اریک د ګرځنده کتابونو اداره، پېښور، ١٣٨٠ لمریز کال
٤ـ پټه خزانه، محمد بن داود هوتک، دویم چاپ، ١٣٣٩ کال
٥ـ پښتانه شعراء، څلورم ټوک، عبدالله بختانی، ١٣٥٧ کال
٦ـ پښتو ادب کې د مېرمنو برخه، شاجهان، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي، ١٩٩٣م.
٧ـ تفسیر یسیر، مرادعلي رح، لومړی ټوک، چاپ ... کال
٨ـ خیرالبیان د بایزید روښان، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، د پښتو ټولنې په سپارښتنه، ١٣٥٣ کال.
٩ـ خیرالبیان، تصنیف بایزید انصاري، ترتیب، تدوین او حواشي حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي، پېژندګلو مولانا عبدالقادر، پښتو اکیډیمي، پېښور یونیورسټي، جون ١٩٦٧م
١٠ـ د ارزاني خویشکي کلیات، پروفیسور ډاکټرسلما شاهین، ډاکټر پرویز مهجور خویشکی، ډایرکټر پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي، جون ٢٠٠٥
١١ـ د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغوني او منځنۍ دوره)، زلمی هېوادمل ، لومړی ټوک، ١٣٧٩ کال
١٢ـ د پښتو ادبیاتو تاریخ، پوهاند ډاکټر زیورالدین زیور، د ساپي پښتوخېړونو مرکز، ١٣٨٦ کال
١٣ـ د خپلواکۍ مجله، دویمه دوره، لومړی کال، درېمه ګڼه، د بشري حقونو لپاره د د نړیوالو هڅو لنډ تاریخي بهیر، د افغانستان د مطالعاتو مرکز، ١٣٨٣ کال
١٤ـ د زړه خواله، عبدالروف بېنوا، ١٣٤٥ کال
١٥ـ روښان یاد، د بایزید روښان د نړیوال سیمینار د مقالو مجموعه، د حبیب الله رفیع په زیار او اهتمام، پښتو ټولنه، ١٣٥٥
١٦ـ سیرة النبي، الرحیق المختوم، مولانا صفی الرحمن مبارکپوري، ژباړن: عبدالله خاموش هروي، د سیلاب خپرونې. ١٣٨٢ کال
١٧ـ عرفان مجله، سروده های دری مفسر و دانشمند علوم دیني، مرادعلي صاحبزاده، زلمی هېواد مل عرفان مجله، دویمه ګڼه، ١٣٧٠ کال
١٨ـ غوره نثرونه، ګل پاچا الفت، د ١٣٧٣ کال چاپ
١٩ـ فرهنگ ادبیات جهان، زهرای خانلری، شرکت سهامی انتشارات خوارزمی، چاپ اول، ١٣٧٥ کال
٢٠ـ کابل مجله، مرادعلي صاحبزاده، عبدالله بختاني، پښتو ټولنه، لومړۍ ګڼه، ١٣٥٠ کال
٢١ـ کلیله و دمنه، تکانک خپرنیز مرکز، ١٣٨٦ کال
٢٢ـ ویښ زلمیان، عبدالروف بېنوا، پښتو ټولنه، کابل، ١٣٦٦ لمریز کال.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library